

# د افغانستان پارلمان:
# د اساسي قانون لخوا ورکړل شوی واک او له ۲۰۰۱ م
# کال څخه وروسته یې عملي کړنې


داکتر شمشاد پسرلی

زلمی مالیار



وری ۱۳۹۸

UNITED STATES INSTITUTE OF PEACE

څېړنې د ښه افغانستان لپاره

AREU

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
څېړنپاڼه

# د افغانستان پارلمان:
# د اساسي قانون لخوا ورکړل شوی واک او له ۲۰۰۱ م کال څخه وروسته یې عملي کړنې

داکتر شمشاد پسرلی

زلمی مالیار

وری ۱۳۹۸

هغه نظریات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي په لیکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د نظریاتو منعکس کونکي نه دي.

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۴۱-۲۷-۳

ژباړه: هجرت الله صافي

د خپرونې کوډ: ۱۹۰۱ P

©۱۳۹۸ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه کیدای شي یوائې د غیری سوداګریزو موخو لپاره نقل، حواله او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبعه یې خبره شی. په یاده خپرونه کې ځای شوی نظرونه لیکوال پوری اړه لرې او په حتمی ډول د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری او اروپایې ټولنې نظرونه نه منعکوسوی.

که چیری دغه خپرونه بیاچاپ، ذخیره او یا بریښنایې بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af ") ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو يو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲ م کال په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کيفيت او په پاليسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پايلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د پنسيلوانيا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د يو څېړنيز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسيا کې د څېړنيزو بنسټونو په منځ کې په شپږم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پاليسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتيا لوړه کړي او د نظرياتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندويه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځينې نوروسازمانونو، مدني ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کيږي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د بريتانيا د پراسپيکت مجلی (Prospect Magazine) د ۲۰۱۸ کال د نړيوال څېړونکی بنسټ جايزه ګټلې ده.




**مالی مرسته کوونکې:**

د دې اداري مالی مرسته کوونکې د سويډن نړيواله پراختيايي اداره (SIDA) او لاندې نور نړيوال بنسټونه دي:

The European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO), Overseas Development Institute (ODI-UK), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development and Cooperation (SDC), School of Oriental and African Studies (SOAS) and British Council (BC).

**همدا راز دا اداره د لاندې نړيوالو بنسټونو غړيتوب هم لري:**

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

# د متحده ایالاتو د سولې د انسټیټوټ (USIP) په اړه

د متحده ایالاتو د سولې انسټیټوټ د افغانستان له حکومت او مدني ټولنې له بنسټونو سره همکاري کوي چې د قانون د واکمنې د ټینګولو، د تاوتریخوالي او توند لاریتوب ضد، د سوله ییزو زده کړو د پراخولی، او د ښې حکومتولی او فساد ضد هڅو له لارې د بې ثباتي اساسي لاملونو ته پام و اړوي. د غه راز د متحده ایالاتو د سولې انسټیټوټ په افغانستان کې اوسنیو جګړو پوری اړوندو لاملونو په اړه پالیسی څیړنی تقویه کوی.

# د لیکوالو په اړه

ډاکټر شمشاد پسرلی د هرات پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد دی. د هغه د څېړنې ساحه په اساسي مقایسوي حقوقو او د افغانستان د اساسي قانون په تاریخ راڅرخي. د قضایي سیاست، مذهب او د افغانستان د اساسي قانون جوړونې او د اساسي قانون د اصلاحاتو او د اساسي قانون د تفسیر په اړه د هغه علمي لیکنې د اساسي حقوقو په نړیوال ژورنال، د مقایسوي حقوقو په اسیایي ژورنال، د واشنګټن د نړیوالو حقوقو ژورنال او د میشیګن ایالت د قوانینو د بیا کتنې ژورنال په ګډون په ګڼ شمیر نورو ژورنالونو کې خپرې شوې دي.

ډاکټر پسرلي د کابل پوهنتون له شرعیاتو پوهنځي څخه د لیسانس سند لري، او د حقوقو د ماسترۍ او دوکتورا سندونه یې د واشنګټن پوهنتون له حقوقو پوهنځي څخه په (۲۰۱۲-۲۰۱۱) م کلونو کې تر لاسه کړي دي.

زلمی مالیار د هرات پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي استاد دی. د هغه د څېړنې ساحه په اداري حقوقو، اساسي حقوقو، د اداري فساد ضد مطالعات او بشري حقوقو باندې راڅرخي. د ده ډېرې لیکنې په اداري اصلاحاتو، په افغانستان کې د اداري فساد ضد مطالعاتو، په افغانستان کې بشري حقونو، د افغانستان ټاکنیز سیستم، او د افغانستان د حکومتولۍ سیستم په اړه په ګڼ شمېر داخلي او نړیوالو ژورنالونو کې خپرې شوېدي. نوموړی د افغان پریس د رسنیو د حقوقو د تمثیلي محکمې د هغه ټیم لوبډلمشر وو چې د منځني ختیځ د سیالیو اتلولي یې وګټله، چې د اکسفورډ پوهنتون لخوا په مصر کې په لاره اچول شوي وه. ښاغلی مالیار په افغانستان کې د قانون د حاکمیت د موضوعاتو اړونده پوره تجربه لري او د ګڼ شمېر ملي او نړیوالو ادارو لکه د افغانستان د سولې شورا، د هرات د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون او د هرات پوهنتون حقوقي کلینک سره یې د روزونکي او سلاکار په حیث دنده تر سره کړې ده.

ښاغلی مالیار د هرات پوهنتون له حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي څخه د لیسانس سند لري او د تلپاتې نړیوال پرمختګ په برخه کې د واشنګټن پوهنتون د حقوقو پوهنځي څخه د حقوقو د ماسترۍ سند (۲۰۱۷-۲۰۱۲) م لري.

# مننليک

ليکوالان غواړي له ټولو هغه اشخاصو څخه مننه وکړي چې د دې څېړنې د مرکې لپاره يې په اخلاص وخت ورکړی. دوی په همدې توګه غواړي چې له صديقه قاسمي، چې ددوی څېړنيزه مرستياله ده، هم مننه وکړي چې په بېلا بېلو وختونو کې يې د ضرورت وړ معلوماتو په راټولولو کې مرسته کړې او ددې څېړنې لپاره يې د ځينو مرکو زمينه برابره کړه. ليکوالان له هغه متخصصينو څخه هم ډېر زيات مننذوی دي چې د AREU د کنفرانس په خونو کې يې ددې څېړنې لپاره د ګردي ميزونو په بحثونو کې د ګډون په واسطه خپل نظريات وړاندی کړل. ددې تر څنګ ليکوالان د AREU له قدرمنې اداري څخه د هغوی د مرستې او ملاتړ له کبله مننه کوي. بايد يادونه وشي چې ددې څېړنې هره ستونزه او نيمګړتيا يوازې په ليکوالانو پورې تړلې ده.

شمشاد پسرلی او زلمی ماليار

دسمبر ۲۰۱۸

# سریزه

خوشاله یو چې د دویمې مقالې د دریم پړاوپه سلسله کې داساسي قانون په هکله د متحده ایالاتودسولې دانسټیټوټ په همکاری سره وړاندې کوو. په دې پروژه کې دمتحده ایالاتو دسولې دانسټیټوټ دمالي مرستې او ددې مقالې هغه لیکوالانو چې لویه برخه په دې څیړنه کې لرله په کلکه مننه وکړم.

په لومړي پړاو کې، د اساسي قانون په هکله څیړنه د اساسي قانون د اصلاح موضوع ګانو نه چاپیر و ، لکه د قواو جلا کول، انتخاباتي سیستمونه، د ښاریانو بنسټیز حقونه، او لس کال اساسي قانون. په دویم پړاو کې زمونږ لیکوالانو د کال ۱۳۸۲ اساسي قانون په هکله څیړنه او په تیره بیا د اجراییه قواو وده او په افغانستان کې د قضایي سیستم بیا کتنې لړۍ ته یې پراختیا ورکړه.

په دریم پړاو کې، میاشت وړاندې یوه مقاله چې د اساسي قانون د اتمې برخې چې د اداري نظام سره یې تړاو درلود مخ کتنه یې وشوه دغه مقاله چې د ډاکټر شمشاد پسرلي او ښاغلي زلمي ماليار څیړنو په پایله کې تر سره شوه، د افغانستان د پارلمان درج شوي صلاحیتونه په اساسي قانون کې د دوی قانوني کړه وړه یې مقایسه کړي.

په دې مقاله کې لیکوالانو ته دا څرګنده شوه، په داسې حال کې چې د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون لیکوالانو دا یې پتیلي وه چې دوه مجلسه پیاوړې پارلمان جوړ کړي، چې د افغانستان د خلکو څخه نمایندګي وکړي، قانون جوړ او منظور کړي، په اجراییه قواو برلاسي او کنترول ولري، دا مقصدونه څنګه چې پلان شوي و عملي بڼه یې ونه مونده، او پارلمان په لټه کې دی چې خپل واک او قدرت په مستقله او خپلواکه ځانګه کې په مساوي او برابره توګه دولت کې ومني. دا څیړنه ښکاره کوي چې د پارلمان غړي د خپلو قانوني صلاحیتونو پرځای چې د پارلمان د بنسټیزي ښیګړې لامل ګرځي خپلواک او صلاحیت یې خپلو شخصي ګټو ته کارولي او په صحیح توګه یووالي منځ ته نه ده راوړې.

دې څیړنې دا هم ښودلې چې پارلمان په تیرو دیارلسو کلونو کې د اساسي قانون په منظورۍ کې ډیر بریالی نه و.

په همدې حال ډیری داسې بنسټیزي قوانین د پارلمان د رخصتي په ورځو کې د ولسمشر د تقنیني فرمان په اساس منظور شوي، چې دا موضوع د پارلمان هغه قانون جوړونکې ځانګه په دې بهیر کې کمزوروي.

د تیری پارلماني ټاکنو په کتنې سره، ددې مقالې متن په وخت سره بیان شوي. لیکوالانو لنډ مهاله او اوږد مهاله مشوري او سپارښتنې کړي. چې دا کولی شي د اساسي قانون درج شوي صلاحیتونه او د پارلمان کړو ته مرسته وکړي.

هیله منده یمه چې دغه مقاله د یوې سرچینې په توګه هغو کسانو ته چې د هر ډول بالقوه اصلاحاتو او د سیمه ایزو کړنو او د پارلمان د څارنې او ټاکنو سیستم کې ونډه لري مرستندویه وي.

په درناوی

ډاکټر اورځلا نعمت

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداري رئیسه

# د موضوعاتو لیکلړ


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (AREU) په اړه ........ أ

د لیکوالو په اړه ........ ج

مننلیک ........ د

سریزه ........ ه

لنډیزونه ........ ز

د اړینو ټکو لنډیز ........ ۱

وړاندیزونه ........ ۲

په لنډ مهال کې ........ ۲

په اوږد مهال کې ........ ۳

سریزه ........ ۴

کړنلاره ........ ۵

لومړني معلومات ........ ۵

ثانوي معلومات ........ ۵

تاریخي شالید: د افغانستان پارلمانونه (ملي شورا ګانې) ........ ۶

له طالبانو وروسته مرحله: د بن کنفرانس او د ۱۳۸۲ م کال د اساسي قانون تسوید ........ ۸

د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون له مخې پارلمان ........ ۱۰

پارلماني ټاکنې ........ ۱۰

د افغانستان د پارلمان جوړښت ........ ۱۳

اداري هئیات ........ ۱۳

پارلماني کمېسیونونه ........ ۱۳

پارلماني ډلې (ګروپونه) ........ ۱۵

د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون کې د پارلمان دندې او واکونه ........ ۱۹

په عمل کې د پارلمان دندې او واکونه: ۲۰۰۵-۲۰۱۸ ........ ۲۲

په عمل کې د پارلمان د قانون جوړونې واک ........ ۲۳

په عمل کې د پارلمان د څارنې واک ........ ۲۵

د پارلمان د استازیتوب واک ........ ۲۷

د افغانستان د پارلمان پر وړاندې ننګونې ........ ۲۸

نه مناسب ټاکنیز سیستم او په لوړه کچه ویشل شوی پارلمان ........ ۲۸

د پارلمان د دندو او واکونو ګونګ حقوقي چوکاټ ........ ۳۰

د اجرائیه قوې او پارلمان کړکیچنه اړیکه ........ ۳۳

پایله ........ ۳۵

وړاندیزونه ........ ۳۶

د یو خپلواک او حکومت سره د شریکې-مساوي ځانګې په توګه د پارلمان په اړه ........ ۳۶

د واحدې غیر قابل انتقال رایې د سیستم تغیر ........ ۳۶

د پارلمان د څارنې د دندو په اړه ........ ۳۸

اوله ضمیمه: د ولسي جرګې او د مشرانو جرګې کمیسیونونه ........ ۳۹

دوهمه ضمیمه: د زده کړو پر بنسټ د ولسي جرګې ترکیب ........ ۴۱

د سرچینو لیکلړ ........ ۴۲

د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداری نوی خپرونی ........ ۴۶

# لنډيزونه

| | |
|---|---|
| CDC | د اساسي قانون د تسويد کميسيون |
| CRC | د اساسي قانون د تدوين کميسيون |
| CLJ | د اساسي قانون لويه جرګه |
| IEC | د ټاکنو خپلواک کميسيون |
| IECC | د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون |
| ICSIC | د اساسي قانون پر تطبيق د څار کميسيون |
| IRPWJ | د ولسي جرګې د کورنيو کړنو اصول |
| KEI | د کليدي ماهرينو مرکه |
| MJ | مشرانو جرګه |
| MML | د ټوليزو رسنيو قانون |
| MJRIP | د مشرانو جرګې د کورنيو کړنو اصول |
| NEIC | ملي بريښنايي پېژندپاڼې |
| PR | متناسبه استازولي |
| RTA | د افغانستان د ملي راديو تلويزيون اداره |
| SNTV | واحده غير قابل انتقال رايه |
| SMD | د واحد غړي ټاکنيزه حوزه |
| WJ | ولسی جرګه |

# اجرائیه لنډیز

په یوه دولت کې د لوړ کچې بنسټونو ، قانون جوړوونکې یا پارلمانونو ته د خلکو د ارادو د ښکاره کوونکو او تمثیلوونکو په توګه کتل کېږي. پارلمانونه د درېو اساسي دندو په اجراء سره د یوه ملت په ژوند کې اړین رول لوبوي. دغه درې دندې (۱) د قانون جوړولو ، بدلون راوستلو ، او ردولو ، (۲) په اړوند د پریکړه نیولو په ټولو مرحلو کې د خلکو د غوښتنو او نظریو استازیتوب، او هغې ته لوری ورکول، او (اجرائیه قوه تر څارنې لاندې نیول تر څو دا خبره یقیني شي چې حکومت خلکو ته حساب ورکوونکی دی). ددغه درېو اساسي دندو په بریالیتوب سره سر ته رسول یوه غښتلي، اغیزمن او ګټور پارلمان ته اړتیا لري. د اساسي قانون واضح مواد چې د پارلمانونو واکونه ، د بنسټیز شوو (نهادینه شده) سیاسي ګوندونو د شتون کلتور، د پارلمان د ټاکلو لپاره د یو سم سیستم شتون، د پارلمان د کار کولو په اړه د کړنلارو روښانتیا ، او د هېواد د اجرائیه قوې او پارلمان تر منځ د تعمیري (ښو ) اړیکو شتون د یو اغیزمن او بریالي پارلمان د رامنځته کیدلو او دوام لپاره ډېر اړین دي. ددغه شرایطو د نه شتون په صورت کې به له هغه څه کمې لاسته راوړنې ولري د کومو چې خلک هیله لرې، او همدارنګه به د اجرائیه قوې د کړنو په څار کې به هم اغیزمن نه وي.

په سیمه ییز لحاظ په افغانستان کې د یو اغیزمن او بریالي پارلمان په اړه لیدلوري ډېر ژمن نه ښکاري. افغانستان د پیاوړي مشرانو اوږد تاریخ لري چې دغه مشرانو هیڅکله پخپلو واکونو باندې څار قبلیدل ندی کړی. افغانستان د قواوو جلاوالي، خپلواک ملي پارلمان، د اساسي قانون او د سیاسي پرمختیاوو پروسې ته د شلمي پیړۍ په پیل کې داخل شوی دی. د یو ملي پارلمان د رامنځته کولو نظریه په لومړي ځل په **۱۹۲۳** م کال کې د افغانستان د لومړني تدوین شوي اساسي قانون د مسودې رامنځته کوونکو تر بحث لاندې ونیوله، خو دغه سند رسماً یو ملي پارلمان رامنځته نکړ. په حقیقت کې دا د **۱۹۶۴** م کال اساسي قانون وو چې په اغیزمنه توګه یې د اجرائیه، قضائیه او مقننه قواوو تر منځ جلاوالی رامنځته کړ، او د افغانستان په تاریخ کې یې په لومړي ځل داسې ملي پارلمان رامنځته کړ چې د خلکو لخوا ټاکل شوی وو. د یادونې وړ ده چې ددې پارلمان سره د افغانستان تجربې لنډی وی، ځکه هېواد د پرمختګ لپاره مناسب شرایط نه درلودل او پارلمان د دولت د مشر لخوا د پرلپسې فشار لاندې وو. له **۱۹۷۳**م کال راهیسې، کله چې د **۱۹۶۴** کال د اساسي قانون نظام له منځه لاړ، تر **۱۳۸۲** کال پورې، کله چې اوسنی اساسي قانون رامنځته شو ، افغانستان یو وحشتناکه کورنۍ جګړه او د یو لړ نظامونو بدلون تجربه کړ.له دغه نظامونو څخه هیڅ یو ونکړای شو چې یو اغیزمن پارلمان رامنځته کړي.[1]

د **۱۳۸۲** کال اساسي قانون د مسودې جوړونکو وپتېیله چې یو قوي پارلمان رامنځته کړي او د پخوانیو اساسي قوانینو په نسبت یې زیات چک او برابروالي رامنځته کړ. دوی یو دوه مجلسه پارلمان رامنځته کړ او د پام وړ تقنیني او د څارنې واکونه یې ورکړل. د **۱۳۸۲** کال اساسي قانون اساساً داسې رامنځته شوی وو چې دوه مجلسه پارلمان ته د عادي افغانانو د استاریتوب، د اړینو قوانینو د رامنځته کولو ، او د اجرائیه قوې د کړنو د کنترولولو لپاره ځانګړی نقش ورکړ. د اساسي قانون د مسودې جوړونکې پدې تمه و چې ددغه واکونو په ورکولو سره به پارلمان ډېر زیات اغیزمن وي، او د اساسي قانون لخوا د پارلمان لپاره په نظر کې نیول شوي واکونه به د کار په تر سره کولو کې ګټوره ونډه ولوبوي.

اما څرنګه چې ددې څېړنې موندنې ښیې، پارلمان په درې واړو ساحو کې له هغه څه کمې لاسته راوړنې لري، کومې چې په **۱۳۸۲** کال یې تمه کېده. پارلمان هڅه کړې ده چې ځان یو خپلواک او د حکومت مساوي بنسټ مطرح کړي. پارلمان ونکړای شول خپل ځینې واکونه داسې و کاروي چې د یو بنسټ په توګه خپلې وړتیاوې ښې کړي. برعکس، داسې ښکارې چې د ملي شوراء غړو خپل دغه واکونه (لکه د ملي شوراء حق چې حکومت استیضاح کړي، او وزیران له دندو ګوښه کړي) ددې لپاره کارولي دي چې خپلې شخصي، قومي، مذهبي او سیمه ییزې ګټې خوندي کړي. پارلمان په تیرو دوو لسیزو کې په یوه همغږې توګه عمل ندی کړی، او د یو بې ډسیپلینه او پاشلي ارګان په توګه یې عمل کړی. په همدی ډول، داسې معلومېږي چې حکومت په ډېری وختونو کې پارلمان له پامه غورځولی دی، په کمو مواردو کې یې د پارلمان د پریکړو اړوند عمل کړی، او ددې پر ځای یې هڅه کړې ده چې د پارلمان ارزښت په هره شونې طریقه تیر کړي.

همداراز، د خپل تقنیني رول په توګه هم پارلمان پوره بریالی نه دی. په تیرو **۱۳** کلونو کې، پارلمان یوازې پنځه تقنیني سندونه د خپل نوښت په توګه په تصویب رسولي دي همداراز څېړنې وموندله چې د **۱۳۸۲** کال اساسي قانون داسې احکام ځای په ځای کړي دي چې د یو واحد تقنیني ارګان په توګه د پارلمان رول کمزوری کوي. د بیلګې په توګه، اساسي قانون حکومت ته واک ورکوي چې تقنیني اسناد تسوید او رامنځته کړي پر ته له شکه، دغه تقنیني اسناد دې ته اړتیا نلري چې د ملي شوراء تائید تر لاسه کړي. په همدې توګه، اساسي قانون ولسمشر ته هم واک ورکوي چې د اجرائیوي فرمانونو په واسطه د ملي شورا د رخصتیو پر مهال کې تقنیني اسناد رامنځته کړي. په دې خاطر چې د ولسمشر فرمانونه پلي شي، اساسي قانون دا شرط رامنځته کړی چې د ولسمشر فرمانونه باید د پارلمان لخوا تائید شي، خو شواهد ښیې چې ډېر دغه ډول فرمانونه د تائید لپاره ملي شورا ته نه دي لېږل شوي.

---

۱ کارول وانګ «په افغانستان کې د قانون حاکمیت: د سیمه ییزی حساب ورکونې لپاره د اساسي قانون له مخې یو چوکاټ رامنځته کول» د هارواد د نړیوالو حقوقو خپرونه **۵۵** (۲۰۱۴): ۲۴۹-۲۱۱، ۲۱۹-۲۱۸.

# وړاندیزونه

په تیرو ۱۴ کلونو کې د اساسي قانون پلي کیدو ددغه قانون نیمګړتیاوې ښکاره کړې، او هغه ځایونه یې په ښه کړل چې جدي پاملرنه او تعدیل ته اړتیا لري. یوه دغه ساحه چې باید د اساسي قانون د اصلاح په اجنډا کې ځای و نیسي د پارلمان واکونه او مسئولیتونه دي. په ځانګړې توګه، افغانستان باید د اساسي قانون د موخی او د ملي شوراء د کړنې د ښه کولو په خاطر لاندې ګامونه پورته کړي:

## په لنډ مهال کې

**د افغانستان د ټاکنیزو بنسټونو پیاوړې کول**

د پارلمان د ټاکلو او ټاکنیزو شکایتونو ته د رسیدنې لپاره د افغانستان ناقص سیستم هر ځل د ټاکنو تر سره کولو په وخت سیاسي ستونزی رامنځته کړی دی. ټاکنیز شکایتونه هر ځل پرته له دې چې ټاکنیز بنسټونه (د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون) په کې دخیل وي، د سیاسي او قضایې میکانیزمونو له لارې حل شویدي.۲ افغانستان به ونکړای شي چې د کمزورو ټاکنیزو بنسټونو په شتون کې بریالی دیموکراتیکې ټاکنې تر سره کړي. د ټاکنو کمیسیون دغړو د غوراوي لپاره د یوه روښانه سیستم رامنځته کول او د هغوی د ریښتینولی او سم والي لوړول، او داسې روښانه اصول چې د ټاکنو او ټاکنیزو شکایتونو کمیسیونونو دندې او جوړښت ځانګړی کړي، رامنځته کول به وکړای شي دغه دوه ټاکنیز بنسټونه پیاوړي کړي. د افغانستان وروستي پارلماني ټاکنې چې د ۲۰۱۸ م کال په اکتوبر کې ترسره شوې، یو ځل بیا د ټاکنو او ټاکنیزو کمیسیونونو ستونزې رابرسیره کړې. پرته له دې چې دغه ټاکنیز بنسټونه اصلاح شي، افغانستان به ونکړای شي چې بریالۍ ټاکنې ترسره کړي.

د رایو د نه لیږد وړ واحد سیستم بدلول

دې ځیړنې موندلې ده چې د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون له مخې رامنځته شوی پارلمانونه تر ډیره حده پاشلي، او بې ډسپلینه بنسټونه وو، او دا وړتیا یې نه لرله چې په یوه همغږي او واحده توګه د اجرائیه قوې په مقابل کې عمل وکړي، او ددې کار سبب د پارلمان د غړو د ټاکلو لپاره د واحدې غیر لیږد رایې د سیستم شتون دی. ددې لپاره افغانستان ته پکار دي چې ددغه سیستم پر ځای داسې سیستم رامنځته کړي چې په پارلمان کې همغږي او یووالی رامنځته شي. ډېر متخصصین فکر کوي چې د متناسبې استازۍ ځینې شکلونه او په واحده حوزه کې د زیاتو رایو ګټونکی سیستم، یانې د واحد غړي کوچنۍ حوزې دې وکارول شي.

د پارلمان د څارنې د قانون رامنځته کول

د افغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون پارلمان ته داسې د پام وړ واکونه ورکړي دي چې هیڅ پخواني اساسيقانون نه وو ورکړي، خو پارلمان دغه واکونه هیڅکله په اغیزمنه توګه نه دي کارولي. پارلمان باید خپل واکونه په سیستماټیکه توګه وکاروي، په تېره بیا د وزیرانو د تائید او عزل یا لیری کولو واک. په دې اړه باید داسې یو قانون رامنځته شي چې په روښانه توګه دا تعریف مشخص کړي چې پارلمان کله او څرنګه د څارنې میکانیزمونه (احضار، استیضاح، استجواب، او د نه باور رایه) وکاروي. دغه قانون به لدې بیا د نه باور د رایې پایلې هم روښانه کړي.

د منظمو پارلماني ګروپونو (ډلو) رامنځته کولو لپاره هڅونه

د واحدې نه لیږد (SNTV) وړ رایې سیستم چې په افغانستان کې د پارلمان د ټاکلو لپاره کارول کیږي د پارلماني ټاکنو لپاره د سیاسي ګوندونو په هڅولو کې اغیزمنې ندی، بلکې برعکس په لوړه کچه یې د یوه ویشل شوي پارلمان رامنځته کیدو ته زمینه برابره کړې ده. په همدې اساس، په تیرو دوو دورو کې پارلمان په یوه یوائینې توګه د عمل کولو په برخه کې بریالی نه وو، او هیڅکله د یو منظم بنسټ په توګه څرګند نه شو. د پارلماني ګروپونو رامنځته کول به پدې اړه یو ګټور متبادل وي. پارلمان باید کوټلي او جدي ګامونه واخلي او د یو لړ نظریاتو او لیدلوریو له مخې ګروپونه رامنځته کړي، نه د ځواکمنو افرادو شاوخوا د راټولیدو له مخې. دا کار به وکړای شي په پارلمان کې د یووالي رامنځته کولو په برخه کې مرسته وکړي، او د څار په برخه کې به د اجرائیه قوې په کړنو په زیاته همغږي سره عمل وکړي.

۲ د بیلګې په توګه، د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو شخړه له قضایي لارو حل شوه. په حقیقت کې، ولسمشر کرزي یو ځانګړې محکمه تصویب کړه چې ظاهراً یې نوموړې ستونزه او بحران حل کاوه. په همدې ډول په افغانستان کې هغه کشمکشونه چې د ۲۰۱۴ کال له ټاکنو وروسته رامنځته شول، د شخړې د دواړو لوریو، اشرف غني او عبدالله عبدالله تر مینځ د یوې ځانګړې هوکړې له لارې حل شول. د نوموړو شخړو په حل کې ټاکنیز بنسټونه منزوي شوي وو او په دې برخه کې یې هیڅ رول نه درلود.

## په اوږد مهال کې

د افغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون تعدیلول او د اساسي قانون له مخې د پارلمان د واکونو روښانه کول

د افغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون داسې احکام لري چې د پارلمان د قانون جوړونې ماموریت په ښکاره توګه راکموي (د بېلګې په توګه، د تقنیني فرمانونو په واسطه قانون جوړونه، د حکومت واک چې د پارلمان لاسوهنې پرته حقوقي احکام رامنځته کړي). پرته له دې چې د اجرائیه قوې د قانون جوړولو واک محدود شي، د پارلمان د قانون جوړونې واک به همداسې کم پاتې شي. په همدې توګه، اساسي قانون پدې اړه ابهام لري چې د پارلمان پنځه کلنه موده کله پای ته رسیږي. په ۲۰۱۵ کال کې کله چې د پارلمان د کار موده پای ته ورسېده، دې ابهام پرته له شکه یو قانوني کړکیچ رامنځته کړ، خو حکومت ونکړای شو چې پر وخت ټاکنې تر سره او بل پارلمان وټاکي. په همدې اساس، د اساسي قانون یو تعدیل باید په روښانه توګه د پارلمان د قانون جوړولو اختیار تصریح کړي، او تر ټولو اړینه دا چې د پارلمان د کار موده مشخصه کړي.

د اجرائیوي-تقنیني شخړو د حل یو روښانه میکانیزم رامنځته کول

د افغانستان په اساسي قانون کې په واضح توګه یوه تشه د یوې اجرائیوي-تقنیني ستونزې د حل لارې د میکانیزم نشتوالی دی. ستري محکمې څو ځلې هڅه وکړه چې سیاسي شخړې حل وفصل کړي، مګر د دغه کار په اړه د سترې محکمې واک په سخت ډول وننګول شو، او پدې توګه ستره محکمه اوس دا هڅه نه کوي چې بیا دا کار تکرار کړي. په همدې خاطر، افغانستان داسې یو بیطرفه ادارې ته اړتیا لري چې د اجرائیه او مقننه قوې تر منځ شخړې حل کړي. داسې ښکاري چې د افغانستان په سیاسي طبقه کې یو زیاتیدونکې اجماع رامنځته شوې ده تر څو اساسي قانون یوه ځانګړې محکمه رامنځته شي او دغه محکمه باید دا واک ولري تر څو د اجرائیه او مقننه قوې تر منځ ستونزې حل و فصل کړي. سره له دې چې د دغه ډول محکمې د رامنځته کولو لپاره به په اساسي قانون کې نورو تعدیلاتو ته اړتیا وي، بیا هم دا یو اغیزمن وړاندیز دی.

# سریزه

افغانستان هېواد د پیاوړیو مشرانو اوږد تاریخ لري. د افغانستان واکمنانو د ۲۰ مې پېړۍ تر نیمایي پورې د قواوو د تفکیک (جلاوالی) نظریه عملي نکړه. که څه هم د هېواد په تاریخ کې په لومړي ځل د ۱۹۲۴م کال د اساسي قانون د مسودې جوړونکو اجرائیه، قضائیه او مقننه قوه سره بیل کړل،[۳] په عمل کې افغانستان د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون تر خپرېدو پورې د قواوو جلاوالی و نه لید. د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون د اجرائیه قوې دځارلو ډېر میکانیزمونه رامنځته کړي دي، او د نورو قوانینو په نسبت یو قوي دوه مجلسه پارلمان رامنځته کوي او د پام وړ تقنیني او د څارنې واکونه ورکوي. پرته له شکه د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون پداسې توګه لیکل شوی دی تر څو پارلمان ته د عادي افغان اتباعو د استازولۍ، د اړینو قوانینو د رامنځته کولو، او د اجرائیه قوې له خوا د واک څخه د تجاوز د کنترول لپاره د پام وړ رول ورکړي.

د تیرې یوه نیمې لسیزې تجربې ښیې چې سره ددې چې اساسي قانون پارلمان ته د پام وړ تقنیني او د څارنې واکونه ورکړي، پارلمان کوښښ نه دی کړی چې د یو واحد بنسټ په توګه راڅرګند شي، او د اساسي قانون له خوا د ورکړل شوي واک د تر سره کولو لپاره یې په یوه همغږې بڼه عمل نه دی کړی. اجرائیه قوې هم د مقننه قوې پریکړو ته د نه پاملرنې او د ډېر زیات تقنیني واکونو په کارولو سره د مقننه قوې د واکونو په کمولو کې خپل نقش لوبولی دی. په پایله کې ددغه دوه قواوو تر منځ هیڅکله اړیکې ښې نه وې.

دا مقاله د اوسني افغان پارلمان په اړه د لاندې درېو اساسي پوښتنو اړوند د یوې تجربوي څېړنې موندنې وړاندې کوي: (۱) د افغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون دوه مجلسيز پارلمان ته کوم واکونه ورکوي؟ (۲) په عمل کې په تیره یوه نیمه لسیزه کې د افغانستان په پارلمان خپل قانوني واکونه څه ډول کارولي دي، او ایا دوی د افغانستان د اساسي قانون د جوړونکو د تمو اړوند کړنې تر سره کړي دي او که نه؟ (۳) کوم شی به په افغانستان کې د یو بریالي پارلمان انځور وړاندې کړي؟ ددې څېړنې موندنې ښیې چې؛ که څه هم په مقایسوي توګه د افغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون پارلمان ته په تیوریکي لحاظ کافي واکونه ورکړي دي، خو پارلمان له هغه څه کم عمل کړی دی چې تمه کېده. قومي سیاستونه، د پارلمان په ټاکنو کې ناسم ټاکنیز سیستم (د واحدې غیر قابل انتقال رایې سیستم)، د سیاسي ګوندونو او منظمو پارلماني ډلو نشتوالی، په پارلمان کې شته وېشلې حالت، په پارلماني چارو کې د اجرائیه قوې لاسوهنه، په پارلمان کې د انفرادي او بنسټیزې ورتیا نشتوالی، سالاربازي او د پارلمان د غړو د رایې اچولو د څرنګوالي په اړه (چې هغوی خپله رایه څه ډول کارولې ده) د عامه حساب ورکونې نشتوالی. هغه څه دي چې په تیرو دوو دورو کې یې د پارلمان پر کړنو منفي اغیزه کړې ده.

داسې ښکاري چې پارلمان ډېری وختونه خپل واکونه د وکیلانو د شخصي موخو د پرمخ بېولو او لاسته راوړلو په خاطر کارولي دي، ددې پر ځای چې د یو بنسټ په توګه یې د خپلې بقاء او د یوې واحدې، خپلواکې، او د حکومت د یوې شریکې-مساوي برخې په توګه د خپلې ورتیا لپاره کارولې وای. د پارلمان ځینې تر ټولو اړین واکونه او دندې (د حکومت د کړنو د تفتیش لپاره د ځانګړو کمیسیونونو رامنځته کول) چې د پارلمان د څارنې رول قوي کوي، یا خو کارول شوي نه دي او یا په غیراغېزمنه توګه کارول شوي دي. د پارلمان د قانوني واک په اړه مبهم حقوقي اډانه، د شخص-مربوط سیاستونه، د پوهې نشتوالی، او د رایه ورکوونکو له خوا د پارلمان د غړو د ځواب وېنې په خاطر د یو اغیزمن میکانیزم نشتوالی له هغه اصلي فکتورونو څخه دي چې د پارلمان د هغه ورتیاوو په وړاندې یې خنډونه جوړ کړي چې د څارنې هغه واکونه و کاروی چې د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون ورته ورکړي دي.

دا مقاله لومړی په افغانستان کې د پارلمانونو لنډ تاریخ تر بحث لاندې نیسي او د سیالی(رقابتي) سیاستونو په اړه قانوني چارچوکاټ ارزیابي کوي. وروسته په دې بحث کوي چې څرنګه د منظمو سیاسي ګوندونو او ډلو پرته تقریباً یوې نیمې لسیزې د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون له مخې رامنځته شوی پارلمان ته شکل ورکړی او رهبري یې کړې او څرنګه دې کار د پارلمان د فعالیت سره مرسته کړې یا یې د هغې مخنیوی کړی دی. دا مقاله په ځانګړې توګه د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون له مخې د پارلمان په واکونو رڼا اچوي او دا راښیې چې دغه واکونه په عمل کې څه ډول کارول شوي دي. له دې وروسته د اجرائیه او مقننه قوې اړیکې څېړې او ترڅنګ یې دا چې څرنګه دې اړیکو د پارلمان کړنی اغیزمنې کړې دي. مقاله په وروستۍ برخه کې په افغانستان کې د پارلماني سیاست په راتلونکې باندې بحث کوي، ددې اړینې پوښتنې په شمول چې په ۲۰۰۵م کال کې د اوسني پارلمان د دورې په پای ته رسیدلو سره په داسې حال چې د ۲۰۱۸م کال د اکتوبر تر ۲۰ مې پورې ټاکنې ونشوې، د پارلمان کړنې اغیزمنې کړې او که نه؟ په دې اړوند دا څېړنه په افغانستان کې د یو بریالي پارلمان د رامنځته کېدو او په ریښتینې توګه د قواوو د جلاوالي لپاره ځینې اړین میکانیزمونه وړاندې کوي. د ټاکنیز سیستم بدلول او د سیاسي ګوندونو د ودې هڅول به هغه ګټور ګامونه وي چې افغانستان یې باید د پارلمان د کړنو د ځواکمنۍ لپاره پورته کړي.

۳ رینر ګروټ، «په نوي افغان اساسي قانون کې د قواوو بیلوالی،» زاو ر و ۲۴ (۲۰۰۴): ۹۱۵-۸۹۷.

# څېړندود

دې څېړنې د افغانستان د پارلمان د قانوني واکونو په اړه او دا چې څرنګه په تیره یوه نیمه لسیزه کې پارلمان په عمل کې دغه واکونه کارولي دي، لومړنۍ او ثانوي سرچینې دواړه وپلټلې. ددې لپاره چې په دغه پوښتنو رڼا واچول شي، دې څېړنې د ثانوي سرچینو په اړه د سرچینو یوه هر اړخیزه کتنه تر سره کړه. لومړني معلومات د کلیدي متخصصینو د مرکو له لارې راټول شوي.

## لومړني معلومات

ددې څېړنې لپاره، د افغانستان د ۲۰۰۴-۲۰۰۲ کلونو تر منځ د اساسي قانون جوړونې د پروسې او د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون له مخې د رامنځته شوي پارلمان د کړنې په اړه لومړني معلومات راټول شول. د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون جوړونکو، د پارلمان د اوسنیو او پخوانیو غړو، سیاسي شنونکو، د مدني‌ټولنې غړو، د پوهنتون د استادانو او د افغانستان د پارلمان اړونده د بهرنیو متخصصینو سره په ټوله کې ۲۱ مرکې‌تر سره شوې. د کلیدي متخصصینو د مرکو لپاره هر یو متخصص د افغانستان د پارلمان او د هغې د اساسي قانون لخوا ورکړل شویو واکونو په اړه د هغې تجربې په اساس غوره شوی دي. هر متخصص چې ددې څېړنې د مرکې لپاره غوره شوی د افغانستان د پارلمان سره د مسودې جوړوونکې، د پارلمان د غړي، یا په تیرو دوو دورو کې د پارلمان د نږدې کتونکې په حیث دخیل پاتې شوی دی.

ددې تر څنګ، د ۲۰۰۴-۲۰۰۲ تر منځ د افغانستان د اساسي قانون جوړونې د پروسې اړوند ارشیفي مواد چې د کابل پوهنتون د افغانستان په مرکز کې شتون لري هم کتل شوي دي. ډېر دغه مواد په دري او پښتو ژبو دي، او یو څه اندازه یې په انګلیسي ژبه دي. دغه ارشیفي مواد د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون لومړنۍ مسودې لري؛ د اساسي قانون د مسودې جوړونکې کمیسیون د هرې ناستې ریکارد (ثبت)، د اساسي قانون د بیا کتنې د کمیسیون د مختلفو کمیټو راپورونه، د اساسي قانون د لویې جرګې د کمیټو راپورونه، د اساسي قانون د لویې جرګې د پخلاینې د کمیټې راپورونه، او د اساسي قانون د لومړنیو مسودو په اړه د متخصصینو نظریات او نور مواد پکې شامل دي. دغه موادو د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون د تسوید په وخت د پارلمان د جوړښت، واکونو او دندو په اړه ارښتمند مواد برابر کړي.

## ثانوي معلومات

ثانوي معلومات د افغانستان په رسمي ژبو (پښتو او دري) لیکل شوي دي همدا راز په دی کې هغه معلومات شامل دي چې په انګلیسي ژبه د افغان او غربي پوهانو لخوا لیکل شویدي. دغه ثانوی معلومات د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری لخوا لیکل شوي دی چې پخوانۍ لیکل مقالې، او نورو هغه راپورونو دي چې په افغانستان او نړیوالو څیړنیزو سازمانونو، کتابونو، د ژورنالونو مقالو، انلاین سرچینو او د ورځپاڼو مقالې دي.

# تاریخي شالید: د افغانستان پارلمانونه (ملي شورا ګانې)

په افغانستان کې د یو خپلواک ملي پارلمان نظریه په تاریخي لحاظ د امان الله خان د سلطنت دورې او د هغه د **۱۹۲۳** م کال اساسي قانون ته رسېږي.[۴] د یو ملي نماینده پارلمان رامنځته کولو اساسي غوښتونکی د اساسي قانون د ملاتړ هغه تحریک و چې د **۱۹۲۳** م کال د اساسي قانون د رامنځته کېدو یوه لسیزه پخوا یې ددې لپاره مبارزه کړې وه، ترڅو د شاه اجرایوي واکونه محدود شي.[۵]

کله چې امان الله خان په **۱۹۱۹** م کال کې واک ته ورسېده، افغان اساسي قانون غوښتونکو نوموړی قانع کړ، چې د اسې یو پارلمان رامنځته کړي، چې قوانینو یوه ټولګه رامنځته کړي او دولت د هغو په اجرا مکلف کړي.[۶]

شاه امان الله او د هغه د اساسي قانون ملاتړو په حقیقت کې داسې یو پارلمان په نظر کې نیولی وو، چې تقنیني واکونه به ولري او د ملت د ارادې د ښکاره کولو یواځینی سپېڅلی ځای به وي،[۷] خو د **۱۹۲۳** م کال اساسي قانون په حقیقت کې یو پارلمان رامنځته نه کړ، بلکې یوه دولتي شورا یې رامنځته کړه، چې تقیني واکونه یې درلودل او دا یې واضح کړ، چې پارلمان به وروسته رامنځته شي.[۸] مګر، ترڅو چې امان الله خان د واک څخه لرې کېده، دغه وروستنۍ نېټه هېڅکله رانغله (ملي پارلمان رامنځته نشو).

د امان الله خان ځایناستی محمد نادرشاه هم پدې باور وو چې یو پارلمان باید رامنځته شي او رامنخته کېدل یې باید ونه ځنډېږي[۹] بلکې، نادر شاه داسې یو پارلمان په نظر کې نه درلود، چې هلته به د عامو خلکو استازي شتون ولری. مګر داسې یو پارلمان یې په نظر کې نیولی ؤ، چې قبایلي مشران به پکې شتون ولری او هغه خلک چې د هغه سره یې واک ته په رسېدو کې مرسته کړې وه پکې شتون ولري او شاه ته به په دولتي سیاسي مسایلو کې مشورې ورکوي، نه داسې پارلمان چې د شاه واکونه به محدود کړي.

نادر شاه د افغانستان لومړنی پارلماني بنسټ رامنځته کړ، چې په **۱۹۳۱**م کال کې دغه پارلمان یو نوی اساسي قانون رامنځته کړ، چې پر اساس یې یو دوه **مجلسه** پارلمان رامنخته شو، چې یو یې د اشرافو **مجلس** ؤ او بل هم د عوامو **مجلس** ؤ.[۱۰]

د **۱۹۳۱** م کال اساسي قانون له مخې رامنځته شوی پارلمان یو سمبولیک بنسټ ؤ، چې قبایلي مشرانو او شاه ته وفادارو خلکو پکې شتون درلود. د **۱۹۳۱** م کال اساسي قانون د اجرائیه او مقننه قوې ترمنځ جلاوالي را منځته نه کړ.

د محمد ظاهر شاه شاهي کورنۍ (چې ظاهر شاه په **۱۹۳۳**م کال کې د خپل پلار محمد نادر شاه ځایناستی شو) په حقیقت کې ټول دولتي واکونه **تعمیل** کړل.[۱۱]

په**۱۹۵۰**مهلسېزهکېدهېوادټاکنیزسیستمکېاصلاحاتوچېعاموخلکوتهیېدپارلمانډټاکنوحقورکړدیوخالص"لبرالپارلمان"پهرامنځتهکېدو منتجشو، چېدغهپارلماندشاهيکورنۍاستبداديحکومتترګوابنلاندېکړ.[۱۲]مګر، دربولسیزوڅخهپهزیاتهمودهکېد**۱۹۳۱**مکالاساسيقانون په**خپل**قوتباقيپاتېشو، پارلمانپهغیرفعالهتوګهدقوانینودمنظورۍپورېمحدودپاتېشواويا پهسادهډولله‌پامه‌وغورځول‌شو.[۱۳]

---

۴ ماروین ج. واینبوم، "افغانستان:غیرګوندي پارلماني دیموکراسي" د پرمختیایي ساحې ۷ ژورنال، ګڼه ۱. (۱۹۷۲): **۷۴-۵۷**، **۵۸**.

**۵** د مشروطه غوښتونکي غورځنګ په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره، وګورئ عبدالحی حبیبي، په افغانستان کې مشروطه غوښتونکی غورځنګ، (۱۳۷۸) (۱۹۹۹).

۶ امین طرزي، اسلام او مشروطه غوښتونکي په افغانستان کې، د پارسي مطالعاتو خپرونه **۵** (۲۰۱۲)، **۲۰۵-۲۴۳**، **۲۰۷**-۲۱۱.

۷ لوډویک اډامیک، د مصر اړیکې له افغانستان سره، ایرانیکا دایرة المعارف ۳ / VIII ۱۹۹۸، د ترلاسه کېدو وړ ده په

http://www.iranicaonline.org/articles/egypt-x

۸ د افغانستان د علیا دولت اصولنامه [د افغانستان اساسي قانون] (۱۳۰۱) [۱۹۹۲] د **۲۷-۳۹** مادې پورې.

۹ د **۱۹۳۱** کال په جولای کې، نادرشاه له مشورتي شورا سره لیدنه وکړه او ویې ویل، که څه هم ملت تر اوسه پورې پارلمان ته هیڅ لیوالتیا نه لري، زه یوه ملي جرګه دایروم ترڅو د خوشبختۍ اساس وي او د هیواد د رفاه او جوړیدو یوه وسیله. وګوره وینبام، "افغانستان:غیرګوندي پارلماني دیموکراسي،" **۵۸**.

۱۰ د افغانستان د علیا دولت اصولنامه [د افغانستان اساسي قانون] ۱۹۲ (SY ۱۳۰۱)، د **۳۰** - **۴۹** مادې پورې.

۱۱ لویی ډوپري، افغانستان، (د پرینستون مطبعه، د پرینستون پوهنتون **۱۹۷۳**) **۴۹۴**.

۱۲ په **۱۹۴۲** کې، شاه محمود، د ظاهرشاه تره، خپل ورور یې د لومړي وزیر ځایناستی کړ. یو شمیر هغه ځوانو افغانانو چې په لویدیځ کې یې زده کړې وې هغه تشویق کړ تر څو ټولنیز او سیاسي ریفورمونه معرفي کړي. په ځواب کې، شاه محمود ځینې مناسبې هڅې وکړې ترڅو آزادې ټاکنې رامنځته کړي، لږ تر لږه د تیرو ټاکنو په نسبت. په نتیجه کې انتخاب شوی پارلمان په **۱۹۴۹** کې د خارجي مشاهده کوونکو لخوا په (خپلواک پارلمان) باندې ونومول شو. او په دې کې د **۴۰-۵۰** پورې (له مجموعاً ۱۲۰ څخه) اصلاح غوښتونکي غړي وو چا چې په پارلمان کې خپل نقش جدي نیولی وو. هغوی له انفرادي حکومتي وزیرانو څخه د بودیجې او نورو مالي مسایلو په اړه په **۱۹۵۰** کال کې پوښتنې شروع کړې، د افغانستان په خیر په یو هیواد کې چیرته چې اداري فساد د مالداره کیدو او قوت لپاره د یوازینې وسیلې په توګه استعمالیږي؛ د دې ډول پارلمانونو خبرنه کوی او مشکل را منځته کوی، ډپري، افغانستان، **۴۹۴**.

۱۳ وایبنوم، "افغانستان:غیرګوندي پارلماني دیموکراسي،" **۵۸**.

دا د **۱۹۲۴**م کال اساسي قانون ؤ چې اجرائیه او مقننه قواوې یې په اغیزمنه توګه بېلې کړې او یو خالص خپلواک پارلمان رامنځته شو.[۱۴] د **۱۹۳۱**م کال د اساسي قانون په څېر د **۱۹۲۴**م کال اساسي قانون هم یو دوه مجلسه پارلمان رامنځته کړ او واک یې ورکړ، چې قوانین تصویب کړي او د اجرائیه قوې کړنې وڅاري.[۱۵] پارلمان ته دا واک هم ورکړل شوی ؤ، چې د حکومت وزیران تائید کړي او که چېرې د حکومت کړنې د دوی د قناعت وړ نه وې، وزیران له دندو ګوښه کړي. مګر، د دغه پارلماني دیموکراسۍ په اړه د افغانستان تجربې لنډ عمر درلود او سببونه یې د ثبت شویو سیاسي ګوندونو نشتوالی، په پارلماني ټاکنو کې د خلکو کم ګډون، په ټاکنو او پایلو یې د حکومت سخت کنترول، د بې سوادۍ لوړه کچه، د پرمختګ ټیټه کچه او د یوې "متوسطې لبرال طبقې" نه شتون وو.[۱۶] ددې ترڅنګ په دې خاطر چې سیاسي ګوندونه قانوني نه وو، افغانستان د هغه دیموکراتیک نظام د بنسټیز کولو د یوې اړینې وسیلې د نشتوالي سره مخ کړی ؤ، چې د **۱۹۲۴**م کال اساسي قانون یې د رامنځته کېدو وعده کړې وه، او پارلمان ونه کړای شول چې د حکومت څخه حکومت څار وکړي.[۱۷]په همدې اساس د اجرائیه قوې او پارلمان ترمنځ یوې ګټورې اړیکې شتون نه درلوده.[۱۸] برعکس، پارلمان خپل واکونه په منفي او غچ اخیستونکې طریقه کارول.[۱۹]

د **۱۹۷۳**م کال د جولای په میاشت کې داؤد خان یوه سپینه کودتا ترسره کړه او خپل د تره زوی ظاهر شاه یې له واک څخه لرې کړ او د **۱۹۲۴**م کال د اساسي قانون نظام او شاهي نظام ته یې د پای ټکی کېښود.[۲۰]

داؤد خان په یوه سخته طریقه په هېواد باندې د حکومت کولو پریکړه ونیوله، په **۱۹۷۷**م کال یې یو اساسي قانون رامنځته کړ، چې دغه اساسي قانون یو استبدادي حکومت رامنځته کړ، چې د قواوو جلاوالي پکې شتون نه درلود..[۲۱]

که څه هم د **۱۹۷۷**م کال اساسي قانون په تیوریکي لحاظ یو واحد (یو مجلسه) پارلمان رامنځته کړ، دغه پارلمان هېڅ  واکونه نه درلود.[۲۲] له **۱۹۷۸**م کال راهیسې کوم وخت چې د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند داؤد خان له واک څخه لرې کړ، تر ۲۰۰۱ م کال پورې چې د طالبانو واک پای ته ورسېد، افغانستان یا له سره پارلمان نه درلود یا یې یو سمبولیک پارلمان درلود.

د ۲۰۰۱ م کال په وروستیو  کې د طالبانو د نظام له ړنګېدو سره  افغانستان ته نوې هیلې پیدا شوې، چې اجرائیه، مقننه او قضایه قواوې به یوه له بلې جلا شي، او داسې یو ملي پارلمان به ر امنځته شي، چې د اجرائیه قوې واکونه به محدود کړي. د افغانستان پیاوړو اشرافو چې د طالبانو څخه یې د نړیوالو ځواکونو له لارې په قوي ملاتړ جګړه ګټلې وه، دغه فرصت ته یې په جدي نظر وکتل، دوی یو ځای کېناستل ترڅو یو نوی اساسي قانون رامنځته کړي، چې دغه اساسي قانون به د پخوانیو اساسي قوانینو څخه د اجرائیه قوې د واکونو د محدودولو د میکانیزمونو له لحاظه متفاوت وي.[۲۳]خو باید ووایو چې، نړیوالې ټولنې د اجرائیه قوې د واک په اړه څه ویل درلودل؛ په حقیقت کې هغه  د اجرائیه قوې په سر کې د یو ځواکمن ولسمشر غوښتونکې وو.[۲۴] په همدې اساس د **۱۳۸۲** کال اساسي قانون د مسودې جوړونکو یوه ځواکمنه اجرائیه قوه چې د یو پیاوړي ولسمشر له لورې به رهبري کېږي رامنځته کړه، خو دوی یو ځواکمن پارلمان هم رامنځته کړ، چې د اجرائیه قوې ځواکمن مشر تر خپل نظر لاندې وساتي.

د افغانستان د ملي شوراګانو دغه لنډ تاریخ ددې ویونکی دی چې د افغان دولت مشرانو هېڅکله پارلمان اړین او جدي نه دی ګڼلی، دغه تمایل د **۱۳۸۲** کال په اساسي قانون کې هم شتون درلود او په منفي ډول یې د اجرائیه او مقننه قوې اړیکې اغېزمنې کړې، چې پارلمان یې د خپلو دندو په ترسره کولو او د اساسي قانون له خوا ورکړل شوي اختیار په ترسره کولو کې د ستونزو سره مخ کړ.

---

۱۴ ګروټ، د قواوو تفکیک **۸۹۷**.

**۱۵** د افغانستان اساسي قانون، رسمی جریده نمبر ۱۲ (**۱۳۴۳**) (**۱۹۲۲**)، څلورم فصل.

۱۶ ګروټ، د قواوو تفکیک **۸۹۹**.

۱۷ روزالیند دیکسون و تام ګینسبرګ، د پرېکړې نه کولو پریکړه کول، د اساسي قانون په ډیزاین کې تعویق، د اساسي قانون نړیوال ژورنال ۹، نمبر **۳**-**۴** (۲۰۱۱) ۲۷۲-۲۳۲، ۲۲۴.

۱۸ وایبنوم، "افغانستان:غیرګوندي پارلماني دیموکراسي،" **۵۷**-**۷۴**.

۱۹ مارتین آوانس، افغانستان: د وګړو او سیاست لنډ تاریخ (نیویارک: هارپر کولنز، ۲۰۰۲)، **۱۲۵**.

۲۰ محمد حسن کاکړ، د افغانستان د شاهي حکومت زوال په **۱۹۷۳** کې، د منځنې ختیځ د مطالعاتو نړیوال ژورنال ۹، نمبر ۲ (**۱۹۷۸**)، **۱۹۵**-۲۱۴.

۲۱ د افغانستان اساسي قانون، رسمی جریده نمبر ۳۲۰ ۱۹۷۷ )**۱۳۵۵** SY)، اووم فصل.

۲۲ پورتنۍ منبع، پنځم فصل.

۲۳ د افغانستان د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون په اړه د مفصلو معلوماتو لپاره، وګورئ الکساندر تیر، په افغانستان کې د اساسي قانون جوړېدل، د نیویارک پوهنتون د حقوقو پوهنځي حقوقي ژورنال **۵۱**، (۲۰۰۷)، **۵۵۷**-**۵۷۹**.

۲۴ بارنیت روبین، د افغانستان لپاره د اساسي قانون جوړول، د دیموکراسي ژورنال **۱۵** (**۲۰۰۵**)، **۵**-۱۹، ۱۲. کاترین آدینی، د اساسي قانون طراحي او د ټولنې د سیاسي جوړښت هویت په افغانستان کې، د آسیا سروې ۴۸ (۲۰۰۸)، **۵۳۵**-**۵۵۷**، **۵۴۱**.

## له طالبانو وروسته مرحله: د بن کنفرانس او د ۱۳۸۲ م کال د اساسي قانون تسوید

د ۲۰۰۱ م کال په اکتوبر کې د طالبانو د نظام له ړنګېدو وروسته ملګرو ملتونو څلور مخکښ افغان ګروپونه د جرمني د بن ښار ته دعوت کړل، ترڅو د افغانستان د راتلونکي حکومت په سر بحث وکړي.[۲۵] په بن کې افغان استازو او د هغوی نړیوالو ملاتړو یو تړون لیک لاسلیک کړ، چې د بن د تړون په نوم یادیږي.[۲۶] د بن تړون یو دوه کلنې انتقالي دورې تقسیم اوقات رامنځته کړ؛ که په روښانه الفاظو یې ووایو دغه تړون یو لنډ مهاله حکومت را منځته کړ، چې له هغې وروسته به یوه انتقالي اداره رامنځته شي.[۲۷] د دغه موافقتنامې له مخې انتقالي اداره مکلفه وه، ترڅو د اساسي قانون د تسوید پروسه اداره کړي.

د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون د تسوید پروسه د ۲۰۰۲ م کال په اکتوبر کې پیل شوه، چې د هغه وخت د انتقالي حکومت د ولسمشر حامد کرزي لخوا د اساسي قانون د تسوید کمېسیون (" کمېسیون ") رامنځته شو.[۲۸] کله چې کمېسیون د اساسي قانون لومړنی مسوده جوړه کړه، حامد کرزي د اساسي قانون د بیا کتنې کمېسیون ("د بیا کتنې کمېسیون ") په نوم یو بل لوی کمېسیون رامنځته کړ، ترڅو د کمېسیون لخوا په رامنځته شوې مسودې بیا کتنه وکړي.[۲۹] د بیا کتنې کمېسیون ۲۰۰۳م کال په دوبي کې د خلکو سره مشورې وکړې، او وروسته یې بیا خپله مسوده د همغه کال د سپتمبر په وروستیو کې حکومت ته ولېږله.[۳۰] له دې وروسته، د اساسي قانون یوه ځانګړې لویه جرګه راوغوښتل شوه او د اساسي قانون مسوده یې تائید کړه، چې دغه اساسي قانون د حکومت له خوا د یو څه تعدیلاتو سره د ۲۰۰۴م کال د جنوري میاشت په ۴ مه نېټه خپور شو.[۳۱] په پای کې، د ۲۰۰۴م کال د جنوري په ۲۲ مه نېټه ولسمشر حامد کرزي اساسي قانون توشیح کړ، او په دې توګه په ۲۱ پېړۍ کې د افغانستان لومړنی اساسي قانون خپور شو.[۳۲]

له طالبانو وروسته د سیاسي نظام جوړښت د بن په خبرو اترو او د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون د تصویب پر وخت اساسي موضوع وه؛ بحث پر دې ؤ چې ایا نوی نظام به ریاستي وي او که داسې نظام به وي چې حکومت به خپل اجرائیوي ځواک د یو صدراعظم سره شریکوي. په پیل کې د بن د تړون پر اساس پرېکړه شوې وه، چې د ۱۹۲۴م کال اساسي قانون به د ولسمشر او مقننه قوې د احکامو په استثناء د نوي اساسي قانون تر رامنځته کېدو پورې نافذ وي.[۳۳] په همدې اساس د نوي سیاسي نظام جوړښت د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون تسوید کوونکو ته پرېښودل شوی ؤ. د موقتي او انتقالي مرحلو په جریان کې چې د بن د تړون پر اساس ټاکل شوې وې، افغانستان یو قانوني پارلمان نه درلود، په دغه مرحله کې او تر هغه وخته پورې چې له طالبانو وروسته لومړنی پارلمان رامنځته شو، د وزیرانو شورا عملاً (de facto) پارلمان ؤ او یو تعداد اړین قوانین یې رامنځته کړل، چې ځینو دغه قوانین د هغه پارلمان لپاره چې په ۲۰۰۵م کال کې یا (وټاکل شو) اغیزې او پایلې درلودې، د بېلګې په توګه، په همدغه مرحله کې د حکومت لخوا د پارلمان د ټاکلو لپاره د واحدې او د نه انتقال رایې سیستم رامنځته شو.[۳۴] د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون د پارلماني ټاکنو د سیستم پوښتنه پرانیستې پرې اېښې وه. په همدې خاطر حکومت باید د واحدې او غیر قابل انتقال رایې او د زیاتې متناسب استازیتوب د سیستم ترمنځ یو ټاکلی وای، چې په پایله کې حکومت د واحدې غیر قابل انتقال رایې سیستم ځکه انتخاب کړ، چې د رایې ورکونې یو ساده سیستم ؤ، سره له دې چې په دغه سیستم کې تخنیکي ستونزو شتون درلود.

---

۲۵ په دې ډلو کې د شمالي ټلوالې ګروپ، د روم ګروپ، د قبرس ګروپ او د پېښور ګروپ شامل وو. د شمالي ټلوالې ډله د پخوانیو اسلام پالو ایتلاف و چې طالبانو سره یې دښمني وه او په پای کې یې د متحده ایلتو تر مشرۍ لاندې، ایتلاف سره د طالبانو د رژیم له منځه وړلو کې مرسته وکړه. په دې ډله کې د مختلفو نظرونو او ایډیالوژیو خلک شامل وو، په ګډون د مختلفو قومي نژادونو، هر یو یې غوښتل چې په حکومتدارۍ کې رول ولوبوي او د خپلو ګټو ساتنه وکړي. د روم ګروپ مشر، عبدالستار سیرت، د ظاهرشاه تر مشرۍ لاندې د عدلیې وزیر، ډېری لویدیځ میشتي جلا وطنه وګړي او هغه اشخاص چې د ظاهرشاه سره یې اړیکې درلودې او د ایډیالوژیکي پلوه په افغانستان کې د ۱۹۲۴ کال اساسي قانون پورې یې تړاو درلود. د قبرس ډله د شیعه هزاره مهمو غړو په شمول چې د ایران له خوا یې ملاتړ کېده. د پېښور ډله د افغان پښتنو څخه جوړه وه (افغان ملت غړي یا سوسیال دیموکراتیک ګوند چې د ۱۹۷۰په اوږدو کې رامنځته شو) چاچې په ۱۹۹۰ لسیزې کې د پخواني پاچا ملاتړ کاوه او له محاذ اسلامي مجاهدینو سره یې تړاو درلود. په بن کنفرانس کې د مذاکراتو په اړه د مکمل بحث اړوند، وګورئ زلمی خلیلزاد، استازی: له کابل څخه تر سپینې ماڼۍ پورې، زما سفر د خښتو نړۍ له لارې (نیویارک: سینټین مارټنز پریس، ۲۰۱۲). جیمز ډوبینز، له طالبانو وروسته په افغانستان کې ملت جوړونه (پوټومیک کتابونه، ۲۰۰۸.)

۲۶ تیر، په افغانستان کې د اساسي قانون جوړول، **۵۲۲**.

۲۷ په افغانستان کې د چمتووالی په اړه موافقه لیک د افغانستان د تل پاتې دولتي ادارو بیا رغاونه تاییدوي، د UN سند، ۱۱۵۴/۲۰۰۱/S، په **۳** صفحه کې، لاسرسی په **۵** دیسمبر ۲۰۱۱، http://www.refworld.org/docid/۳f۴۸f۴۷۵۴.html (۱ (۲))

۲۸ شمشاد پسرلی، د قضایي قوې څخه ځان ساتنه، د قضایي ارزونې ټوټه شوی سیستم او د اساسي قانون تفسیر په افغانستان کې، د میشیګان د نړیوالو حقوقو مجله ۲۲، نمبر ۲ (۲۰۱۸)، **۲۴۵-۲۹۵**، ۲۵۰-۲۵۱.

۲۹ تیر، په افغانستان کې د اساسي قانون جوړول، **۵۲۲-۵۲۷**.

۳۰ شمشاد پسرلی، " د افغانستان د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون جوړول، یو تاریخ او تحلیل د لینس همغږۍ او لیږدولو تیوری له لارې" د واشنګټن پوهنتون، د پي ایچ ډي نا خپور شوی پایلیک ( ۲۰۱۲)، ۴ فصل.

۳۱ سعید امیر ارجمند، په افغانستان کې د اساسي قانون تحولات، تاریخي او تطبیقي لیدلوری. د دیموکراسۍ ژورنال **۵۳**، نمبر ۴ (**۲۰۰۵**).

۳۲ بارنیت روبین، د افغانستان لپاره د اساسي قانون جوړول، د دیموکراسۍ ژورنال **۱۵** (**۲۰۰۵**).

۳۳ د بن هوکړه لیک (۲۰۰۱)، ماده ۲. (۱).

۳۴ اندرو رینولدز، اوسني انتخاباتي سیستمونه، د افغانستان نادره بیلګه، د دیموکراسي ژورنال ۱۷، نمبر ۲ (۲۰۰۲)، ۱۰۴-۱۱۷، ۱۰۲.

د **۱۳۸۲** م کال اساسي قانون د تسويد پر وخت يوه اړينه موضوع د پارلمان واکونه وو.[۳۵] د اساسي قانون تسويد کوونکي (د اساسي قانون د تسويد او بيا کتنې کمېسيونونو غړي) په دې نظر وو، چې له طالبانو وروسته به يو قوي پارلمان د افغانستان د يو ديموکراتيک انتقال په لاره اچولو کې اړين وي.[۳۲] مګر، د ولسمشر حامد کرزي ملاتړو او نړيوالې ټولنې د داسې يوې قوي اجرائيه قوې ملاتړ کاوه، چې پر ولسمشر بايد ډېر کم څار شتون ولري.[۳۷] کله چې په پای کې تدوين شو، د **۱۳۸۲** کال اساسي قانون يوه قوي اجرائيه قوه تعريفوي، چې ولسمشر پکې د حکومت او دولت رئيس دی.[۳۸] برعکس ډېرو څواکمنو او افرادو په ځانګړې توګه د پخوانيو مجاهدينو مشران په دې نظر کې وه، چې يو قوي پارلمان د قوي ولسمشر چې د نړيوالې ټولنې قوي ملاتړ له ځان سره لري ، د محدودولو يوازينۍ لار ده.[۳۹] په دې توګه، سره له دې چې اساسي قانون رياستي نظام په راس کې به يې د دولت يو قوي رئيس وي رامنځته کړی، دغه اساسي قانون پارلمان ته د پام وړ واکونه ورکوي، ترڅو اجرائيه قوه د خپل څار لاندې وساتي.[۴۰]

سره ددې، د **۲۰۱۴**م کال د سپتمبر را وروسته په سياسي لحاظ کمزوري د ملي وحدت حکومت يو عملي شبه- رياستي نظام رامنځته کړ. په دې نوي جوړښت کې اجرائيوي څواک په تيوريکي لحاظ د ولسمشر او اجرائيه رئيس چې اصلاً صدراعظم دی، ترمنځ وېشل شوی دی.[۴۱] د ملي وحدت د حکومت تړون چې په **۲۰۱۴**م کال کې لاسليک شو، له مخې يې بايد په دوه کلونو کې، يعنې **۲۰۱۷**م کال سپتمبر پورې حکومت بايد يوه لويه جرګه راوغواړي، ترڅو د **۱۳۸۲** کال اساسي قانون تعديل او د اجرائيوي صدراعظم پوست رامنځته کړي.[۴۲] خو ، ددې ليکنې تر وخته پورې، وړانديز شوې لويه جرګه تر اوسه نه ده راغوښتل شوې.

**۳۵** ارشيفي مواد د ۲۰۰۴ کال ديموکراسۍ د جوړولو پروسس لپاره، د مباحثو مجموعه په سي ډي سي او سي ار سي باندی (۲۰۰۲-۲۰۰۴) [مواد د ترلاسه کيدو وړ دي يو له ليکولانو سره].

**۳۶** پورتنۍ منبع.

**۳۷** فريد حامدی و آرونی جاياکودی، د افغانستان په اساسي قانون کې د قواوو تفکيک، يوه موردي څېړنه، (د افغانستان د څيړنی او ارزونې اداره: کابل، افغانستان، **۲۰۱۵**).

**۳۸** د افغانستان د اسلامي جمهوريت اساسي قانون، رسمي جريده شماره ۸۱۸ (۱۳۸۲) [۲۰۰۴] دريم فصل.

**۳۹** اډيني، د اساسي قانون طرحه، **۵۴۱**.

**۴۰** د افغانستان ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، **۵**،**۳** فصل.

**۴۱** کاوون کاکړ، توماس کرمر او همايون روئفي، د اجراييه قوې ارزيابي په افغانستان کې، شاليد ته کتنه او د راتلونکې لپاره وړانديزونه (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۷)، ۴.

**۴۲** د ملي وحدت حکومت اړوند د دوه ټاکنيزو ټيمونو هوکړه، د لاس انجلس ورځپاڼه (سپتمبر۲۱ ۲۰۱۴)، د ترلاسه کيدو وړ دی په:

-http://documents.latimes.com/agreement-between-two-campaign-teams-regardingstructure

## د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون له مخې پارلمان

معاصر اساسي قوانين هغه کړنلارې او جوړښتونه تسجيلوي، چې پر اساس يې په اجرائيه او مقننه قواوو کې د خلکو استازي ګډې پريکړې نيسي، ديادونې وړ ده چې په نړيواله سطحه اساسي قوانين د بيلابيلو قواوو ترمنځ د سياسي ځواک په وېشلو کې په پراخه توګه يو له بل څخه بېل وي او هغه اصول پکې ځای پر ځای شوي وي، چې پر اساس يې د اجرائيه او مقننه قوې ترمنځ اړيکې تنظيمېږي. دا د يوه هېواد په اساسي قانون پورې اړه لري چې د قواوو جلاوالي، توازن او کنټرول تعريف کړي، تر څو پارلمان و کولای شي د حکومت پر کړنو خپل د استازيتوب، څارنې او د قانون جوړونې نقش په سمه توګه تر سره کړي.

دې نظر ته په کتو، د افغانستان د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون تسويد کوونکو د داسې پارلمان وړاندوېينه کوله چې د حکومت په کړنو د کافي څار او تقنيني واکونو څخه برخمنه وه.[۴۳]

د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون د تسويدونکو له نظره يو قوي او خپلواک پارلمان يواځنی اداره وه، چې کولای يې شول د اجرائيه قوې کړنې وڅاري، په ځانګړې توګه ځکه چې د اساسي قانون تسويدونکي ونه توانېدل، چې په تسويد کېدونکي اساسي قانون کې د اساسي قانون محکمه را منځته کړي،هغه محکمه چې تمه کېدله، چې د حکومت په کړنو د څار نقش ترسره کړي.[۴۴]

د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون يو دوه مجلسيزه پارلمان د مشرانو جرګې او ولسي جرګې د مجلسينو لرونکی تعريفوي.[۴۵] اساسي قانون دغه دوه مجلسيزه پارلمان په افغانستان کې د قانون جوړونې لوی ارګان ګڼي، چې بايد د ټول ملت استازيتوب وکړي. په دې توګه، سره چې د پارلمان غړي د هېواد په کچه د واحدو سيمه ييزو حوزو لخوا ټاکل کېږي، دوی مسؤليت لري چې د خپلو دندو د اجرا کولو په وخت د ټول ملت عمومي هوساينه او لوړې ګټې په نظر کې ونيسي.[۴۶] اساسي قانون د پارلمان غړي د ټول ملت د استازو په حيث تعريفوي، نه د يوې خاصې ډلې او يا حوزې د استازو په توګه.

## پارلماني ټاکنې

د پارلمان دوه مجلسونه د مختلفو ميکانيزمونو له لارې ټاکل کېږي، او څرنګه يې چې دا څېرنه وروسته تر بحث لاندې نيسي، دواړه مجلسونه مختلف واکونه لري. د ولسي جرګې غړي ټول د عمومي، ازادو، پټو او مستقيمو رايو له لارې د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي.[۴۷] برعکس، د مشرانو جرګې غړي انتخابي او انتصابي غړي لري.[۴۸] ددې لپاره چې د مشرانو جرګه وټاکل شي، اساسي قانون وايي چې، (۱) ولايتي شوراګانې (په هر ولايت کې يوه ولايتي شورى شتون لري او د ولايتونو شمېر ۳۴ دی) بايد يو يو استازی د څلورو کلونو لپاره مشرانو جرګې ته وټاکي؛ (۲) په يوه ولايت کې د ټولو ولسواليو شوراګانو په استازيتوب يو تن د درې کلونو لپاره؛[۴۹] او (۳) د هېواد ولسمشر د مشرانو جرګې يو پر درې برخه غړي د پنځو کلونو لپاره ټاکي.[۵۰]

اساسي قانون دا مکلفيت رامنځته کوي، چې د مشرانو جرګې هغه غړي چې د ولسمشر لخوا ټاکل کېږي، پنځوس سلنه يې بايد ښځې وي. د ښځو لپاره د دغه ځانګړې سهم تر څنګ اساسي قانون د ولسمشر خوښه د يو پر درې برخه غړو په ټاکلو کې نه محدودوي. په همدې اساس د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون له مخې د لومړنی مشرانو جرګې د ټاکلو لپاره ولسمشر کرزي په ۲۰۰۵ م کال کې د افغانې ټولنې د مختلفو ټبرونو څخه استازی وټاکل. د ولسمشر په ۳۴ نفري لېست کې د مجاهدينو د ډلو، قبايلي مشرانو، د هندوانو،

۴۳ وګوره د افغانستان ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، ۵ فصل.

۴۴ وګوره ډمسپي، جان، تير او الکساندر، د اساسي قانون د تفسير په اساس په افغانستان کې د ناورين حل، د متحده ايالاتو د سولې انستيتيوت. واشنګتن، د متحده آيالاتو د سولې مرکز، ۲۰۰۹.

PDF.۲_۰۳۰۹_http://www.usip.org/sites/default/files/USIP

۴۵ وګورئ د افغانستان ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، ۸۲ ماده.

۴۶ پورتنی منبع، ۸۱ ماده.

۴۷ پورتنی منبع، ۸۳ ماده.

۴۸ پورتنی منبع، ۸۴ ماده.

۴۹ د ولسواليو شوراګانې تر اوسه نه دي انتخاب شوي. د ولسواليو شوراګانې د عدليې وزارت يو پر دريمه برخه ټاکي. د لومړي ځل لپاره، د ۲۰۰۵ کال د پارلماني ټاکنو وروسته، دا معلومه شوه چې حکومت نشي کولی د مشرانو جرګې د انتخاب لپاره د ولسواليو د شوراګانو ټاکنې تر سره کړي. ولسمشر کرزي له سترې محکمې څخه د مشورې غوښتنه وکړه. محکمې سپارښتنه وکړه چې تر هغه چې د ولسواليو شوراګانې و ټاکل شي، د مشرانو جرګې غړيتوب دې ولايتي شوراګانو ته وليږدول شي. په همدې ډول ولايتي شوراګانو د مشرانو جرګې دوه پر درې برخې وټاکلې او پاتې يو پر درې برخه يې د ولسمشر کرزي له لوري انتصاب شول.

۵۰ د افغانستان ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، ۸۴ ماده.

سیکانو، او په همدې توګه د کوچیانو شامل وو.[۵۱] هغه افراد چې د مشرانو جرګې غړي ټاکل کېږي، په خپلو ولایتي شوراګانو او ولسوالۍ شوراګانو کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي. په همدې خاطر د ولایتي شوراګانو او ولسوالۍ شوراګانو خالي ځایونه باید د نویو انتخاب شویو غړو په واسطه ډک شي.

د اساسي قانون په اساس د پارلمان غړي باید یوازې افغانان وي؛ دوی باید د بشریت خلاف د جرایمو په ترسره کولو نه وي محکوم شوي، باید د مدني حقوقو څخه نه وي محروم شوي او نور جرایم یې هم نه وې کړي. او باید لږ تر لږه د پنځه ویشت (د ولسي جرګې غړي) او پنځه دېرش کلونو (د مشرانو جرګې غړي) عمر لرونکي وي[۵۲] د ټاکنو خپلواک کمېسیون په پارلمان کې د غړیتوب لپاره د نوماندانو ورتیاوې او شرایط ګوري، او دا یقیني کوي چې دوی په اړینو شرایطو برابر دي. د ۲۰۱۰م او ۲۰۱۸م کال په پارلماني ټاکنو کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون دغه واک وکارو او د هغه نوماندانو نوماندنه یې لغوه کړه چې په شرایطو برابر نه وو. د ټاکنو خپلواک کمېسیون په دې خاطر هم د نیوکې لاندې نیول شوی ؤ، چې ځینو هغو نوماندانو ته یې چې د بشري حقوقو د خلاف ادعاګانې پرې وې، د نوماندۍ اجازه ورکړې وه.[۵۳] دا باید ذکر شي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون په اسانه نشي کولای، چې خلک د محاکمو لخوا د محکومیت پرته پارلماني ټاکنو ته له درېدو منعه کړي.[۵۴]

د افغانستان اساسي قانون د پارلمان او په ځانګړې توګه د ولسي جرګې د ټاکلو لپاره کوم ځانګړی سیستم نه مشخصه وې. اساسي قانون یوازې دا وایي چې د ولسي جرګې د غړو د ټاکلو سیستم باید د افغانستان د خلکو عمومي او عادلانه استازیتوب یقیني کړي.[۵۵] څرنګه چې مخکې بحث وشو، ددې په خاطر چې عادلانه او عمومي شرایط بشپړ شي، د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون تسوید کوونکو په لومړي سر کې پریکړه نیولې وه چې د متناسب استازیتوب یو شکل (د مختلطو غړو متناسبه استازیتوب یا واحده د انتقال وړ رایه) باید وکارول شي.[۵۶] اندریو رینالډز (Andrew Reynolds) وایي چې دغه پرېکړه د اساسي قانون په ضمیمه کې روښانه شوې وه.[۵۷] د متناسب استازیتوب په ټولو شکلونو کې، سیاسي ګوندونه کلیدي رول سرته رسوي او خلک سیاسي ګوندونو ته رایه ورکوي، نه خپلواکو انفرادي نوماندانو ته.[۵۸] د پرانیستې لېست په متناسب استازیتوب کې خلک کولای شي چې د خپلې خوښې نوماند ته رایه ورکړي، مګر سیاسي ګوندونه په حقیقت کې دغه نوماندان صحنې ته راباسي. خو، په ۱۳۸۲ کال کې افغانستان رسمي بنسټیز کړای شوي سیاسي ګوندونه نه درلودل، ترڅو په پارلماني ټاکنو کې برخه واخلي. په پایله کې، د ولسمشر کرزي انتقالي ادارې د متناسب استازیتوب موضوع رد کړه او پر ځای یې د واحدې نه انتقال رایې سیستم وټاکه.[۵۹]

د واحدې نه انتقال رایې سیستم په غوراوي کې حکومت استدلال وکړ، چې د هېواد ډېر خلک لیک او لوست نشي کولای او په شرایطو برابر سیاسي ګوندونه شتون نه لري، ترڅو د متناسب استازیتوب د سیستم په ټاکنو کې برخه واخلي.[۶۰] خو باید ووایو چې د واحدې نه انتقال رایې د سیستم پر اساس ټاکل شوی پارلمان تر ډېره حده پاشلی ؤ. نوماندانو د خپلواکو نوماندانو په توګه په ټاکنو

**۵۱** اکرم ګیزابي، د افغانستان د مشرانو جرګه په جوړېدو پیل کوی، افغاني هندو او سیک: فرهنګ، دین، تاریخ، او خبرونه (۱۲ دسمبر ۲۰۰۵)، د لاسرسۍ وړ دی په: https://afghanhindu.wordpress.com/۱۲/۲۰۰۵/ ۲۸ ډسمبر ۲۰۱۸

**۵۲** د افغانستان ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، ۸۵ ماده.

**۵۳** حمیدی او جیاکودی، د افغانستان د اساسي قانون په رڼا کې د قواوو بیلتون، ۱۲.

**۵۴** په دې وروستیو کې، د ۲۰۱۸ اګست په میاشت کې د ټاکنو کمیسیون د رایو د لست څخه لسګونو نوماندان لرې کړل. د ټاکنو خپلواک کمیسون ادعا وکړه چې دا نوماندان د نا قانونه وسله والو ډلو سره اړیکې لري. لرې کړل شوو کاندیدانو د ټاکنو خپلواک کمیسیون باندې اعتراض او شکایت وکړ. بالاخره کمیسیون پریکړه وکړه چې ۳۵ نوماندان په همدې تور محکمه کړي. بې اعتباره نوماندانو استدلال وکړ چې محکمه یې محکوم اعلان نکړی تر هغې هیڅوک حق نه لري د غیرقانوني وسله والو ډلو سره اړیکې تایید کړي، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دې حق نلري چې د دوی نومونه لرې کړي. هغوي د ټاکنو خپلواک کمیسون څخه غوښتې چې نومونه ورته بیرته شامل کړي. خو د ټاکنو خپلواک کمیسون خپله نظریه ورنکړه. دا په دې باندې تاکید کوي چې موضوع تر هغې ډیره پېچلې ده څومره چې فکر یې کېږي.

**۵۵** د افغانستان ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، ۸۳ ماده.

**۵۶** انډریو رونالډس او جان کري، د افغانستان د انتخاباتی سیستم حل کول او د اصلاح لپاره ریفورم (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره ، ۲۰۱۲)، ۱۰۲.

**۵۷** پورتنۍ منبع.

**۵۸** وګورئ پیپا نورس، د انتخاباتي سیستمونو ټاکنه: متناسب، اکثریت او مرکب سیستم، د سیاسي علومو نړیواله مجله، ګڼه ۱۸. ۳ (۱۹۹۷), ۲۹۷-۳۱۲. میچل ګالاګر او پاوول میچل، د انتخاباتي سیستم سیاست (نیویارک، د اکسفورډ پوهنتون ۲۰۰۵).

**۵۹** SNTV PR او تر مینځ، د دوی څو نسخې شتون لري چې له بده مرغه په ۲۰۰۴ کې پرې بحث نه و شوی. د مثال په توګه، واحد غړی ولسوالی یو ګټور سیستم دی چې د انتخاب شوی نماینده او د هغوی د خلکو ترمنځ اړیکه جوړوي، حکومت دې سیستم ته بیخي توجه نه ده کړې.

**۶۰** رینولډز او کیري، د افغانستان د انتخاباتی سیستم سمون، ۱۰۲.

کې برخه واخیستله، نه د ثبت شوو سیاسي ګوندونو د غړو په توګه.[۲۱] نوماندانو دغه کار ترسره کړ، سره ددې چې د واحدې نه انتقال ر ایې په سیستم کې رای پاڼې نوماندانو ته اجازه ورکوي، چې د ثبت شوو سیاسي ګوندونو د غړو په توګه ځانونه معرفي کړي، کېدای شي استدلال وشي چې په **۲۰۰۵**م کال کې په لومړنیو ترسره شویو پارلماني کنوکې، عامو افغانانو د سیاسي ګوندونو په اړه مثبت نظرنه درلود، ځکه د **۱۹۹۰** کلنو چې هغوی په ویجاړونکي کورنۍ جګړه کې رول درلود. په همدې اساس نوماندانو ونه غوښتل چې ځانونه د سیاسي ګوندونو د غړو په توګه معرفي کړي.[۲۲]

د واحدې نه انتقال رایې سیستم له مخې چې اوس هم د پارلماني ټاکنو لپاره کارول کېږي، په هره ټاکنیزه حوزه کې څوکۍ د هر یو نوماند لخوا د تر لاسه شوو رایو د شمېر اړوند ځانګړي کېږي. هر ولایت یوه واحده ټاکنیزه حوزه ګڼل کېږي. د هر ولایت د نفوس د شمېر په اندازه څوکۍ ځانګړي کېږي.[۲۳]

ددې معنی داده چې نه یوازې هغه نوماندانو چې زیاتې رایې یې تر لاسه کړې دي، دویم، درېیم او حتی څلورم او پنځم نوماندان ولو که لږې (خو د نورو په نسبت زیاتې) رایې یې تر لاسه کړي وي، وبه کړای شي چې ولسي جرګې ته لار پیدا کړي.[۲۴] همدا ډول د **۲۰۱۸**م کال د پارلماني ټاکنو ابتدایي پایلو دا وښودله، چې د واحدې نه انتقال رایې سیستم له مخې په یوه ټاکنیزه حوزه (ولایت) کې یو نوماند کولای شي، چې د ولسي جرګې یوه څوکۍ د ۲۰۰۰۰ (شل زرو) څخه زیاتو رایو په واسطه وګټي. په همدغه ټاکنیزه حوزه کې دا شونی ده، چې هغه نوماند چې ۱۰۰۰۰ زره رایې یې تر لاسه کړي دي ونکړای شي، د ولسي جرګې څوکۍ تر لاسه کړي، په داسې حال کې چې یو بل نوماند به په بله ټاکنیزه حوزه کې یوازې د **۳۰۰۰** (درې زره) رایو په ګټلو سره وکړای شي د ولسي جرګې یوه څوکۍ وګټي. دغې موضوع په وروستیو کې د واحدې نه انتقال رایې سیستم په مخالفت کې بحثونه تاوده کړي دي.

سره له دې چې هر ولایت د ولسي جرګې لپاره یو شمیر غړي ټاکي، هر رای ورکوونکی کولای شي په واحدې نه انتقال رایې سیستم کې یوازې یو نوماند ته رایه ورکړي.[۲۵] ددې سیسم له مخې په یوه ځانګړې ټاکنیزه حوزه کې هغه نوماندان چې د نورو په پرتله یې رایې زیاتې دي، د ولسي جرګې د غړو په توګه به وټاکل شي. د بېلګې په توګه، که یوه ټاکنیزه حوزه پنځه څوکۍ ولري، نو پنځه مخکښ نوماندان به چې زیاتې رایې یې تر لاسه کړې دي، دغه څوکۍ وګټي. په دې توګه، که چېرته یو ګوند په ټولیزه توګه زیاتې رایې تر لاسه کړي، د واحدې نه انتقال رایې سیستم په کې دغه ګوند نشي کولای زیاتې څوکۍ تر لاسه کړي، لکه څرنګه چې د متناسبې رایې په سیستم کې کولای شي،د ګټل شوو څوکیو شمېر په دې پورې اړه ولري، چې ایا انفرادي نوماندان چې ګوند نوماند کړي دي، په مناسبه توګه عمل کړی دی، که نه[۲۶] ددې لپاره چې دا کار وشي نوماندان دې ته اړتیا نه لري، چې باید په خپله ټاکنیزه حوزه کې مشهور وي. د بېلګې په توګه، د څلورو څوکیو په یوه ټاکنیزه حوزه کې دا شوني ده، چې یو نوماند به د نوي سلنه رایو په واسطه یوه څوکۍ وګټي، په داسې حال کې چې درې نور نوماندان به وکړای شي د څو سلنو رایو په تر لاسه کولو پاتې څوکۍ وګټي.[۲۷] د **۲۰۰۵**، **۲۰۱۰** او **۲۰۱۸**م کلونو د پارلماني ټاکنو پایلې ددغه پایلی ملاتړ کوي.[۲۸]

---

۲۱ علي یاور آدیلي، د افغانستان انتخاباتي معما (**۵**): یوه ناوخته غوښتنه د انتخاباتي سیستم د بدلون لپاره (مارچ ۲۰۱۸)، د ترلاسه کیدو وړ دی په:

a-late-demand-to-change-the--**۵**-https://www.afghanistan-analysts.org/afghanistan-election-conundrum
/electoral-system

۲۲ آنا وردزورث، د ګټو موضوع، جنسیت او سیاسی موجودیت د افغانستان په ولسي جرګه کې، (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، **۲۰۱۵**) vii.

۲۳ ترټولو ډیر نفوس لرونکی ولایت ډیر چوکۍ اخلي حالانکه لږ نفوس لرونکی ولایت یو یا دوه چوکۍ اخلي؛ رینولدز او کري، د افغانستان د انتخاباتی سیستم حل کول، **۱۰۵**، **۱۰۲**.

۲۴ پورتنۍ منبع.

۲۵ پورتنۍ منبع.

۲۶ پورتنۍ منبع.

۲۷ پورتنۍ منبع.

۲۸ د ۲۰۱۰ کال د پارلماني ټولټاکنو بشپړ معلومات او د ټولو **۳۴** ولایتونو پایلې، چې دا ښیي چې څنګه کاندیدان په لږو رایو سره پارلمان ته لاره پیده کړي، او دا د ترلاسه کیدو وړ ده په نیشنل ډیموکراتیک انسټیټوټونو کې د آنلاین انټرنټ نوي ویب پاڼه کې، www.afghanistanelectiondata.org او که چیرې مونږ د کابل رایې وګورو نو دا خبره معلومیږي چې څنګه یو کس ۲۰،۰۰۰ رایی اخیستي او بل کس په ډیرو کمو رایو سره پارلمان ته لاره پیدا کړې.

# د افغانستان د پارلمان جوړښت

## اداري هیئت

د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون له مخې د پارلمان دواړه مجلسونه باید د هرې تقنیني دورې په پیل کې خپل اداري هیئت وټاکي، د هر مجلس اداري هیئت یوه رئیس چې د بشپړې تقنیني دورې لپاره ټاکل کېږي، دوه مرستیالان چې لومړی او دویم مرستیالان دي، منشي او مرستیال منشي چې د یوه کال لپاره ټاکل کېږي، شامل دی.[۶۹] اساسي قانون د اداري هیئت ټاکل او د هغوی د دندو معلومول د دواړو مجلسینو داخلي اصولو ته محول کړي دي. د ولسي جرګې د داخلي کړنو د اصولو د اتمې (۸) مادې له مخې د ولسي جرګې رئیس د ولسي جرګې د یوې ناستې د شته غړو د اکثریت پټو رایو په اساس ټاکل کېږي. کله چې رئیس وټاکل شو، د اداري هیئت پاتې غړي بیا د پټو رایو پر واسطه ټاکل کېږي.[۷۰]

د مشرانو جرګې د داخلي کړنو د اصولو له مخې د مشرانو جرګې رئیس، د مشرانو جرګې د اکثریت غړو د رایو په واسطه ټاکل کېږي. د مشرانو جرګې د ریاست نوماند باید لږ تر لږه د لسو غړو ملاتړ له ځانه سره ولري؛ پر ته له دې یو شخص د نوماندۍ وړ نه دی.[۷۱] که چېرته د ټاکنو په لومړني پړاو کې هېڅ یو نوماند ونه کړای شي، چې اکثریت رایې تر لاسه کړي، د ټاکنو دویم پړاو د دوه هغه نوماندانو ترمنځ دایرېږي، چې په لومړي پړاو کې یې رایې تر نورو زیاتې وي. په دویم پړاو کې باید هغه نوماند چې له بل څخه زیاتې رایې تر لاسه کړي، د دغه مقابل بریالي نوماند په توګه اعلان شي.[۷۲] د مشرانو د جرګې د داخلي اصولو له مخې که چېرې په دویم پړاو ټاکنو کې هېڅ نوماند ونکړای شي چې زیاتې رایې تر لاسه کړي (معنی دا چې د دواړو کاندیدانو رایې په دویم پړاو کې هم مساوي شي)، نوې ټاکنې باید د نوو نوماندانو ترمنځ ترسره شي او پخواني نوماندان حق نه لري چې په نوو ټاکنو کې برخه واخلي. د ټاکنو پروسه باید لږ تر لږه درې ځلې تکرار شي، ترڅو یو ګټونکی معلوم شي.[۷۳] د مشرانو جرګې د اداري هیئت پاتې غړي د رای اچونې په ورځ د مشرانو جرګې د غړو د اکثریت رایو په واسطه ټاکل کېږي.[۷۴]

د ولسي جرګې رئیس مکلفیت لري، چې د غونډو مشري وکړي، د ولسي جرګې حیثیت وساتي، معنی دا چې د پارلمان باور او موقف د نورو ادارو په مقابل کې وساتي، د حقوقي بنسټونو سره پرېکړه لیکونه لاسلیک کړي، د ولسي جرګې بودیجه رهبري کړي او څار پرې وکړي او د خپلو کمېسیونونو راپورونه تر لاسه کړي.[۷۵] د ولسي جرګې د داخلي کړنو اصول وايي، چې د اداري هیئت نور غړي باید د رئیس سره د ورسپارل شوو دندو په ترسره کولو کې مرسته وکړي. د مشرانو جرګې رئیس هم همدغه واکونه او مسؤلیتونه لري. د مشرانو جرګې د داخلي کړنو د اصولو د ۱۴ مې مادې له مخې د مشرانو جرګې رئیس باید د جرګې د غونډو مشري وکړي، د مشرانو جرګې بودیجه مدیریت کړي، د داخلي کړنو اصول لاسلیک کړي، د سپلیني اصول پلي کړي، د اداري هیئت راپورونه ارزیابي کړي او ټول مکتوبونه، اسناد او راپورونه لاسلیک کړي.[۷۶]

## پارلماني کمېسیونونه

د افغانستان اساسي قانون د پارلمان هر مجلس ته واک ورکوي، ترڅو دایمي کمېسیونونه د حکومت د کړنو د څار او مطالعې لپاره رامنځته کړي. د بېلګې په توګه، د ولسي جرګې یو کمېسیون د ملي امنیت او سیمه ییزې ادارې په نوم دی، چې د امنیت په ملي ادارو باندې څار وکړي. همدا ډول، د ولسي جرګې د حقوقي چارو کمېسیون داخلي تقنیني اسناد تر نظر لاندې ساتي او د قوانینو مسودې

---

۶۹ د افغانستان ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، ۸۷ ماده.

۷۰ د ولسي جرګې د کورنیو کړنو اصول، د ۹-۱۱ مادې پورې (۲۰۰۷)، د لاسرسي وړ دي په:

http://wj.parliament.af/english.aspx

۷۱ د مشرانو جرګې د کورنیو کړنو اصول، ۸ ماده (۲۰۱۷)، د ترلاسه کیدو وړ دی په:

http://mj.parliament.af/english.aspx

۷۲ پورتنی منبع.

۷۳ پورتنی منبع.

۷۴ پورتنی منبع، ۹ ماده.

۷۵ د ولسي جرګې د کورنیو کړنو اصول، ۱۳ (۲۰۰۷)، ترلاسه کیدو وړ دی په:

http://wj.parliament.af/english.aspx

۷۶ د مشرانو جرګې د کورنیو کړنو اصول، ۱۴ ماده (۲۰۱۷)، د ترلاسه کیدو وړ دی په:

http://mj.parliament.af/english.aspx

د جولای ۱۲ نیټه ۲۰۱۸ کال کې د لاسرسی وړ دي.

ارزيابي کوي او بيا کتنه پرې کوي. لومړنۍ ضميمه د مشرانو جرګې او ولسي جرګې د کمېسيونونو بشپړ لېست وړاندې کوي.

د ولسي جرګې هر يو کمېسيون د ۱۰-۲۵ غړي لري، په داسې حال کې چې د مشرانو جرګې کمېسيونونه د ۷-۱۱ غړي لري.[۷۷]

د ولسي جرګې او مشرانو جرګې د داخلي کړنو اصول د دغه پارلماني کمېسيونونو د غړو د ټاکلو لپاره کوم ځانګړي اصول نه لري. ددې پر ځای د ولسي جرګې او مشرانو جرګې يو غړی کولای شي، چې د يو کمېسيون لپاره نوم ليکنه وکړي او د جرګې نور غړي د هغوی غړيتوب تائيدوي. خو، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې د داخلي کړنو اصول دا شرط رامنځته کوي، چې د جرګو غړي د هغه کمېسيونونو لپاره نوم ليکنه کولای شي، چې د هغوی د تجربو پورې تړاو ولري.[۷۸] د پارلمان يو غړی کولای شي چې په يو وخت کې يوازې د يو کمېسيون غړيتوب ولري. په اساسي قانون او د دواړو جرګو د داخلي کړنو په اصولو کې داسې کوم احکام نشته، چې د دغه کمېسيونونو د کار موده ځانګړې کړي، خو تجربې ښيي چې دغه کمېسيونونه دايمي دي، ځکه چې د دوی غړي د دواړو جرګو د داخلي کړنو په اصولو کې ځانګړې شوي وي.[۷۹] د هر يو کمېسيون غړي د هر ځل پارلماني ټاکنو سره بدلېږي.

پارلماني کمېسيونونه چې په هره ديموکراسۍ کې يوه اړينه برخه وي، اکثراً د مسائلو څار کوي او د قوانينو مسودې رامنځته کوي، ترڅو پارلمان د پرېکړې نيولو نه وړاندې اړين معلومات ولري. په همدې اساس د دواړو مجلسينو کمېسيونونه دا واک لري، ترڅو د قوانينو پر مسودو چې پارلمان يې د تائيد لپاره په نظر کې لري بيا کتنه وکړي، تعديلونه پيشنهاد کړي، راپورونه برابر او د مجلس رئيس ته يې ارائه کړي، په نړيوالو تړونونو او قراردادونو بيا کتنه وکړي، ټول هغه مسائل چې د پارلمان تر واک لاندې دي وڅاري او بيا کتنه پرې وکړي او د ملي او نړيوالو غير دولتي سازمانونو په شمول ټولنيزې اداري وپوښتي.[۸۰] همدا ډول د دواړو مجلسونو کمېسيونونه حق لري، چې وزيران، لوی څارنوال، د ملي امنيت رئيس او ټول هغه چارواکي چې ټاکل يې د پارلمان تائيد ته اړتيا لري، استيضاح کړي.[۸۱] پدې توګه دغه کمېسيونونه د پارلمان سره مرسته کوي، چې د حکومت په کړنو د څار او د قوانينو د رامنځته کولو دندې ترسره کړي.

ولسی جرګه نور اضافی واکونه هم لري، هغه واک لری چې لنډ مهاله کمېسيونونه د حکومت د يوې ځانګړې کړنې د څار لپاره رامنځته کړي.[۸۲] هېڅ څارنه نشي کولای چې د شپږو مياشتو څخه زيات وخت ونيسي. پارلمان د دغه ځانګړو حقيقت پلټونکو کمېسيونونو رامنځته کول ډېر کم ترسره کړي دي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۱۳ م کال په مئ مياشت کې يو ځانګړی کمېسيون ددې لپاره رامنځته کړ، ترڅو د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع قانون په ځينو مادو بيا کتنه وکړي، ځکه دوی ادعا کوله، چې دغه مادې د اسلامي حقوقو سره په ټکر کې دي.[۸۳] په همدې توګه د ۲۰۱۳م کال د جون په مياشت کې اولسي جرګې يو ځانګړی کمېسيون په دې خاطر رامنځته کړ، ترڅو هغه ادعاوې وڅېړي، چې د مالي وزير حضرت عمر زاخيلوال لخوا د ملي شورا د شپږ غړو خلاف يې کړې وې.[۸۴] په دا وروستيو کې ولسي جرګې يو کمېسيون په دې خاطر رامنځته کړ، چې د همدې جرګې د رئيس عبدالروف ابراهيمي خلاف د فساد

۷۷ د ولسي جرګې ټول کميسيونونه او د دوې ټول غړي پيدا کيږي په:

http://wolesi.website/pve/showdoc.aspx?Id=۲۵۳۰

۷۸ د ولسي جرګې د کورنيو کړنو اصول، ۲۳ ماده؛ د مشرانو جرګې د کورنيو کړنو اصول، ۲۲ ماده.

۷۹ د ولسي جرګې ټول کميسيونونه او د دوې ټول غړي پيدا کيږي په:

http://wolesi.website/pve/showdoc.aspx?Id=۴۲۸۲

د مشرانو جرګې په اړه مکمل معلومات پيدا کيږي په:

http://mj.parliament.af/english.aspx

۸۰ د ولسي جرګې د کورنيو کړنو اصول، ۲۲ (۲۰۰۷)، د لاسرسي وړ دي په:

http://wj.parliament.af/english.aspx

۸۱ د افغانستان ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، ۹۳، ۲۴ مادې.

۸۲ د ولسي جرګې د کورنيو کړنو اصول ، ۳۴، ۳۲ مادې (۲۰۰۷)، د لاسرسي وړ دي په:

http://wj.parliament.af/english.aspx

۸۳ وګورئ د پارلمان جوړ شوی کميسيون د ښځو د حقوقو د کتنې لپاره، طلوع نيوز (۲۰ مای ۲۰۱۳) د لاسرسي وړ دي په:

http://prod.tolonews.com/afghanistan/parliament-set-commission-review-women-rights-law

۸۴ وګورئ طلوع نيوز، لوی څارنوالی د ځانګړي کميسيون موندنې باطلې اعلان کړې، (۹ جون ۲۰۱۳) د لاسرسي وړ دی په:

http://prod.tolonews.com/afghanistan/attorney-general-calls-special-commissions-decision-illegal

ادعاګانې وڅېړي.[۸۵] خو ددې سره سره، د ولسي جرګې کمېسیونونه د ستونزو ډک وو او په ځینو وختونو کې دوی هېڅ ناسته ونه کړه او خپل راپورونه یې ولسي جرګې او خلکو ته وړاندې نه کړل. د بېلګې په توګه، هغه ځانګړی کمېسیون چې د ولسي جرګې د رئیس عبدالروف ابراهیمي خلاف د فساد د ادعاګانو د څېړلو لپاره جوړ شوی ؤ، خپلې موندنې یې خپرینه کړې. په همدې توګه هغه ځانګړی کمېسیون چې د مالیې وزیر لخوا د پارلمان پر غړو باندې د جرمي ادعاګانو د څېړلو لپاره جوړ شوی ؤ، دغه ادعاګانې پرته له دې چې خپل راپور خپور کړي، بې اساسه وګڼلې، چې همدې کار یو سیاسي ستونزه رامنځته شوه.[۸۶] د دغه کمېسیون له موندنو وروسته لوی څارنوال دغه موندنې غیر قانون وګڼلې او اخطار یې ورکړ، چې له سترې محکمې به غوښتنه وکړي، ترڅو د پارلمان لخوا د ځانګړو کمېسیونونو د جوړولو د حق د کړنلاری یا طرزالعمل ارزونه وکړي. داسې ښکاري چې لویه ستونزه په پارلمان کې د دسپلین او همغږۍ نشتوالی دی. څرنګه چې په پارلمان کې سیاسي ګوندونه شتون نه لري، د پارلمان غړي تمایل لري چې د نظریو او او لیدلوریو پر ځای د ځواکمنو اشخاصو شاوخوا راټول شي، او په ځینو وختونو کې د پارلمان کې دخپلو همکارانو سره مرسته کوي.

## پارلماني ډلې (ګروپونه)

په معاصره نړۍ کې پارلمانی ډلې د پارلمان لپاره یو اصل ګڼل کېږي، په ځانګړې توګه د افغانستان په څېر سیستمونه چې فعال سیاسي ګوندونه پکې شتون نه لري، له پارلماني ډلو تمه کېږي، چې دغه خلا ډکه کړي، او د پارلمان د استازو سره د کمک او سیاسی افکارو د منځته راوړو د وسیلې استازی وی او په دی توګه د پارلمان سره په بشپړه همغږې او واحده توګه عمل کولو کې مرسته وکړي.

پارلماني ډلې کولای شي، د ګډو موقفونو په رامنځته کولو کې مرسته وکړي ترڅو انفرادي پاشل شوي نظریات منظم او د اجرائیه قوې خلاف یې په تحرک راولي. د واحدې غیر قابل انتقال رایې سیستم پایله دا شوه، چې په لوړه کچه یو وېشل شوی پارلمان رامنځته شو، چې نشي کولای د اجرائیه قوې خلاف یوه واحده جبهه رامنځته کړي. په دې حالت کې په افغانستان کې د پارلماني ډلو د رامنځته کولو تمه دا وه، چې په عمل کې د یو ډېر وېشل شوې او بې دسپلینه پارلمان اغیزه او ثبات زیات کړي.

د دواړو جرګو د داخلي کړنو اصول وایي چې د پارلمان غړي کولای شي چې پارلماني ډلې رامنځته کړي، ترڅو د دوی کړنې همغږې کړي. د پارلمان غړي مکلف دي چې د شریکو نظریاتو او تړاوونو له مخې پارلماني ډلې رامنځته کړي.[۸۷]

د داخلي کړنو په اصولو کې هېڅ داسې څه نشته، چې وښيي شریک نظریات او تړاوونه څه معنی لري. مګر، بیا هم، د داخلي کړنو د اصولو له مخې هېڅ پارلماني ډله د اساسي قانون د احکامو خلاف رامنځته کېدای نشي، معنی یې دا ده چې دغه ډلې ددې په خاطر رامنځته کېدای نشي، چې د شخصي، سیمه ییزو، مذهبي، قومي، ژبنیو یا قبایلي ګټو لپاره کار وکړي. داسې لیدل کېږي چې په افغانستان کې پارلماني ډلې په بحثونو کې د یوه سیاسی منظم چوکاټ صحنی استازیتوب کوي.

له دوی څخه تمه داده، چې د قوانینو د مسودو د منلو یا ردولو په اړه پریکړه ونیسي اوخپلې رایې د ګډو دریځونو له مخې وړاندي کړي.

لږ تر لږه د ولسي جرګې **۲۳** غړو ته اړتیا ده، چې یوه پارلماني ډله رامنځته کړي؛[۸۸] ددې په خاطر چې په مشرانو جرګه کې یوه ډله را منځته شي لږ تر لږه د ۱۱ غړو شتون ته اړتیا ده.[۸۹] د ولسي جرګې او مشرانو جرګې د داخلي کړنو په اصولو کې د پارلماني ډلو په اړه نور احکام نشته، د ولسي جرګې د داخلي کړنو اصول وایي، چې "تکمیلي احکام" باید د پارلماني ډلو د جوړښت، کړنلارې، مسؤلیتونو او د اداري هیئت د ټاکلو د مشخصولو او تنظیم لپاره رامنځته شي.[۹۰] خو باید وویل شي چې دغه تکمیلي احکام تر اوسه ندي رامنځته شوي.

۸۵ وګورئ یلنا بجلیکا او روح الله شوروش، د قضا د قانون ناکامي، څنګه د فساد یوې قضیې ته په پارلمان کې رسیده ګي ونه شوه (کابل: د افغانستان د تحلیلګرانو شبکه، ۲۰۱۸).

۸۶ د طلوع د خبر رسولو شبکه وګورئ، لوی څارنوال د ځانګړي کمیسیون موندنې باطل اعلان کړې، (۹ جون ۲۰۱۳) د لاسرسۍ وړ دي په:

http://prod.tolonews.com/afghanistan/attorney-general-calls-special-commissions-decision-illegal

۸۷ د داخلي دندو اصول، ولسي جرګه، ۱۲ (۲۰۰۷)، د ترلاسه کیدو وړ دی په: http://wj.parliament.af/english.aspx (د جون ۱۵، ۲۰۱۸ کې د لاسرسۍ وړ دی). د مشرانو جرګې داخلي قواعد صراحت لري چې مشرانو جرګه باید د دوستۍ متحد ګروپونه جوړ کړي. د نوموړو ګروپونو دنده د افغان پارلمان او نورو پارلمانونو ترمینځ د اړیکو جوړول، ساتل او قوي کول دي. د مشرانو جرګې داخلي قواعد، ۲۴ ماده (۲۰۱۷)، د ترلاسه کیدو وړ دی په: http://mj.parliament.af/english.aspx

۸۸ د داخلي دندو اصول، ولسي جرګه، ، ۱۸ (۲۰۰۷)، ترلاسه کیدو وړ دی په: http://wj.parliament.af/english.aspx (د جون ۱۵، ۲۰۱۸ کې د لاسرسي وړ دي).

۸۹ پورتنۍ منبع، ۲۰ ماده.

۹۰ پورتنی ماخذ، ۲۲ ماده.

په همدې خاطر په عمل کې د پارلماني ګروپونو جوړول ستونزمن دي.[۹۱] د ډلو جوړول او د پارلمان د غړو دا پرېکړه چې «نوي رامنځته شوي ګروپونو کې شامل شي تر ډېره پدې پوره اړه لري چې د دغې ډلې غړي څوک دي، نه دا چې دوی کوم موقف نیولی دی.»[۹۲] څرنګه چې په افغانستان کې سیاسي ګوندونه د «شخص په اساس» اړېکو له مخې اداره کېږي، څوک باید پدې حیران نه شي چې ولې د پارلمان وکیلان د نظریاتي دلایلو او شریکو نظریاتو پر ځای د شخصي اړیکو له مخې په ډلو کې غړیتوب تر لاسه کوي.[۹۳] په همدې خاطر کله ناکله داسې ښکارې چې د پارلمان یو غړی له یوې د زیاتو ډلو غړی دی. په ډلو کې غړي د شخصي اړیکو او ملاحظاتو له مخې اضافه کیږي. ددې تر څنګ، ډیری ډلې په هغه شرایطو برابر ندي چې اساسي قانون د دواړو جرګو د داخلي کړنو اصول یې ذکر کوي. داسې ښکارې چې ډیری ډلې د کاغذ په مخ جوړې شویدي، پدې مانا چې د پارلمان غړي په ډلو کې ځانونه ثبتوي، خو دغه ډلې رسماً رامنځته شوي ندي، ځکه دوی نشي کولی د ډلې جوړلو لپاره د اړین شمیر غړو ملاتړ راجلب کړي،[۹۴] یا دوی پدې کې پاتې راغلي دي چې قومي، سیمه ییز او مذهبي مصلحتونه له پامه وغورځوي. په همدې اساس، ډیری پارلماني ډلې له رامنځته کیدو وروسته بیرته له منځته تللې دي، ځکه غړي یې بریالی شوي نه دي چې د یو واحد نظریاتې موخی له مخې سره یو ځای شي.[۹۵] په پایله کې، ټولې پارلمانې ډلې اغیزمنې ندي.[۹۶] لاندې جدول په پارلمان کې د شته ډلو د غړو نومونه او شمیر وړاندې کوي، او ددې تر څنګ هغه ډلې هم په نښه کوي چې ثبت شوي وې، خو د اړین شمیر غړو د نه شتون له کبله رامنځته نه شوې.

۹۱ وردس ورت، د ګټو موضوع، viii.

۹۲ پورتنی ماخذ، ۱۸.

۹۳ پورتنی ماخذ.

۹۴ انا لارسن، د افغانستان نوې دیموکراتیکه ډله: یوه معنا یا تګلاره د دیموکراتیکی تنظیم لپاره، (کابل: افغانستان ریسرچ او مطالعې برخه، خلاصه برخه، ۲۰۰۹).

۹۵ انډریا فلشنبرګ، د افغانستان پارلمان په جوړونه کې: جنسیتی تفاهم او د سیاسیونو کړنې ۲۰۰۹ (UNIFEM)

۹۶ د مجرب کتنه، د زلمی مالیار په واسطه په کابل کې (۸ جولای ۲۰۱۸).

**د پارلمان د ۱۲ مې دورې د ډلو نومونه او د غړو شمېر: هغه ډلې چې رامنځته شوې وې، او هغه چې وېې نکړای شول د اړینو ۲۳ غړو ملاتړ راجلب کړي**

| ګڼه | د ډلې نوم | غړي | د ډلو مشران | د ډلو د مشرانو مرستیالان |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ملي پیمان ډله | ۱۱ (ثبت شوې خو رسماً رامنځته نه شوه) | غلام فاروق نظري | محمد فرهاد صدیقي |
| ۲ | د ملت د وحدت ډله | ۱۵ غړي (ثبت شوې خو رسماً رامنځته نه شوه) | انجینر صاحب خان | ملا سید محمد اخند |
| ۳ | د سولې کاروان پارلماني ډله | ۴۵ غړي | حاجي عبدالظاهر قدیر | جنرال نظیفه ذکي |
| ۴ | د سولې ډله | ۲۰ غړي (ثبت شوې خو رسماً رامنځته نه شوه) | ډاکټر عبید الله کلیمزی | رحیمه جامي |
| ۵ | مرام پارلماني ګروپ (رسالت) | ۲۸ غړي | رئیس عبدالباقي ملکزاده | محمد سرور عثماني |
| ۶ | سبا پارلماني ډله | ۲۸ غړي | محمد الماس زاهد | شیرعلي وردک |
| ۷ | د ملي هوساینې پارلماني ډله | ۱۸ غړي (ثبت شوې خو رسماً رامنځته نه شوه) | صفی الله مسلم | ناصر احمد غوریاني |
| ۸ | د ښځو د سیاسي ونډې اخیستلو د زیاتوالي ډله | ۲۲ غړي (ثبت شوې خو رسماً رامنځته نه شوه) | فوزیه کوفي | ورمه صافی |
| ۹ | د عدالت د غږ پارلماني ډله | ۲۳ غړي | شاه ګل رضایي | چمن ګل اعتمادي |
| ۱۰ | د آزاد افغانستان پارلماني ډله | ۲۹ غړي | همایون همایون | محمد رضا خوشاک |
| ۱۱ | خپلواکه پارلماني ډله | ۲۰ غړي (ثبت شوې خو رسماً رامنځته نه شوه) | لیاقت الله بابکر خیل | عبدالصبور خدمت |

سرچینه: د ولسي جرګې رسمي کورپاڼه[۹۷]

داسې استدلال کېږي چې هغه پارلماني ډلې چې د نظریاتو او موخې په اساس رامنځته شوې وي، ډېر امکان شته چې دغه ډلې به د یو سره تړلي او متحده ادارې په توګه د پارلمان د فعالیت د لانبه والي سبب وګرځي، نسبت هغه ډلو ته چې د قومي او نورو پېژندنو په اساس رامنځته شوې وي.[۹۸] د نظریو په اساس رامنځته شوي پارلماني ډلې چې "د قومي، مذهبي، ژبنې، جنسي او نورو ټولنیزو خنډونو پولې ماتې کړې، ډېر امکانات شته چې د پراخه بنسټیزه اغیزو او قانع کوونکو خپرونو او اوږدمهاله کمپاینونو لپاره به ډېره اغیزمنه وي، نسبت هغه ډلو ته چې غړیتوب یې د یوې ځانګړې پېژندنې له مخې اخیستل کېږي."[۹۹] د طالبانو څخه وروسته کله چې په **۲۰۰۵** کې لومړنی پارلمان رامنځته شو، په افغانستان کې یوازې څو پارلماني ډلې د نظریو په اساس رامنځته شویدي. ډېری ډلې د سیمه ییزو او قومي ګټو له مخې جوړې شوې وې، او پدې توګه دغه ډلې ددې وړ نه وې چې د یوې ادارې په توګه د پارلمان کړنې لا غوره کړي. د بېلګې په توګه، یو تر ټولو اوسنۍ پارلماني ډله، (لاندې دوهم شکل وګورئ)، چې ثبت شوې دی خو تر اوسه رسماً رامنځته شوې ندی، ځکه د اړین شمیر غړو ملاتړ له ځان سره نلري، د قوم او ډلې په اساس رامنځته شویدی، نه د شریکو نظریاتو او نه هم د مرام پر بنسټ. دا به کیدای شي یو دلیل چې ولې دغه پارلماني ډله بریالی نشوه چې د پارلمان د نورو هغه غړو ملاتړ تر لاسه کړي چې د نورو قومي ډلو پورې تړلي دي.

۹۷ ددغو پارلماني ګروپونو د بشپړ لیست په اړه، وګوره ولسي جرګې پارلماني کروپ په http://wolesi.website/pvd/showdoc.aspx?Id=۵۵۲۵

۹۸ وردس ورت، د ګټو موضوع، ۱۷.

۹۹ پورتنی ماخذ.

| گڼه | بشپړ نوم | | موقف | ولایت |
|---|---|---|---|---|
| | نوم | تخلص | | |
| ۱ | محمد نور | اکبري | رئیس | دایکندي |
| ۲ | محمد عارف | شاه جهان | مرستیال | غزني |
| ۳ | سید نادر شاه | بحر | منشي | غور |
| ۴ | سید حسین | عالمي بلخي | غړي | کابل |
| ۵ | محمد ابراهیم | قاسمي | غړی | کابل |
| ۶ | فاطمه | نظري | غړي | کابل |
| ۷ | کبرا | مصطفوي | غړي | کابل |
| ۸ | محمد | اکبري | غړي | بامیان |
| ۹ | سید م. جمال | فکوري بهشتي | غړي | بامیان |
| ۱۰ | صفورا | الخاني | غړي | بامیان |
| ۱۱ | ریحانه | ازاد | غړي | ارزگان |
| ۱۲ | محمد علي | اخلاقي | غړي | غزني |
| ۱۳ | انجینر حمیده | اکبري | غړي | میدان وردک |
| ۱۴ | نعمت الله | غفاري | غړي | هلمند |
| ۱۵ | عبدالقیوم | سجادي | غړي | غزني |

سرچینه: د ولسي جرګې رسمي کورپاڼه[۱۰۰]

د مشرانو جرګه یوازې یوه پارلماني ډله لري. دغه ډلې ته د قانون د ساتنی ملي ډله ویل کیږي. دغه ډله په **۲۰۱۵** کې رامنځته شوي وه چې اوس مهال **۳۵** غړي لري. انجینر حسیب الله کلیمزی، چې د میدان وردګ ولایت څخه د مشرانو جرګې غړی دی ددغه ډلې مشري کوي.[۱۰۱] دغه ډله اساساً په هغو مسودو او قوانینو چې مشرانو جرګې ته د تائید لپاره راځې بیا کتنه او تبصرې کوي.

۱۰۰ وګوره ولسی جرګه پارلماني ګروپ، اعتماد پارلماني ګروپ په http://wolesi.website/pve/showdoc.aspx?Id=۲۰۴۳

۱۰۱ وګوره د مشرانو جرګې پارلمانی ګروپ، ملي پارلماني ګروپ د قوانیو په تحکیم باندې، په http://www.meshran.website/pvd/document.aspx?Cat=۲۹

## د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون کې د پارلمان دندې او واکونه

د ۱۳۸۲ کال اساسی قانون د پخوانیو اساسي قانونونو په پرتله پارلمان ته زیات واکونه ورکړي دي . دې د پارلمانونو په شان د افغانستان پارلمان هم دري اساسی دندې لري: د ملت د ارادې استازيتوب، د قوانينو د طرحو جوړول او تصويبول او د اجراييه قوې په کړنو څارنه. په ځانګړې ډول پارلمان ( ولسی جرګه او مشرانو جرګه) لاندې واکونه لري:

د قوانينو او تقنيني فرمانونو تصويب، تعديل او لغوه کول،[۱۰۲] د ټولنيزو ، کلتوری ، اقتصادي او ټکنالوژيکی پرمختيايي پروګرامونو تصويب ، د دولتی بوديجې تصويب، د اداري واحدونو ايجاد ، تعديل او لغوه کول او د نړيوالو تړونونو او کنوانسيونونو تصويب.[۱۰۳]

همدارنګه د څارنې واکونو پر اساس دواړه جرګې کولای شي د اړونده ادارو د موضوعاتو په اړه وزيران استجواب کړي، وزيران کولای شي شفاهی يا کتبی ځوابونه ورکړي.[۱۰۴]

که څه هم د ۱۳۸۲ اساسي قانون، پارلمان د قانون جوړونې لوړ ارګان بللي، اما په دې قانون کې ځينې داسې احکام هم شته چې د پارلمان د قانون جوړونې واکونه يې کم رنګه کړي دي . د بيلګې په توګه د اساسی قانون ۹۷ مادې په اساس پارلمان مکلف دې چې د اجراييه قوې د قانوني طرحو او نړيوال تړونونو تصويب ته لومړيتوب ورکړي. په ځانګړې توګه د مالي موضوعاتو اړوند اساسي قانون د پارلمان واک لا محدود وي. د بيلګې په طور د اساسی قانون د ۹۸ مادې پر اساس ولسي جرګه د يوې مياشتي څخه زيات د بوديجې تصويب نشي ځنډولی، همدارنګه د حکومت له خوا د پور اخيستلو او ورکولو وړانديز تر ۱۵ ورځو زيات نه شی ځنډولی. که ولسي جرګه په دغه موده کې د پور اخيستلو او ورکولو وړانديز په اړه تصميم ونه نيسي، وړانديز تصويب شوی ګڼل کيږي.

پورتني درې موارد د پارلمان استقلاليت او واک يو ډول ګواښي، ځکه دا موارد پارلمان د اجراييه قوې په خدمت کې اچوي.[۱۰۵] همدارنګه د اساسي قانون ۷۶ مادې حکومت ته د مقرراتو وضعه او تصويب واک ورکړي دی، په دی شرط چې دا مقررات د هيڅ قانون له نص يا روح سره په ټکر کې نه وي. حکومت د اړتيا به صورت کې کولای شي مقررات وضعه کړي ، د مقرراتو وضعه کولو کې د پارلمان تصويب ته اړتيا نه شته.[۱۰۶] همدارنګه د اساسي قانون ۷۹ مادې په اساس حکومت کولای شي د ولسي جرګې د ځنډ په وخت د بيړنې اړتيا پر اساس د ولسمشر د تقنينی فرمانونو له لارې قانون جوړونه وکړي.[۱۰۷]

د ولسمشر له خوا زيات تقنيني فرمانونه صادر شوي، په ځانګړې توګه دا فرمانونه په هغه مواردو کې دي چې د پارلمان او اجرايې قوې ترمنځ پکې اختلاف وو. د بيلګې په توګه په ۲۰۱۲م جون مياشت کې ولسمشر غني د ټاکنو نوي قانون د پارلمان د تصويب پرته د فرمان له لاري نافذ کړ ، دا په داسې حال کې چې پارلمان د ولسمشر له خوا د ټاکنو اړوند دوه تقنيني فرمانونه رد کړي ول[۱۰۸] نو کله چې پارلمان وځنډيد يا تعطيل شو ولسمشر غنی د ۱۵۹ فرمان په اساس د ټاکنو نوي قانون وضعه کړ.[۱۰۹] د ۱۳۸۲ کال د اساسی قانون په اساس هغه تقنيني فرمانونه چې دپارلمان د تعطيل په وخت کې وضع کيږي، د پارلمان د تعطيل نه وروسته بايد تصويب ته وړاندې شي. ولې په زياتو مواردو کې د حکومت لخوا دغه تقنيني فرمانونه د تصويب لپاره ندي وړاندې شوی او دا پدې خاطر چې د پارلمان له خوا رد نه شي. دغه مسلې جدي ستونزې رامنځته کړي دي. مثلا يوه ستونزه دا ده چې دغه تقنيني فرمانونه د اساسي قانون د ۷۹ مادې د شرايطو سره اړخ نه لګوي يعني د بيړنۍ اړتيا پر اساس نه دي وضعه شوي.[۱۱۰] د بيلګی په توګه د ۲۰۱۸ م کال جزا

---

۱۰۲ دواړه جرګې مشابه قانوني واکونه نه لري، د حکومت له خوا قانوني طرحې لومړی ولسي جرګې ته ځي، بيا وروسته د تصويب لپاره مشرانو جرګې ته ځي. که چيري د يوې جرګې فيصله د بلې جرګې له خوا رد شي، نو يوه مشترکه کميټه جوړيږي، که مشترکې کميټې موضوع حل نشوای کړای ، نو مسوده بېرته ولسي جرګې ته ځي. که ياده طرحه يا لايحه د ولسي جرګې د غړيو د ۳/۲ رايو په اکثريت تصويب شوه، په قانون بدليږي. افغانستان اساسي قانون: ماده ۱۰۰

۱۰۳ پورتنۍ منبع، ۹۰ ماده.

۱۰۴ پورتنۍ منبع، ۹۲ ماده.

۱۰۵ ګروپ: د قواوو تفکيک: ۹۰۹

۱۰۶ پورتنۍ منبع.

۱۰۷ اساسي قانون د ۷۹ مادې حالت په روښانه توګه نه دی تعريف کړي، پس حکومت د اضطراري حالت د مواردو وړاندې کولو کې خلاص لاس لري. پارلمان لپاره يوه لاره پاتې ده چې خپل واک حفظ کړي، هغه د رخصتۍ څخه وروسته د هغه تقنيني فرمانونو ردول دي چې د پارلمان د رخصتيو پر مهال صادر شوي وي.

۱۰۸ علي ياور عادلي، سليمه احمدي، لانی لينکي، او کيټ کلرک: ( د ۲۰۱۲ کال انتخاباتو لپاره بل خنډ )، د پارلمان غړو د ولسمشر فرمان د انتخاباتي کميسون په اړه رد کړ. (د افغانستان د تحليلګرانو شبکه، ۲۰۱۲).

۱۰۹ د ټاکنيزو اصلاحاتو فرمان د پارلمان تصويب ته اړتيا نه لري، پژواک خبري اژانس: لاس رسۍ تاريخ، ۲۰۱۸, July, ۱۳

https://www.pajhwok.com/en/۲۰۱۲/۰۲/۱۲/%E۲%۸۰%-۹۸Electoral

reform-decree-doesn%E۲%۸۰%۹۹t-need-parliament-approval%E۲%۸۰%۹۹

۱۱۰ د افغانستان اساسي قانون ۲۰۰۴، ۷۹ ماده.

کوډ د تقنیني فرمان په اساس د پارلمان د تصویب پرته نافذ شو. همدارنګه د ۲۰۱۳ م کال د ښځو پروړاندي د تاوتریخوالي قانون او اوسنی د املاکو قانون دواړه په عادي حالاتو کی د تقنیني فرمان په اساس نافذ شول.

په پورتنیو دریو واړو مواردو کی د بیړنی اړتیا موضوع نه وه. حکومت د پارلمان تعطیل د یو فرصت په توګه استعمال کړاو دا په دې خاطر چې دا فرمانونه د پارلمان لخوا رد نشي. د دې فرمانونو بله ستونزه دا ده چې د محاکمو لخوا نه پلي کیږي، ځکه محاکم استدلال کوي چې دغه فرمانونه د اساسي قانون د تعریف پر اساس قانون نه شمېرل کېږي. اساسی قانون، قانون هغه مصوبه ګني چې د پارلمان د دواړو جرګو لخوا تصویب او د ولسمشر لخوا توشیح شوی وي[111] نو که تقنیني فرمانونه د پارلمان ته تصویب لپاره وړاندي شی او تصویب نه شي، قانوني واک نه غوره کوي. وروسته پری بحث وشی، د ۱۳۸۲ اساسی قانون احکامو حکومت ته د قانون جوړونی واک ورکړی دي، دې احکامو په عمل کې د پارلمان د قانون جوړونې واک کم رنګه کړی دی، په همدې خاطر ده چې پارلمان د قانون جوړونې په برخه کې غیر فعال رول لوبولی یعني تراوسه یې خپله د قانون طرحه نده وړاندي کړي.

د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون ولسي جرګی ته زیات سیاسي واک ورکړی د همدي واک په اساس ولسي جرګه د حکومت کړنې تر څار لاندي نیولی شی. اساسي قانون ولسي جرګې ته واک ورکړی، چې د وزیرانو څخه د هغوی د کړنو په اړه پوښتنې وکړي، د پرمختیایي پروګرامونو ، دولتي بودیجې په باب پریکړه ونیسي او د ولسمشر لخوا معرفی شوي اشخاص تائید یا رد کړي.[112] د نړی د نورو دیموکراتیکو اساسی قوانونونو په شان د ۱۳۸۲ اساسي قانون پارلمان ته واک ورکړی چي لوړ پوړي دولتي چارواکو ته د باور رایه ورکړي. همدارنګه که دوي فکر وکړي چي دوی د جدي سرغړونی او یا د قانون د نقض مرتکب شوي، د باور رایه تري اخلي.[113] د ولسي جرګې یو اړین واک د اساسی قانون په ۹۲ ماده کې پروت دی. د دې مادې د احکامو پر اساس ولسي جرګه کولای شي د خپلو ټولو غړیو د ۲۰ فیصده وړاندیز پر بنسټ هر وزیر استیضاح کړي. که د وزیرانو له خوا وړاندي شوی توضیحات د قناعت وړ نه وي، ولسي جرګه د بی باوری رایې موضوع څېړي. د وزیرانو بی باوری رایه صریحه، مستقیمه او پر ښو دلایلو ولاړه وي او دغه رایه به د ولسي جرګې د ټولو غړیو د رایو په اکثریت حسابیږي.[114]

اساسي قانون د ۹۳ مادې پر اساس د ولسي جرګی لپاره د حکومت د کړنو د څار په موخه څلور مختلف میکانیزمونه وړاندي کړي دي: لومړی میکانیزم استماع ده، په استماع کې ولسي جرګه وزیران دعوت کوي ، وزیران خپل راپورونه وړاندي کوي، د ولسي جرګې د غړیو لخوا د وزیرانو د کړنو په اړه پوښتنې او څېړنې نه کیږي. دوهم میکانیزم استجواب دی ، په استجواب کې د ولسي جرګې لخوا وزیران دعوت کیږي او د وزارت اړونده موضوعاتو په اړه تري پوښتنې کیږي او وضاحت تري غواړي. دریم میکانیزم استیضاح دي، په استیضاح کې د بی باوری رایې موضوع منځته راځي؛[115] او څلورم میکانیزم د بی باوری رایې موضوع ده. دا څلورواړه میکانیزمونه د یوې پروسي په شکل د راپورونو له اوریدو څخه شروع او د بی باوری رایې سره پای مومی. د افغانستان ولسي جرګه معمولا د استجواب میکانیزم څخه اخیستنه کوي ، مخکي نه ځي. ښه بیلکه یې په ۲۰۱۸م سپتمبر ۲۴ کې د اوبو لګونی او مالداری وزیر او د افغانستان بانک عمومی ریس استجواب وه، دواړو څخه یې د اړوندو ادارو د کړنو په اړه پوښتنې وکړي او پریکړه یی ونیوه چي استیضاح ته نه ځو.

ولسی جرګه ددغو میکانیزمونو څخه په دي خاطر ګټه اخیستنه کوي چي اجراییه قوه، په ځانګړي ډول وزیران د څارلاندي ونیسي، حتی د ولسي جرګې سره ټولو وزیرانو د سلب اعتماد ویره نه وي. مثلا په ۲۰۱۲م نومبر ۱۲، ولسي جرګې د ټولو هغو وزیرانو چی د ۲۰۱۵ م مالي کال د پراختیایي بودیجې ۷۰ سلنی څخه کم لګښت کړي وه، استجواب کړل.[116]

خو ولسي جرګې د اوو وزیرانو وضاحت د باور وړ ونه باله، هماغه و چي د باور رایه یې تري واخیسته.[117]

بالاخره د ۱۳۸۲ اساسي قانون په لاندي مواردو کې د پارلمان تصویب اړین ګڼلی: د هېواد د سیاست اساسي کرښو ټاکل ، د جګړي اعلان ، بهر ته د وسله والو ځواکونو لیږل او د اضطراري حالت اعلان.

۱۱۱ د افغانستان اساسي قانون ۲۰۰۴، ۹۴ ماده.

۱۱۲ پورتنی منبع، ۹۱ ماده.

۱۱۳ محمد هاشم کمالي، (د اجراییه قوي او پارلمان ترمنځ اړیکه او د اساسي قانون د تفسیر او قضاوت ستونزه د کرزي د حکومت د کلونو په جریان کې). د حمیده برمکی بنسټ، قانون حاکمیت لپاره، ۲۰۱۵ څېړنیز کاري پاڼه:

http://www./۲۰۱۷/۰۹/HBORL-WP-۲۰۱۵-۰۱--Kamali_Relations- between between-executive-and-parliament-and hborl.org.af/wp-content/uploads.constitutional-Interpretation.pdf

۱۱۴ د افغانستان اساسي قانون. ۲۰۰۴. ۹۲ ماده.

۱۱۵ استیضاح حکومت ته د یو مجلس رسمي درخواست دی ترڅو د مجلس پوښتنو ته ځواب ورکړي. دا له استجواب سره توپیر لرونکي روش او لاره ده. نوموړی پارلماني روش د استازو د مجلس د یو ډله ځانګړیو غړو مرستې ته اړتیا لري. استیضاح د عدم اعتماد رایې سره مستقیمه اړیکه لري. او په استجوابې ناسته کې یواځې د وزیرانو څخه پوښتنې کیږي، د عدم اعتماد ویره نه وي.

۱۱۲ توماس راټینګ، ( پارلمان بیا ځلې له وزیرانو سره مبارزه کوي) ( د څو بعدي ځواک ستونزه) کابل، د افغانستان د تحلیلګرانو شبکه. ۲۰۱۲

۱۱۷ پورتنی منبع.

که چیري د پارلمان د یوې جرګې لخوا د بلې جرګې پریکړه رد شي، د موضوع د حل په خاطر د دواړو مجلسونو څخه یو ګډه کمیته جوړیږي. اساسي قانون او د دواړو جرګو د داخلي دندو لایحو د ګډې کمیټې د کارموده نه ده وړاندوینه کړې. که ګډه کمیته د موضوع په حل کې پاتې راشي، نو د ولسي جرګې پریکړه وروستی ګڼل کیږي.

د دواړو جرګو ترمنځ د واک نا برابره تقیسم، دا منعکس کوي چې مستقیماً د خلکو لخوا ټاکل شوې ولسي جرګه د نیمه ټاکنیز مشرانو جرګې په نسبت د دیموکراتیکې قانون جوړونې په اساس برتري لري.[118]

**د ولسي جرګې او مشرانو جرګې د واکونو ترمنځ لنډه مقایسه**

| واکونه | ولسی جرګه | مشرانو جرګه |
| --- | --- | --- |
| د ولسمشر لخوا معرفي شوي اشخاص تائید او رد | لري | نلري |
| د وزیرانو سلب اعتماد | لري | نلري |
| دولتي بودیجې تصویب | لري | نلري |
| د پرمختیایي پروګرامونو تصویب | لري | نلري |
| د قوانینو تصویب، تعدیل او لغوه | لري | لري |
| د ولسمشر او مشرانو جرګو لخوا د ویتو شوو مصوبو تصویب | لري | نلري |
| د پارلمان د ګډې ناستې ریاست | لري | نلري |
| د ولسشمر او مرستیالانو د مرګ په صورت کې د ولسمشر د دفتر خار | نلري | لري |
| د ځانګړو څېړنیزو کمیسیونو نوجوړول | لري | نلري |
| د نړیوالو تړونونو تصویب | لري | نلري |

۱۱۸ ګروټ، د قواوو تفکیک ۹۱۰.

# په عمل کې د پارلمان دندې او واکونه: ۲۰۱۸-۲۰۰۵

د ۲۰۰۵ م کال د سپتمبر په ۱۸، نږدې شپږ میلیونه افغانانو د افغانستان په تاریخ کې د ولسي جرګې ۱۵ مې دورې د ټاکلو لپاره رایې وکارولې. د څلورو لسیزو څخه ډیره موده کې دا لمړی ځل و چې د افغانستان مقننه قوه په دیموکراتیکه بڼه وټاکل شوه.[۱۱۹] دقیقاً پنځه کاله وروسته، د ۲۰۱۰م کال د سیپتمبر په ۱۸ افغانان یو ځل بیا د رایې اچوونې مرکزونو ته لاړل او ـ د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په چوکاټ کې یې د افغانستان پارلمان ته رایه واچوله.

د پارلمان پنځه کلنه دوره ( په ځانګړې ډول ولسي جرګه) چې ۲۰۱۰ کې پیل شوې وه د ۲۰۱۵ کال د جون په ۲۲ پای ته ورسیده او د راتلونکو پارلمان لپاره ټاکني د ۲۰۱۵ کال په اپریل کې په نظر کې نیول شوي و.خو د بیلا بیلو دلایلو، لکه نا امنۍ، د ټاکنو لپاره د لوجیستیکي توکو کموالی، له سیالۍ ډکې ولسمشریزې ټاکنې، د ټاکنو ناکام کمیسون او د بودیجې کموالي له کبله حکومت ونشو کړای چې په ۲۰۱۵ کال کې ټاکني وکړي. بالاخره د ټاکنو خپلواک کمیسون پریکړه وکړه چې پارلماني ټاکني د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر میاشت کې وکړي، خو تر دې مهاله د ټاکنو خپلواک کمیسون د ټاکنو وروستۍ تائید شوې پایلې نه دي اعلان کړې. په ۲۰۱۰ کال کې ټاکني شوې پارلمان لا هم پخپل ځای دی او د قانوني مودې څخه یې له درې کلونو زیاته موده تېرېږي.

کله چې افغان پارلمان د ۲۰۰۵ م کال د ډیسمبر په ۱۹ مه په کار پیل وکړ، سمدلاسه یې پر اجراییه قوې د څار قانوني حق څخه ګټه اخیستنه پیل کړه. د یو قانون جوړونکي ارګان په توګه یې خپله لمړنۍ اړینه لاسته راوړنه د ۲۰۰۷ م کال د مارچ میاشت کې ترلاسه کړه، کله چې پریکړه یې وکړه چې د ولسمشر کرزي کابینه باید په انفرادي ډول تائید ترلاسه کړي ددې پرځای چې ټوله کابینه یې ترلاسه کړي. دا داسې یو ګام و چې کولای شول ووایو، پر اجرایه قوې باندې د پارلمان اغیز او کنترول زیات کړای شي[۱۲۰] همداراز د ۲۰۰۷ م کال د می په میاشت کې ، پارلمان پخوانی ولسمشر کرزی اړ کړ چې د سترې محکمې غړي بدل کړي، کوم چې ټول د کرزي لخوا د ولسشمریزو فرمانونو پر اساس او د پارلمان له رایې پرته ټاکل شوي و[۱۲۱]. وروسته پارلمان پدې خبره ټینګار لا زیات کړ او وویل چې ټول لوړ پوړې دولتي چارواکي، د لوی څارنوال او د ملي امنیت د ریس په ګډون، یوازې هغه صورت کې ټاکل کیدای شي چې د پارلمان څخه د تائید رایه ترلاسه کړي. په دا وروستیو کې کله چې د ملي یووالي حکومت د خپلې کابینې لمړني وزیران د تائید رایي ترلاسه کولو لپاره پارلمان ته واستول، له یو څو پرته ډیری نوماند وزیران رد شول.[۱۲۲] له دې سربیره، په ۲۰۱۵-۲۰۱۲ کال کې پارلمان ګڼ شمیر هغه ولسمشریز فرمانونه رد کړل چې د ټاکنیز سیستم د اصلاح لپاره ورکړل شوي و.

د ډیرو نوماند وزیرانو او تقنیني فرمانونو ردولو دا وښوده چې پارلمان د اجراییه قوې د واک په کنترولولو او د قوانینو په جوړولو، اصلاح کولو او لغوه کولو کې د یو قوي بنسټ په توګه راڅرګند شوی دی. ډیری څارونکو له دغو ګامونو څخه ستاینه وکړه او هیله یې څرګنده کړه چې پارلمان پر اجرائیه کړنو باندې د یو اغیزناک څارونکي په توګه خپل کار ته دوام ورکړي.خو په عمل کې داسې ښکاري چې پارلمان پر اجرائیه قوې باندې د قوي څار لرلو برخه کې پاتې راغلی. د وخت په تیریدو او دا چې د اجراییه قوې سره د پارلمان اړیکې پیکه شوې، پارلمان هغه واکونه په تدریجې ډول د لاسه ورکړل کوم چې یې رسمي باور پوخ کړی و او پر اجراییه قوې یې کنترول زیات کړی و.

پرځای یې د پارلمان غړو د خپلو شخصي امتیازاتو په زیاتولو پیل وکړ؛[۱۲۳]، د بیلګې په ډول د پارلمان غړو د پارلماني مصونئت قانون جوړ کړ او خپل ډیر وخت یې د خپلو معاشونو د ډیروالي او حقوقو اړوند بحثونو باندې تیر کړ.[۱۲۴] اجراییه قوې هم د پارلمان د پریکړو پروړاندې بې تفاوتي پیل کړه او پدې ډول یې د پارلمان ارزښت را ټیټ کړ. دبیلګې په ډول په څو قضیو کې چې پارلمان یو وزیر سلب واک کړی، خو اجراییه قوې هغه وزیر د سرپرست وزیر په توګه په همغه چوکۍ ساتلی. تر ټولو وروستۍ بیلګه یې د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني ده چې د ۲۰۱۲ م کال په نومبر میاشت

۱۱۹ اندري ویلدر، تقسیم شوي جرګه، د ۲۰۰۵ م کال د افغانستان انتخاباتو تحلیل. کابل، د افغانستان د تحقیق او ارزوني اداره. ۲۰۰۵.

۱۲۰ کینیت کاتزمین، افغانستان: سیاست، انتخابات، او د حکومت اجرات، واشنګټن ډی سي ، د کانګریس څېړنیز خدمتونه، ۲۰۱۵، ۷، د لاسرسې وړ دی په: https://fas.org/sgp/crs/row

pdf.RS۲۱۹۲۲ ؛ (د جون ۱۷ کال ۲۰۱۸ کې د لاسرۍ وړ دی).

۱۲۱ پورتنۍ منبع.

۱۲۲ توماس روټتیک، او د افغانستان د تحلیلګرانو شبکه ټیم: افغانستان اوس د اساسي قانون مطابق کابینه لري: یوولسو کاندید وزیرانو د اعتماد رایه ترلاسه کړه، د لته یې وګورئ - available at: https://www.afghanistan-analysts.org/afghanistan-has-now-a-constitutional-cabinet-eleven-minister- candidates-received-votes-of-confidence/(د دسامبر ۱۴ کال ۲۰۱۸ کې تر لاسه شوی.

۱۲۳ وینبیوم، افغانستان: غیر حزبي پارلماني دیموکراسي: د پرمختایې سیمو ژورنال ۷، لومړۍ ګڼه، (۱۹۹۲).

۱۲۴ طلوع نیوز، ولسي جرګې قانون تصویب کړ چې په اساس یې د پارلمان غړي زیات امتیازات ترلاسه کوي. ۲۰۱۴، جولای، ۱۴ : دلته یې وګورئ: https://www.tolonews.com/afghanistan/lower-house-passes-law-giving-new-privileges-mps. (Accessed on ۱۴ September ۲۰۱۸). ( د ۲۰۱۸ کال د سپټمبر په ۱۴ نیټه د لاسرۍ وړ دی)

کې د پارلمان لخوا سلب واک شو خو لا هم د دغه وزارت د سرپرست په توګه په خپل ځای پاتې دی. دا سې ښکاري چې د پارلمان اجرات کمزوري شوي او د قانون جوړونې او څارکرنې یې د افغان او بهرنیو پالیسي جوړونکو او څارونکو لخوا تر نیوکې او پوښتنې لاندې راغلي دي.

## په عمل کې د پارلمان د قانون جوړونې واک

د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون پارلمان ته واک ورکوي چې اړین قوانین جوړ کړي. د قانون جوړونې وړاندیز ښایي د حکومت، سترې محکمې ( یوازې په قضایي موضوعات ) او یا د پارلمان د لسو غړو په غوښتنه او د ټولو غړو د پنځمې برخې په تائید ، پیل شي.[۱۲۵] له ۲۰۰۵ کال راپدیخوا ، کله چې د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون په رڼا کې لمړنی پارلمان وټاکل شو ، افغان پارلمان تردې مهاله ډېر قوانین تصویب کړي دي.[۱۲۶] که څه هم ددغو قوانینو له ډلې یوازې څو یې د پارلمان له داخل څخه راغلي او تقریباً ټول یې د اجراییه قوې له لوري وړاندیز شوي دي.[۱۲۷]د بیلګې په ډول د ۲۰۰۵ کال راهیسې پارلمان توانیدلی یوازې پنځه قوانین پخپله جوړ او تصویب کړي. دغو قوانینو کې، د ۲۰۰۷ کال د ملي پخلاینې او عمومي عفوې قانون دی،[۱۲۸] د ۲۰۱۴ کال د پارلمان د غړو د امیتازاتو او مصونیت قانون، د ۲۰۱۲ کال د ښځو او کوچنیانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون، د ۲۰۱۴ کال د افغانستان د ډیپلماتیک او قونسلي کارمندانو قانون او د ۲۰۱۷ کال د قانوني اسناد د چاپ او خپور قانون، شامل دي.

ډیرو هغه ماهرینو چې ددې څېړنې لپاره ورسره مرکې شوې دی، ویلي چې د پورته ذکر شویو قوانینو کوچنی شمیر ښیي چې پدغه برخه کې د پارلمان کړنې د قناعت وړ نه دي. دغې موضوع ته دقیقه او ژوره کتنه دا په ډاګه کوي چې پارلمان د قوانینو د جوړولو په برخه کې د ماهرینو او قانوني پوهې له کموالي سره مخ دی. دغه قوانین په ګونګ ډول جوړ شویدي او یوازې څو مادې لري. له دې سربیره ددغو قوانینو له ډلې یې د ځینو په پښتو او دري بڼو کې هم توپیرونه لیدل کېږي.

د پارلمان په دننه کې د قانوني متنونو د رامنځته کولو لپاره د وړتیا د کموالي په اړوند ماهرین لاندې دلایل په ګوتو کوي. لمړی، پارلمان تر ډېره حده پاشلی دی؛ هیڅ ډول سیاسي ډلې او یا بانفوذه ګروپونه شتون نه لري چې د قوانینو وړاندیز کولو او جوړولو برخه کې ګټور رول ولوبوي. دویم، شخصي او ګوندي سیالۍ ؛ دغې سیالۍ د پارلمان د غړو لپاره د قانون د جوړولو چاري پیچلې کړې دي. دریم، د پارلمان ډېر غړي لوړې تخصصي زده کړې نه لري( دویمه ضمیمه د پارلمان د غړو د تعلیم درجه ښیي). څلورم، د پارلمان ډېر غړي ډېر وخت غیرحاضر وي. پنځم، دقانون جوړونې چارو لپاره ډېر کم حقوقي ملاتړ شتون لري.

همدا دا ډول حقوقي ملاتړ یا همکاري چې د نړیوالو غیر دولتي ادارو لخوا د ځانګړو پروژو په چوکاټ کې وړاندې کیږي، لنډ مهالي وي. د پورتنیو خنډونو جوړښت له پارلمان څخه یو داسې بنسټ جوړ کړی چې په قانون جوړونه کې یې رول یوازې د قوانینو تصویب دی چې د اجراییه قوې لخوا وړاندیز شوي دي.

همداراز هغه ګونګ حقوقي چارچوب چې د پارلمان د قانون جوړونې واکونه یې احاطه کړي، د پارلمان په اجراتو منفي اغیز کړی دی. ددې حقیقت سره سره چې اساسي قانون اجراییه قوې ته د پام وړ قانون جوړونې واک ورکړی، ولسمشر ته یې هم واک ورکړی چې هغه قانون ویټو کړي چې پخپله پارلمان جوړ کړی وي او یا د هغه قانون اصلاح شوې بڼه چې د اجراییه قوې لخوا ورته لیږل شوی وي. پارلمان هم دا حق لري چې دوه ثلثه اکثریت سره د ولسمشر ویټو رد کړي خو په عمل کې ددغه حق څخه کار اخیستنه هیڅکله اسانه نه وه. په هغو قضیو کې چې پارلمان د ولسمشر ویټو ردکړې وي، ولسمشر دغه پریکړې سترې محکمې ته د بیا کتنې لپاره راجع کوي لکه څنګه چې د اساسي قانون ۱۲۱ مه ماده پرې صراحت لري.[۱۲۹] عمل ښیي چې تقریبا په ټولو دغه ډول حالاتو کې سترې محکمې د اجراییه قوې پلوي کړې ده.[۱۳۰] لاندینۍ قضي ښیي چې څنګه ولسمشر د قضایي بیا کتنو څخه ،د پارلمان د قانون جوړونې د واکونو د کم ارزښته کولو لپاره، کار اخیستی دی.

د ۲۰۰۹ کال په سپتمبر میاشت کې افغان پارلمان د ټولیزو رسنیو قانون چې ډېر مهال ځنډیدلی و ، تصویب کړ. په هغه مسوده کې چې حکومت ولسي جرګې ته د تائید لپاره استولی و ، ۱۳مې مادې ویلې چې د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون مشر باید ولسمشر

۱۲۵ د افغانستان اساسي قانون، ۲۰۰۴، ماده ۹۵.

۱۲۶ د دې قوانینو پوره لست تر د ۲۰۱۲ کال پورې، وګورئ د علي آغا او نوروز راجا ، د اساسي قانون نقض په ۱۳ کلونو کې، (کابل: د افغانستان د خپلواکې کور. ۲۰۱۲ ).

۱۲۷ حمیدي او جیاکودي ، ( د قواوو تفکیک، ۱۵).

۱۲۸ کرزي د ملي پخلاینې او عمومي بخښنې د قانون مصوبه توشیح نه کړه، وروسته، پارلمان د غړیو د ۳/۲ رایو اکثریت تایید کړ او د کرزي د توشیح پرته یې د اساسي قانون د ۹۴ مې مادې له مخې د قانون شکل خپل کړ.

۱۲۹ د افغانستان اساسي قانون، ۲۰۰۴ ،۱۲۱ مه ماده.

۱۳۰ غزال حارث: افغانستان کې قضایې پیا کتنه: یو نیمګړی عمل: کابل: د افغانستان د تحقیق او ارزونې اداره، ۲۰۱۷.

وټاکي. پارلمان ۱۳ ماده کې د یوې فقرې په زیاتولو سره بدلون راوست او هغه دا چې د ددغه بنسټ مشر باید له پارلمان څخه د باور رایه ترلاسه کړي.[۱۳۱] ددغې فقرې زیاتولو سره، پارلمان په ښکاره توګه هڅه وکړه چې په اجرایه قوې خپل کنترول زیات کړي. خو د همدې ځانګړې فقرې له امله ولسمشر کرزي د ټولیزو رسنیو قانون ویټو کړ. کرزي وړاندیز وکړ چې ولسمشر باید د ملي راډیو تلویزیون مشر د پارلمان له تائید پرته وټاکي، ځکه اساسي قانون د ملي راډیو تلویزیون مشر دهغه دولتي چارواکو په لست کې ندی ذکر کړی چې ټاکل کېدل یې د پارلمان تائید ته اړتیا لري.[۱۳۲] پارلمان د دوه ثلثه اکثریت سره د ولسمشر ویټو رد کړ. ولسمشر کرزي، چې د ټولیزو رسنیو قانون په اړوند ناخوښ و، ددغه قانون قانونمندي یې چیلنج کړه.[۱۳۳] سترې محکمې د ولسمشر پلو ونیو او د ټولیزو رسنیو قانون ۱۳ماده یې غیرقانوني اعلان کړه.[۱۳۴] د ټولیزو رسنیو د قانون اصلاح شوې بڼه په رسمي جریده کې خپره شوه. وروسته بیا ولسمشر کرزي د پارلمان د باور پرته د ملي راډیو تلویزیون مشر وټاکه.

د دې سربیره د افغانستان پارلمان په ۲۰۰۴ کال کې د افغانستان دیپلوماتیک او کونسلي کارمندانو په اړه یو قانون تصویب کړ چې لنډیز یې د افغانستان د دیپلوماتیک او کونسلي عملې قانون دی. په هغه کې دوه جنجالي او د بحث وړ مادې وې. لومړی دا چې پارلمان د دې قانون د (۵) مادې په لومړی فقره کې تصریح کړې و چې د بهرنیو چارو وزارت اړوند دیپلوماتان او کونسلان باید یوازې د افغانستان تابعیت ولري. دویم دا چې د افغانستان د دیپلوماتیک او کونسلي عملې قانون له انفاذ څخه وروسته، د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت هغه دیپلوماتان او کونسلان چې دوه تابعیته دي له دندو څخه به ګوښه شي.[۱۳۵] د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت وویل چې دغه قانون له اساسي قانون سره په ټکر کې دی. ستره محکمه هم د بهرنیو چارو وزارت پلوې وکړه او څرګنده کړه چې د دیپلوماتیک او کنسلي کارکوونکو قانون د اساسي قانون سره په ټکر کې دی.[۱۳۶]

په لنډ ډول ویلی شو چې له څه باندې یوه نیمې لسیزې راهیسې د پارلمان قانون واک په عمل کې محدود او کم شوی دی. دغه څېړنه ښیي چې ډېر وکیلان د پارلمان له (۱۳) قانوني لاسته راوړنو څخه خوښ نه دي.[۱۳۷] د پارلمان ډېر وکیلان باور لري چې دوی د خلکو د غوښتنو اړوند اجراأت نه دي کړي. دوی وایي چې په تقنیني چارو کې د حکومت لاسوهنه او همدارنګه د قوانینو د تسوید په اړه د پارلمان د وکیلانو شخصي او پارلماني وړتیا نه شتون د دې سبب ګرځېدلی چې دوی خپل اجراأت په سم ډول ترسره نه کړي. په بل عبارت، دوی وایي چې د وکیلان د حقوقي پوهې نشتوالی د دې سبب ګرځېدلی چې دوی په تقنیني برخه کې پاتې راشي. له دې نه علاوه بیا ځینې نور وکیلان پدې باور دي چې د قوانینو په وضعه کې د پارلمان پاتې راتللو ستر عامل یا د دې په وړاندې ستر خنډ هغه ګونګه اساسي کړنلاره ده.

## په عمل کې د پارلمان د څارنې واک

د قانون جوړېدو واک سربیره پارلمان د اجرائیه قوې پر چارو د څارنې واک هم لري خو پارلمان د تقنیني واک په نسبت له دغه واک څخه کم کار اخیستی دی. که څه هم په عمل کې دغه واک له نورو واکونو سره یو شان دي، د افغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون تسویدونکو د دې لپاره پارلمان ته د څار واک ورکړ چې د دغه ارګان شتون د اجرائیه قوې سره د یو مساوي او خپلواک ارګان په حیث

۱۳۱ وګورئ: د افغانستان جمعي رسنیو قانون، ماده ۱۳، رسمي جریده، ګڼه ۹۸۲، ۲۰۰۹.

۱۳۲ وګورئ غزال حارث: د ټاکنیزو شکایتونو ارزونه: افغانستان کې د اساسي قاون خلاف کړني، یوه موردي مطالعه ده، د ټاکنو ځانګړې محکمه ۲۰۱۰. د افغانستان د تحقیق او ارزونې اداره، ۲۰۱۴.

۱۳۳ د افغانستان د ټولیزو رسنیو قانون، ماده ۱۳، رسمي جریده ، ۲۰۰۹ (۱۳۹۰).

۱۳۴ محکمې استدلال وکړ چې اساسي قانون په څرګند ډول د وزیرانو په ټاکنه کې د پارلمان تایید شرط دی، د لوی څارنوال، د ستري محکمې غړیو، د افغانستان بانک عمومي رییس، د ملي امنیت رییس او د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمیسون غړي او نورو لوړ رتبه دولتي کسان لکه د ملي راډیو تلویزون رییس د پارلمان تصویب ته اړتیا نه لري. محکمې استدلال وکړ که پارلمان ته د ملي تلویزون د تایید واک ورکړل شي، دا د اساسي قانون د تعدیل په معنا دی، او اساسي قانون کې تعدیل د لویې جرګې کار دی. په همدي اساس محکمې د جمعي رسنیو قانون ۱۳ ماده حذف کړه، محکمې وویل چې دا ماده د اساسي قاون خلاف ده.

۱۳۵ د ډیپلوماټیک او کونسلي کارکوونکو قانون، پنځمه ماده، لومړی فقره او اتمه ماده، رسمي جریده، د ګڼې شمېره (۱۱۰۵)، ۲۰۱۴.

۱۳۶ سترې محکمې داسې استدلال وکړ چې د اساسي قانون له مخې یوازې دوه کټګوري اشخاصو ته د یو تابعیت لرل ضروري دي چې هغه ولسمشر او د ولسمشر معاونین دي. د افغانستان د (۲۰۰۴) ز کال اساسي قانون له مخې، له دغه دوه دولتي چارواکو نه پرته، نورو دولتي چارواکو ته د یو تابعیت لرل ضروري نه دی. محکمې په دې اړه زیاته کړه چې د اساسي قانون له مخې حتی وزیرانو ته هم د یو تابعیت لرل ضروري نه دي. د اساسي قانون (۷۲) ماده تصریح کوي چې دوه ګوني یا څوګوني تابعیت د یو وزیر د انتخاب لپاره خنډ کیدای نشي، خو پارلمان ته دا واک هم ورکړل شوی چې دوه یا څو تابعیته وزیر تائید یا رد کړي. محکمې د نوموړي حکم په اړه وویل چې ولسمشر کولای شي یو څو تابعیته وګړی د وزیر په توګه پارلمان ته معرفي کړي. محکمې ټینګار وکړ چې د اساسي قانون جوړونکي یوازې د ولسمشر او د هغه د معاونینو لپاره د یو تابعیت لرل شرط ټاکلی. د دغه شرط تطبیق پر نورو دولتي چارواکو باندې، به د اساسي قانون په موادو کې تعدیل راوستل وي چې دا د پارلمان له واک څخه لوړ کاردی. نو ځکه محکمې پریکړه وکړه چې د ډپلماټیکو او کونسلي کارکوونکو د قانون د پنځمې مادې لومړی فقره او اتمه ماده د اساسي قانون سره په ټکر کې دي.

۱۳۷ دغه نظر د پارلمان د کتونکو ډلو او هغو وکیلانو له خوا شریک شوی چې د دې څېړنې لپاره ورسره مرکې شوي. دغه نظر په حقیقت کې د پارلمان یو له بنسټیزو موضوعاتو څخه و چې د هغه تجربوي معلوماتو څخه تر لاسه شوی چې د دې څېړنې د لیکوال له خوا راټول شوي وو.

تضمین کړي. سره له دې چې پارلمان د اجرائیه قوې د څارلو واک لري ، خو د دغه څېړنې د معلوماتو پر بنسټ د پارلمان ډیری وکیلان نه غواړي د دغه واک څخه په ګټه اخیستنی سره له حکومت سره ځان مواجه کړي.[138] پارلمان د څار واک له میکانیزمونو څخه، د بی باوری رایې په ګډون، هغه مهال کار اخلي چې د اجرائیه قوې څخه انتقام واخلي.

د پارلمان لخوا د حکومت د وزیرانو لرې کولو په موخه د بی باوری رایې کارونه او څرنګوالی، له پیل راهیسې د پارلمان څارنیز واک له ستونزو سره مخ کړی دی.[139] د بېلګې په توګه، کله چې په ۲۰۰۷ م کال کې پارلمان د حکومت د بهرینو چارو وزیر، سپنتا ته د بی باوری رایه ورکړه، ولسمشر کرزی د پارلمان د پریکړې په وړاندې مخالفت وکړ او د سپنتا ځیناستی یې و نه ټاکه. له دې وراخوا ، په نژدې وختونو کې پارلمان د ملي وحدت د حکومت (۱۷) تنه وزیران پدې دلیل استیضاح کړل چې د وزارت د پراختیایي بودیجې (۷۰) سلنه یې په لګښت نه وه رسولې ، د دوې له منځ څخه (۷) تنو ته د عدم اعتماد رایه ورکړل شو.[140] دا ځل ولسمشر غني سترې محکمې شکایت په وړاندې کړ اود پارلمان پریکړه یې وننګوله ننګوله او د څه باندې یو کال لپاره یې وزیران په دندو کې وساتل. ظاهراً ، هر ځل چې پارلمان د بی باوری رایې څخه کار اخیستی په هیواد کې یو اساسي ستونزه رامنځته شوی دی.

د استماع، استجواب او استیضاح په ګډون د پارلمان څارنیز واک میکانیزمونه که بېځایه او ناسم وکارول شي ستونزې راولاړوي، لکه د شخصي ګټو یا هم د بدل اخیستو په موخه[141]. له بده مرغه په افغانستان کې د بی باوری رایه د پارلمان د تقویې پر ځای، د بدل اخیستو په موخه صورت نیسي چې علت یې هم وکیلان دي. همدا لامل دی چې له هری بی باوری رایې څخه وروسته اجرائیه قوه او مقننه قوې د اساسي قانون اړوند بحث کې ښکیل شوي او اختلاف رامنځته شوی دی. موضوع دا ده چې له هر بی باوری رایې څخه وروسته اجرائیه قوه د پارلمان پریکړه سترې محکمې ته راجع کړې چې له اساسي قانون سره یې مطابقت وګوري. کله چې اجرائیه قوه د پارلمان بی باوری رایه سترې محکمې ته راجع کوي، پارلمان غبرګون ښیی او سترې محکمه ته ګواښ کوي چې د دې محکمې قاضیان به هم استیضاح کړي او یا به د محکمې پریکړې و نه مني[142]. پدې برخه کې ښه بیلګه د پارلمان وروستی د بی باوری رایه ده چې د ملي وحدت حکومت او و وزیرانو ته د بی باوری رایه ورکړل شوه، ولسمشر غنی د پارلمان پریکړه سترې محکمې ته راجع کړ چې له قانون سره یې مطابقت و څیړي او تشخیص کړي چې د وزیرانو لري کول د موجه دلائیلو پر اساس و یا نه هماغه و چې پارلمان ډیر تند غبرګون و ښود ، او استدلال یې وکړ چې سترې محکمې د دې اختلاف د حل واک نه لري او دوی به د سترې محکمې پریکړه و نه مني. په پای کې سترې محکمې پریکړه وکړه چې په دې اختلاف کې ځان ښکیل نه کړي، دلیل یې هم دا و چې د پارلمان سره د دوې دښمني ګرانه تمامیده.[143]

له دې سربېره، پارلمان خپل ځینې څارنیز واکونه په بشپړ او سم ډول نه دي کارولي. د بېلګې په توګه، یو شمیر وکیلان چې د دې څېړنې لپاره ورسره مرکه شوې وایي چې، پارلمان د حکومت د کړنو څخه د څار په موخه د ځانګړي کمیسون د جوړولو د حق په اړه خپل واک په بشپړ ډول نه دی کارولی. دا خبره سمه ده چې په دې برخه کې ځینې کمیسونونه جوړ شول او پارلمان له خپل حق څخه ګټه اخیستنه وکړه، خو دغه کمیسونونو د اجرائیه قوې د خپل سری په اړه کوم اقدام نه دی کړی. دلیل یې هم دا دی چې د داسې کمیسونونو له جوړونې څخه وروسته پارلمان د کمیسون کړنې نه دي څارلې او ځینی وختونه هم هیر شوې دي.[144] د بېلګې په توګه، په ۲۰۱۱ م کال کې پارلمان یو کمیسیون جوړ کړ. د کمیسون دنده دا وه چې د ځمکې د غیر قانوني تملیک په اړه څېړنه وکړي چې ولې حکومت د حکومتي او غیر

---

۱۳۸ د نوموړې څېړنې لپاره مو له یوه وکیل سره مرکه وکړه، نوموړي وویل چې د عدم اعتماد رایه د وکیلانو لپاره د فشار یوه وسیله ګرځېدلې تر څو د حکومت پر وزیرانو خپلې شخصي غوښتنې ومني. وکیل د استیضاح او عدم اعتماد رایې یوه بیلګه شریکه کړه چې په ناسم ډول کارول شوی وه. په دغه موضوع کې د ټرانسپورټ پخوانی وزیر ښکیل و. وزیر، پارلمان ته یو رسمي لیک واستولو او غوښتنه یې وکړه چې ټول هغه ګاډي (موټر) چې د ټرانسپورټ وزارت پورې مربوط دي او د وکیلانو د خپلوانو له خوا په غیر قانوني ډول کارول کیږي، باید وزارت ته وسپارل شي. بله ورځ وکیلانو لاسلیکونه راټول چې د ټرانسپورټ وزیر استیضاح کړي.

۱۳۹ محمد هاشم کمالي، د افغانستان د اساسي قانون له تصویب لس کاله وروسته: اصلي موضوعات کوم دي؟ کابل، افغانستان، د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۲.

۱۴۰ توماس راټینګ، پارلمان بیا وزیران ګوښه کړل: د څو اړخیز ځواک مبارزه، کابل، افغانستان، د افغانستان د تحلیلګرانو شبکه ۲۰۱۲.

۱۴۱ کاوون کاکړ، توماس کریمر او همایون روفي، په افغانستان کې د اجرائیه قوې ارزونه، تیر ته کتنه او د راتلونکې لپاره وړاندیزونه، کابل، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ځانګه، ۲۰۱۷، ۳۴.

۱۴۲ شمشاد پسرلی، (کله چې محاکم تصمیم نیسي چې پریکړه و نه کړي.) د معزول شوی وزیرانو د برخلیک په اړه د افغانستان د عالي دیوان پوهه. د اساسي حقوقو نړیوال ژورنال، بلاګ پوسټ، مارچ ۲۲، ۲۰۱۷. د (۲۰۱۸) سپټامبر په ۱۳ تري ګټه اخیستل شوی، په لاندې لینک کې لوستلی شی. http://www.iconnectblog.com/2017/03/when-courts-decide-not-to-decide-understanding-the-afghan-supreme-courts-struggle-to-decide-the-fate-of-the-dismissed-ministers/

۱۴۳ په ځینو حالاتو کې پارلمان د څار له واک څخه منفي استفاده کوي، د بیلګې په توګه د (۲۰۱۷) کال په وروستیو کې پارلمان د حکومت له خوا معرفي شویو (۱۲) وزیرانو له جملې څخه (۱۱) تنو ته د بارو رایه ورکړه. یوازې یو تن ښځینه نوماندې ته یې رایه ور نه کړه چې د مدني ټولنو له خوا د پارلمان نوموړې کړنه تبعیض و ګڼل شو.

۱۴۴ د کلیدي کار پوه مرکه (ای کیو)، د زلمی ملیار په وسیله، کابل، افغانستان، ۲۰۱۸، جولای ۸.

حکومتي سکتورونو په وړاندې پاتې راغلی.[145] که څه هم کمیسون غونډې وکړې او غصب شوي ځمکې او غاصبین یې تشخیص کړ[146] خو د دغه ځانګړې کمیسون وضعیت نا معلوم دی.[147] د یو متخصص له قوله د دې کمیسون د ورکېدو او ناکامیدو دلیل دا وه چې له ځینې څخه وروسته دغه کمیسون کومه غونډه یا جلسه ونه کړه او لاسته راغلي معلومات د یې رسنیو سره شریک نه کړل.

بله اړینه دنده چې پارلمان ته سپارل شوې د دولت د بودیجې تصویب دی. د اساسي قانون له مخې حکومت واک لري چې بودیجه ترتیب او مالي چارې تنظیم کړي. [148] د دولت د بودیجې اړوند مسائیل په لومړي سر کې مشرانو جرګې ته راځي او مشرانو جرګې د ولسي جرګې سره یو ځای تصویبوي، مشرانو جرګه په دغه برخه کې مشورتي واک لري.[149] د دولت د بودیجې په اړه وروستی پریکړه ولسي جرګې کوي او کولای شي تائید یا یې رد کړي.[150] که څه هم د دولت د بودیجې تصویب پر حکومت د پارلمان د څار یو اړین میکانیزم دی، خو په عمل کې د دغه میکانیزم اغیزمنتیا پیچلې ده. د پارلمان وکیلان د دې لپاره د حکومت لخوا وړاندیز شوې بودیجې ته د باور رایه ورکړي، چې له ولسمشر او وزیرانو سره د شخصي ملحوظاتو پر اساس معاملې کوي.[151] داسې هم ویل کیږي چې ځینې وخت پارلمان پر حکومت فشار راوړي چې د دوی پریکړې سره همغږي وکړي او له هغې وروسته به دوی بودیجه تصویب کړي. د بېلګې په توګه د (۲۰۱۲) کال په وروستیو کې ولسي جرګې پر حکومت فشار راوړ چې د هغه سرپرست وزیرانو پر ځای چې د باور رایې یې نه دي ترلاسه کړي نوي وزیران دوی ته معرفي کړي، هماغه و چې درې نوي وزیران معرفي شول.[152]

کارپوهان یو شمیر عوامل او فکتورونه په ګوته کوي چې پر حکومت د پارلمان څارنیز واک اغیزمنوي. لومړی، ډیر وکیلان پر حکومت باندې د پارلمان د څارنیز واک په اړه شته اساسي کرنلاروباندې نه پوهیږي. یعنې هغه کرنلارې چې اساسي قانون د پارلمان د څارنې واک په اړه وړاندوینې کړې، ګونګ دي. د بېلګې په توګه، په اساسي قانون کې دا په ډاګه شوې نه ده چې کومو چارواکو د کومو اعمالو په سبب د بې باورۍ رایه ورکړل شي. دویم، ډېر کتونکي او یو شمیر وکیلان په دې باور دي چې د پارلمان ډیر وکیلان د حکومت پر ادارو د څار لپاره شخصي او تخصصي وړتیا نه لري[153]. یعني اړین حقوقي او تخنیکي پوهه په دغه برخه کې نشته په پای کې، یو شمیر وکیلان په پارلمان کې د حکومت څخه په دوامداره ډول ملاتړ کوي او کله چې پارلمان د وزیرانو د استیضاح په اړه پریکړه وکړي، دوی مخالفت کوي.[154]

## د پارلمان د استازیتوب واک

د دې ځېړنې لاسته راوړنې ښیي چې د پارلمان وکیلان د استازیتوب په برخه کې پاتې راغلي او دغه واک یې په ټیټه کچه ترسره کړی دی. کله چې د پارلمان وکیل د خلکو له خوا او ټاکل شو او پارلمان ته لاره پیدا کړه، دوی بیا خپل موکلینو سره د اړیکې په منظور سیمه ییز دفترونه نه جوړوي. د دې پرځای، خلک باید دوی ته مراجعه وکړي چې پدې کار سره خلک له ګڼو ستونزو سره مخ کیږي او دا کار د خلکو او پارلمان ترمنځ واټن پیدا کوي. ځینې وکیلان له بریالي کیدو وروسته د پارلمان په غونډو کې ګډون نه کوي تر څو د خپلې حوزې ستونزې په پارلمان کې تر بحث لاندې ونیسي همدا لامل دی چې دوی له هغو خلکو څخه فاصله پیدا کوي.[155] چې دوی

---

۱۴۵ حمیدي او جیاکودي، د قواوو بیلتون، ۳.

۱۴۶ د دې ځانګړې کمیسون د فعالیتونو او جزئیاتو لپاره وګورئ ښځه، سوله او امنیت تحقیقي انسټیټوت، د ارزونې راپور، د ولسي جرګې دندې او شفافیت د افغانستان د قوانینو سره، ۲۰۱۰-۲۰۱۳، ۲۰۱۵، ۲۰۱۴، د لاسرسی وړ: http://afghandata.org:۸۰۸۰/azu/bitstream/jspui/۱/۱۷۸۲۸/w.pdf_۲۰۱۴_a۸۷۴_۲_azu_acku_pamphlet_hq۱۷۳۵,

(د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په ۱۷ نیټه د لاسرسي وړ و)

۱۴۷ پورتنی منبع.

۱۴۸ د افغانستان د (۲۰۰۴) کال اساسي قانون، ۹۷ ماده.

۱۴۹ پورتنی منبع، ۹۸ ماده.

۱۵۰ پورتنی منبع، ۹۱ ماده.

۱۵۱ د کلیدي کارپوه مرکه (اس ار ام)، د زلمی ملیار په وسیله، کابل، افغانستان، ۹ جولای ۲۰۱۸؛ د کلیدي کارپوه مرکه (زی او)، د زلمی ملیار په وسیله، کابل، افغانستان ۹ جولای ۲۰۱۸؛ د کلیدي کارپوه مرکه (جی ار کیو)، د زلمی ملیار په وسیله، کابل، افغانستان ۱۰ جولای ۲۰۱۸. د کلیدي کارپوه مرکه (ایچ ام)، د زلمی ملیار په وسیله، کابل، افغانستان جولای ۹ ، ۲۰۱۸؛ د کلیدي کارپوه مرکه (ای کیو)، د زلمی ملیار په وسیله، کابل، افغانستان، ۸ جولای ۲۰۱۸

۱۵۲ د کلیدي کارپوه مرکه (کیو زی ایچ)، د زلمی ملیار په وسیله، کابل، افغانستان، ۹ جولای ۲۰۱۸؛ د کلیدي کارپوه مرکه (ان ای)، د زلمی ملیار په وسیله، کابل، افغانستان ۱۰ جولای ۲۰۱۸

۱۵۳ ماروین جی. وینباوم، د یو اغیزمن پارلمان پر لور، د مداخلې په لحظاتو کې، د مرستې په لسیزه کې د افغانستان نامعلوم درسونه، کابل، د افغانستان د تحلیلګرانو شبکه، ۲۰۱۲.

۱۵۴ په واقعیت کې د پارلمان کې وکیلان په دریو ډلو ویشل شوي، لومړی ډله هغه وکیلان دي چې دوی په دوامداره توګه د حکومت ملاتړ کوي، دویمه ډله هغه وکیلان دي چې په دوامداره توګه د ولسمشر او حکومت مخالفت کوي. دریمه او لویه ډله هغه وکیلان دي چې د دوی ملاتړ او وفاداري د تغیر په حال کې دي. وینباوم، د یو اغیزمن پارلمان پر لور. همدارنګه وګورئ، انا لارسون، (ولسي جرګه د بې ثباتي په حال کې)،۲۰۱۰ ټاکنې او بې ثباتي، کابل، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ځانګه. ۲۰۱۰

۱۵۵ سلیمه احمدي، د ولسي جرګې اجرأت، جزوي څار، کمه حاضري، کابل، د افغانستان د تحلیلګرانو شبکه ، ۲۰۱۲.

يې ټاکلی دي. رایه ورکونکي د پارلمان د کړنو په اړه شکایت کوي او وایي چې ډېر وکیلان خپل شخصي کاروبار کې مصروف دي او دوی پر اصلي موضوعاتو او د خلکو خیر ښیګڼې او امینت باندې د بحث لپاره کافي وخت نه لري.[152]

لکه څرنګه چې مخکې مو یادونه وکړه اصلي ستونزه د واحدې نه انتقال رایې سیستم دی، د دې سیستم نیمګړتیا دا ده چې د وکیلانو او ټاکنیزې حوزې ترمنځ د اړیکو په جوړولو کې پاتې راغلی دی. دلته کیدای شي د شته سیستم پر ځای د متناسب استازیتوب او ولسوالۍ پر سر د یو استازي لرلو سیستم د حوزی لپاره ښه پایله ورکړي، په هغه صورت کې د واحد غړي حوزه او د متناسبې استازولۍ سیستمونو له غوښتنو سره په مطابقت کې عیار شي. ( د بېلګې په توګه، د سیاسي ګوندونو عیارول د اساسي قانون پر بنسټ د متناسبې استازولۍ سیستم لپاره او د لویو ولسوالیو تقسیم په کوچینو ولسوالیو د واحد غړي حوزې سیستم لپاره ښه دی. که څه هم دغه بدیلونه کیدای شي د افغانستان د ټاکنیز سیستم ستونزې حل نه کړي، خو کیدای شي د واحدې نه انتقال رایې سیستم په نسبت، د وکیلانو او ټاکنیزو حوزو (له کومې حوزې څخه چې بریالي شوي دي) د ارتباط جوړولو په برخه کې اغیزمن وي. دا ځکه چې ټاکنیز ولسوالی کوچنی وي او خلک پدې پوهیږي چې دوی چا ته رایه ورکړې او د دوی استازی څوک دی.

د افغانستان د **۱۳۸۲** کال د اساسي قانون له مخې وکیلان کولای شي په کال کې دوه ځلې خپل سیمو ته سفر وکړي، (یو ځل په اوړي او یو ځل په ژمي کې د **۴۵** ورځو لپاره). د دغه مودې په جریان کې پارلمان رخصت وي، وکیلان باید د خپلو خلکو ستونزې واورې او دوی ته ډاډ ورکړې چې د پارلمان په غونډو کې پر دې ستونزو بحث کوي، یعنې د دوی خبرو ته پام وکړي. که څه هم په عمل کې ډېر کم وکیلان د پارلمان د تعطیل پر مهال خپلو سیمو ته ځي او د خپلو خلکو خبرې اوري. ډېری وکیلان بیا بهرنیو هیوادونو ته د چکر لپاره ځي او یو شمیر بیا د پارلمان په تعطیل کې خپل شخصي کاروبار سمبالوي.[157] داسې کومه مرجع نشته چې سیمو ته د وکیلانو د سفر نه کولو لپاره له هغوی څخه پوښتنې وکړي او وکیلانو ته مسوولیت راجع کړي. که څه هم دا د اساسي قانون ستر نقض نه دی خو دغه کار د وکیلانو پر باور او اجراأتو باندې اغیز پریباسي.

**۱۵۲** نافیه چوهدري او محمد عرفاني، په افغانستان کې د پارلماني ټاکنو تجربه او ټاکنیز اصلاحات، جامع راپور، د سیاسي سیستمونو د اصلاح مطالعات ۳، ۲۹، کابل (د افغانستان د ستراټیژیکو مطالعاتو انستیټوټ، ۲۰۱۸)

**۱۵۷** اړین تخصصي مرکه (ای کیو)، د زلمی مالیار په وسیله، کابل، افغانستان، ۸ جولای ۲۰۱۸.

# د افغانستان د پارلمان پر وړاندې ننګونې

د ملي او نړیوالو کارپوهانو په باور د افغانستان د پارلمان په وړاندې شته ننګونې عبارت دي له: داخلي اختلافاتو څخه چې د یو نه منل شوی (ناروغ) ټاکنیز سیستم زیږنده ده، د پارلمان د دندو او واکونو په اړه د افغانستان په اساسي قانون کې وړاندې شوی پیچلي او ګونګ کړنلارې، په ټاکلي وخت کې د پارلماني ټاکنو په ترسره کولو کې حکومت ته پاتې راتلل، خلکو ته د پارلمان د وکیلانو د نه مسوولیت، احساس د اجرائیه قوې له خوا د پارلمان د پریکړو ردول او د پارلمان په وړاندې له چل او فریب څخه کاراخیستنه او د پارلمان د وکیلانو شخصي او کاري وړتیاو نشتوالی. پورتنی ننګونې د پارلمان خپلواکې تر پوښتنې لاندې راوستې، د پارلمان باور یې له منځه وړی او د پارلمان پر کارونو یې ناوړه اغیزه کړې.[158] تر څو چې پورتنی ننګونې یا ستونزې حل نه شي، په افغانستان کې د یو اغیزمن پارلمان لرل له تمې څخه لرې خبره ده.

## نامناسب ټاکنیز سیستم او په لوړه کچه ویشل شوی پارلمان

یو له سترو ننګونو څخه چې افغان پارلمان ورسره مخ دی د پارلمان د غړو نه یووالي او د نظریاتو او موخو د ګډون کموالی دی. آن د طالبانو له واکمنی څخه وروسته لومړی پارلمان په (۲۰۰۵) م کې پرانیستل شو خو، دغه پارلمان د یو منظم او همغږې ادارې په ډول عمل و نه کړ، بلکه په پارلمان کې بېل (۲۴۹) سرونو او (۲۴۹) بیلا بیل غړونو شتون درلود.[159]د دریو وروستیو پارلمانونو د ټاکنو پایلو وښوده چې نوماندان د مختلفو مذهبونو، قومونو او سیاسي ګوندونو څخه پارلمان ته لاره پیدا کړه.[120]. د نوماندانو تنوع بده خبره نه ده، بده خبره داده چې له بېلا بېل ټولنو څخه راغلي نوماندان په دی بریالی نشول چې سره متحد شي او د خپلو فردي، مذهبي او حوزوي ګټو د لاسته راوړلو په موخه ائتلافونه رامنځته کړي.همدا دلیل دی چې ولسي جرګه ځینې وخت د پاشل شوی او ټوټه شوی ارګان په ډول پیژندل کیږي او داسې یو ارګان چې ګڼ شمیر ګوندونه د متغیر او غیر ثابت غړیتوب او آیډیالوژیو په ذریعه یې اداره کوي.[121] د اټکل له مخې د (۲۳-۲۲) سیاسي ګوندونو استازي په پارلمان کې غړیتوب لري، خو له دوی څخه یو هم نه دي توانیدلي چې د پام وړ استازي د خپلې ایډیالوژي یا نظریې د دفاع په موخه سره راټول کړي.[122]

د واحدې نه انتقال رایې ټاکنیز سیستم د یو هدفمند استازیتوب (وکالت) په رامنځته کولو کې پاتې راغلی او د دې برعکس یو ټوټه شوی او غیر منظم پارلمان یې رامنځته کړی دی. د دې سربېره، دغه پارلمان تر اوسه نه دې توانیدلی چې د حکومت پر کارونو د څار په برخه کې اغیزمن سیاسي ائتلافونه رامنځته کړي.[123] دغه سیستم د دې لپاره د یو منظم پارلمان په جوړولو کې پاتې راغلی دی چې له مخې یې هیڅ نوماند ته اجازه نه ورکول کیږي چې پارلماني ټاکنو اړوند د رایه ورکونې پر مهال له سیاسي ګوندونو سره اړیکه ونیسي.[124]د واحدې نه انتقال رایې سیستم په پارلمان کې د اختلاف کچه زیاته کړې اوداسې پارلمان یې رامنځته کړې دی چې په کې بې ثباته او بې مسئولیته ډلې او د شخصي ملحوظاتو پر اساس رامنځته شوي سیاسي ګوندونو څخه ډک وي، دغه سیستم په دې نه دي بریالی شوي چې داسې یو پارلمان رامنځته کړي چې د یوې ایډیالوژي یا ځانګړې سیاست څخه پلوي وکړي.[125]

د رایو په اتفاق، د افغانستان د پارلمان په وړاندې ستر ګواښ خپل منځی اختلافات او د شخصي ملحوظاتو پر اساس رامنځته شوي سیاستونه دي، د دغې ځیړنې اړوند مرکې دا په ډاکه کوي چې د افغانستان په پارلمان کې یوازې د حکومت پر کړنو د څار پر مهال یا هم څارنیز واک د کارولو پر مهال همغږي رامنځته شوی، یعنې د یو همغږ ارګان په ډول یې ځواب ویلی. ډیرپالیسي جوړونکي په دې باور دي چې د واحدې نه انتقال وړ رایې سیستم دې په ټولیز ډول له منځه ولاړ شي او یا اصلاح شي، کنه پارلمان به بیا هم له هغو ګواښونو سره مخ وي چې په ۱۳ کلونو کې یې پر اجراأتو منفي اغېزه کړې ده.

له کومو کسانو سره چې د دې ځیړنې په موخه مرکه شوی، د ټاکنیز سیستمونو د اصلاح په موخه درې وړاندیزونه کړی. لومړی،

۱۵۸ د کلیدي کارپوه مرکه (ام ایچ کی)، د زلمی ملیار او شمشاد پسرلي له خوا د سکایپ په وسیله، ۱۳ اګست ۲۰۱۸. د کلیدي کارپوه مرکه، ماروین وینباوم، د زلمي ملیار او شمشاد لخوا د سکایپ په وسیله، (۳ اګست ۲۰۱۸)

۱۵۹ د کلیدي کارپوه مرکه (ای ایچ ان)، د زلمی ملیار په وسیله، کابل، افغانستان، ۱۲ جولای ۲۰۱۸؛ د کلیدي کارپوه مرکه (ایل ار اس)، د زلمی ملیار په وسیله، کابل، افغانستان، ۷ جولای ۲۰۱۸؛ د کلیدي کارپوه مرکه (ایم ای ار)، د زلمی ملیار په وسیله، کابل، افغانستان، ۸ جولای ۲۰۱۸

۱۲۰ نیلوفر صدیقي، د سیاسي ګوندونو او یو خپلواک مقننه قوې پرمختګ په افغانستان کې، څلورګوني معیارونه ۴، څلورمه ګڼه (۲۰۱۳).

۱۲۱ پورتنۍ منبع.

۱۲۲ پورتنۍ منبع.

۱۲۳ پورتنۍ منبع.

۱۲۴ وګورئ، رینولډ او کري، د افغانستان د انتخاباتي سیستم سمون. ۸.

۱۲۵ پورتنۍ منبع.

یو شمیر کتونکي وړاندیز وکړ چې د افغانستان پارلماني ټاکنې دې د متناسبې استازولۍ سیستم ته واړول شي، ډیر مرکچیان د متناسبې استازولۍ سیستم د خلاص لیست څخه ملاتړ کاوه.[۱۲۲] د متناسبې استازولۍ سیستم خلاص لیست پلویان په دې باور دي چې دغه سیستم به په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو د جوړولو او پرمختګ لپاره غنده رول لوبوي او د خصوصي افرادو پر ځای به دوی په ټاکنو کې سیالي وکړي. په افغانستان کې د واحدې نه انتقال وړ رايې سیستم یو ناکام سیستم و او د متناسبې استازولۍ سیستم کولای شي یو ښه استازیتوب رامنځته کړي[۱۲۷]. د متناسبې استازولۍ سیستم به په افغانستان کې یو منظم، منطقي او مستدل پارلمان رامنځته کړي. په (۲۰۰۵) ز کال کې بارنت روبن یادونه کړې وه چې د واحدې نه انتقال وړ رايې سیستم پر خلاف چې هر نوماند د نورو نوماندانو په وړاندې سیالي کوي، د متناسبې استازولۍ (نمایندګۍ) سیستم کولای شي په ولایتونو کې د قومي ګروپونو د نوماندانو ترمنځ د همکارۍ انګیزه زیاته کړي.[۱۲۸] نړیوال او ملي کارپوهان په دې باور دي چې افغانستان د متناسبې استازولۍ د سیستم په پیاده کولو کې له پام وړ خنډونو او ستونزو سره مخ شي، خو له دغه سیستم څخه پرته به په افغانستان کې د یو خپلواک او پرمختللي پارلمان رامنځته کول ناشونی وي.

ځینې کارپوهان بیا په دې باور دي چې د افغانستان اوسنی وضعیت د متناسبې استازولۍ لپاره مناسب نه دی ځکه چې په افغانستان کې د ملي سیاسي ګوندونو شمیر لږ دی. دوی ویره لري چې د متناسبې استازولۍ سیستم به رايه ورکونکي لیواله کړي چې د ملي ګټو پر ځای د قومي او مذهبي ملحوظاتو پر اساس رايه وکاروي. یو تن کتونکی په دې باور و چې د متناسبې استازولۍ سیستم خلاص لیست د عملي کولو وړ نه دی، ځکه چې دا شونې نه ده چې د زرګونو نوماندانو او سیاسي ګوندونو نومونه دې د لیست په شکل ترتیب شي او رايه ورکونکي دې له دوی څخه ټاکنه وکړي.[۱۲۹] که چیرې د لومړي ډلې وړاندیز د ټاکنیز سیستم د بدلون په اړه و منل شي، نو غوره دا ده چې د ولسي جرګې د غړو د ټاکنې لپاره یو مختلط ټاکنیز سیستم رامنځته شي. دغه مختلط سیستم به د واحدې نه انتقال وړ رايې او د متناسبې استازولۍ د سیستمونو یو ځای کولو څخه رامنځته شي، په ځینو حوزو کې دې نوماندان د واحدې نه انتقال وړ رايې سیستم له لارې و ټاکل شي او په ځینو نورو حوزو کې دې رايه ورکونکي د سیاسي ګوندونو له خوا جوړ شوي لستونو کې نوماندانو ته رايه ورکړي.[۱۷۰] د مختلف سیستم اوښتې ګټې عبارت دي له: مختلط سیستم به سیاسي ګوندونو ته د دې زمینه مساعده کړي چې سره یو ځای شي، دا ځکه چې د متناسبې استازولۍ سیستم به د غیر مذهبي او غیر قومي ائتلافونو په رامنځته کولو کې ګوندونه وهڅوي؛ مختلط سیستم به ډیر خپلواکو نوماندانو ته زمینه مساعده کړي چې د قوي ملاتړ سره په ټاکنو کې ګډون وکړي او د نه قابل انتقال وړ رايې سیستم له لارې بریالی شي، همدارنګه به د افغانستان د ټاکنیز سیستم د اصلاحاتو په اړوند چې د شته حساسیت درجه راکمه کړي؛ او بایلونکي نوماندانو کولای شي په ملي لستونو کې د خپل متحدینو په ټاکنه کې مرسته وکړي.[۱۷۱]

په پای کې، ډیر کسانو وړاندیز وکړ چې په واحده حوزه کې د زیاتې رايې ګټونکي سیستم په افغانستان کې د واحد غړي حوزې سیستم د عملي کیدو وړ دی، دوی باور لري چې د متناسبې استازولۍ سیستم که څه هم ظاهرا مناسب ښکاري خو، اوسني وضعیت ته په کتو د عملي کیدو وړ نه دی او د مختط سیستم پلي کول به افغانستان له ناورین سره مخ کړي، ځکه چې د سیاسي ګوندونو د استازو او مخورو په ګډون ډیری افغانان پدې نه پوهیږي چې دغه سیستم څنګه کارول کیږي. د واحد غړي حوزه سیستم پر اساس لویه حوزه په څو جغرافیوي ټاکنیزو حوزو وېشل کېږي، هر ټاکنیزه حوزه به یو ټاکلی استازی پارلمان ته وټاکي. هر هغه نوماند چې په دغه ټاکنیزه حوزه کې ډېرې رايې ترلاسه کړي، ګټونکي اعلانیږي. دغه سیستم له رايه ورکونکو سره مرسته کوي چې یو قوي پارلمان رامنځته کړي او همدارنګه د پارلمان د مسوولیت کچه هم زیاتوي. که څه هم د واحد غړي حوزې سیستم پلي کول په افغانستان کې اسانه نه دی، ځکه چې د لویو ټاکنیزو حوزو (ولایتونو) ویشل په کوچنیو حوزو ستونزمن کار دی. خو، بیا هم کېدای شي په ډیرو برخو کې دواحد غړي حوزې سیستم پلي شي او په پاتې برخو کې د واحدې نه انتقال وړ رايې سیستم یلي شي. که څه هم د واحد غړي

۱۲۲ متناسب انتخابي سیستم د افغانستان د سیاسي ګوندونو منځ کې ډیر ملاتړ پیدا کړی، د (۲۰۱۸) کال د فبرورۍ په ۲۴ د ۲۱ با نفوذه سیاسي ګوندونو مشران (ډیری پخواني مجاهدین) په کابل کې یو کنفرانس دایر کړ. دوی د واحدې غیر قابل انتقال رايې سیستم پر خای د متناسب انتخاباتي سیستم تطبیق غوښتنه وکړه، و ګورئ چوهدري او عرفاني ، ټاکنیز اصلاحات ، ۲۳

۱۲۷ ډیری مرکچیان چې د دې څیړنې لپاره ورسره مرکه شوې په همدې نظر و ، له دې وراخوا نړیوال کتونکي هم په همدې باور دي، وګورئ، بارنت روبین، د رايې ورکوني غلط سیستم، نیو یارک ټایمز، ۱۲مارچ ۲۰۰۵، د لاسرسی وړ ۴ جولای، ۲۰۱۸ ؛ https://www.nytimes.com/۲۰۰۵/۰۳/۱۲//opinion afghanistan-the-wrong-voting-system.html؛ همدارنګه وګورئ، صدیقي د سیاسي ګوندونو پرمختګ.

۱۲۸ پورتنۍ منبع، روبین، که څه هم اوس پوهه شوی چې د افغانستان انتخاباتي سیستم لپاره (PR) غوره ټاکنه ده، خو په عمل کې دغه حللاره د افغانستان د انتخاباتي ستونزو حل نه ده.

۱۲۹ د کلیدي کارپوه مرکه (ام ای ار)، د زلمی ملیار په وسیله، کابل ، افغانستان، ۸ جولای ۲۰۱۸.

۱۷۰ دغه سیستم د وروستۍ حللارې په توګه د اندریو رینولد او جان کری له خوا د (SNTV) سیستم پر ځای وړاندیز کړی و. وګورئ، رینولډ او کری، د افغانستان د ټاکنیز سیستم ترمیم.

۱۷۱ پورتنۍ منبع.

حوزې سیستم په افغانستان کې د ټاکنیز نظام ټولې ستونزې نشي حل کولای خو د یوی ښی ټاکني لپاره زمینه مساعدوي.

افغان حکومت هم هڅه کړې چې شته ټاکنیز سیستم چې تر نیوکو لاندې و بدل کړي. په (۲۰۱۲) م کال کې د ټاکنو په نوی قانون کې حکومت وړاندیز کړی و چې ټاکنیزې ولسوالی دی رامنځته شي. د ټاکنو نوی قانون (۳۵) مه ماده د ټاکنو کمیسون ته لارښوونه کړې وه چې د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره ټاکنیزي حوزې ځانګړی کړي او دغه حوزې دې په کوچنیو حوزو وویشي.[۱۷۲] که څه هم په نوی قانون کې دا موضوع واضح نه وه چې کوچنی ټاکنیزې حوزې دې یو غړی پارلمان ته معرفی کولای شي یا څو غړي، همدارنګه دا هم واضح نه وه چې په دغه حوزو کې د کوم ډول ټاکنیز سیستم پر اساس ټاکنې کېږي. د (۲۰۱۸)ز کال د اکتوبر ټاکنې د ټاکنو د قانون د پورتنی مادې په خلاف د (۲۰۰۵) م او (۲۰۱۰) م کلونو د ټاکنو په څیر ترسره شو، چې پکې د واحدې غیر قابل انتقال رایې سیستم څخه کار اخیستل شوی و او ټاکنیزو حوزو هم ډیر استازي معرفی کولای شول. د مخکنیو ټاکنو په څیر، د (۲۰۱۸) م کال د اکتوبر ټاکنې هم له ستونزو څخه خالی نه وې.

د واحدې نه انتقال وړ رایې سیستم په افغانستان کې د یو داسې ولسي جرګې رامنځته کیدل تضمینوي چې د خلکو استازيتوب نشي کولای او سیمه ییز، قومي او مذهبي مشرانو څخه جوړ وي چې نه په خپلو کې همکاري کولای شي او نه هم له حکومت سره. مګر په هغو حالاتو کې چې د دوی شخصي او قومي ګټې پکې دخیل وي.[۱۷۳]نو ځکه، د افغانستان لپاره یو حساس پړاو دی چې ټاکنیز سیستم او ادارې د اصلاح کولو په موخه لاس په کار شي او فکر وکړي چې څرنګه کولای شي د خپل پارلمان مشروعیت، استقلالیت او اجراأت پر ځای کړي.

## د پارلمان د دندو او واکونو ګونګ حقوقي چوکاټ

د پارلمان له ننګونو څخه یو هم په اساسي قانون کې د هغې د واک ناڅرګند حالت دی. د دولت د بودیجې د څارنې، ولس ته د پارلمان د غړو د حساب ورکوونې د مسؤلیت، او تر ټولو خواشینوونکي، د پارلمان د څارنې واک او د هغه پروسیجر اړوند چې د دې صلاحیت څخه د ګټې اخیستنې په موخه باید ترې ګټه واخیستل شي، خورا ناڅرګندونې شتون لری.

### څارنه

د افغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون د پارلمان د یو له ډیرو اړینو څارونکو واکونو (د بی باوری رایه) په اړه ناڅرګندې یا ابهام لري. د اساسی قانون ۹۲ ماده داسی صراحت لري چې د حکومت د کوم وزیر په خلاف د بی باوری رایه باید د موجه دلایلو په اساس وي؛[۱۷۴] خو دا چې موجه دلایل څه دي، په اړه یی څه نه دي ویل شوي. دا هم نه دی ویل شوې چې د بی باوری د کارونې وروسته څه پښیږي: سلب صلاحیت شوي وزیر کولای شي د نوي وزیر تر معرفي کېدو پورې په مؤقف کې پاتې شي؛ وزیر باید ژر تر ژره استعفاء ورکړي او یا هم وزیر تر نامعلومې نیټې پورې عزل کړای شي؟[۱۷۵]

د پارلمان لخوا د هر وزیر په خلاف د بی باوره رایی کارونې وروسته، اجرائیه قوې د اساسي قانون له دې ناڅرګندونی څخه ګټه اخیستنه کړې ده چې ګویا د پارلمان سره د بی باوره رایی لپاره موجه دلایل شتون نه لري، او پدې توګه یې پارلمان کم ارزښته کړی دی.[۱۷۶] د بیلګی په ډول، په ۲۰۰۷ میلادي کال کې کله چې پارلمان د بهرنیو چارو وزیر سپنتا په خلاف د بی باوری رایه ورکړه، اجرائیه قوې په دې دلیل چې د پارلمان سره د عدم رایی لپاره موجه دلایل نشته، پریکړ وکړه چې سپنتا دې په خپل مؤقف پاتې شي. په همدې ډول په ۲۰۱۲ میلادې کي کې د ۷ وزیرانو په خلاف د بی باوری رایی په قضیه کې، جمهور رئیس د ورته دلیل په راوړلو، د پارلمان د پریکړې مخالفت وکړ.

زیاترو مرکه شویو دا ومنله چې دا ناڅرګندوني باید ژر تر ژر تره حل شي. دوي داسی وویل چې دا ناڅرګندونی یا ابهامات کیدای

۱۷۲ علي یار آیدي او مارټین وان بیګلرت، د افغانستان د ټاکنو نا بشپړ (نیمګړی) قانون: شخړې او بدلونونه، کابل: د افغانستان د تحلیلګرانو شبکه، ۲۰۱۷.

۱۷۳ روبن، د رایي ورکونې غلط سیستم، د بیلګې په توګه، د لوړو زدکړو وزارت قانون ته د رایې ورکولو پر مهال ډیری وکیلانو خپله ژبنیزه او قومي اجندا په پام کې ونیوله، هماغه و چې د قانون تصویب د څو کلونو لپاره وځنډید. د دې سربیره، د بریښنایي پیژند پاڼو د تصویب پر مهال هم پارلمان په دوه ډلو تقسیم شوی و (پښتانه او غیر پښتانه). به دواړو پیښو کې وکیلانو خپل قومي ګټې پر ملي ګټو لوړې وګڼلې. هیڅ وکیل له بل وکیل سره مرسته و نه کړه چې د ضرورت وړ قوانینو د تصویب لپاره توافق رامنځته شي.

۱۷۴ د افغانستان اساسيقانون (۲۰۰۴) ماده ۹۲.

۱۷۵ محمد هاشم کمالي، «د افغانستان د اساسي قانون لس کاله: ستونزې څه دي؟» (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزیابۍ یونټ، ۲۰۱۴)، ۹.

۱۷۶ حمیدي او جاياکودي، «د قواوو بیلتون»، ۱.

شي د اساسي قانون د اصلاح او يا تفسير په اساس روښانه شي.[۱۷۷] که څه دواړه لارې د اوس لپاره ډېرې ستونزمنې برېښي. د اساسی قانون د تصحیح په اړه، زياتره پوهان په دې باور دي چې دا چاره د اوس لپاره شونې نه ده، ځکه چې دولت تر اوسه پارلماني او ولسوالی شورا ټاکنې نه دي ترسره کړي تر څو يوه لويه جرګه راوغوښتل شي. که څه هم په دې وخت کې د اساسی قانون د تفسير له طريقه د اساسي قانون د ناڅرګندونو د رفع کولو موضوع ډيره اسانه ښکاري، پوهانو دا واضحه کړې چې د اساسي قانون د تفسير مسئله بايد لمړی حل شي. اوس مهال دوه مرجع، ستره محکه او د اساسی قانون پر تطبيق د څار کميسيون، يو له بل سره د اساسی قانون د تفسير د صلاحيت پر سر اختلاف لري.[۱۷۸] د اساسي قانون د تفسير پر سر د اختلاف حلولو وروسته بايد د پارلمان اړوند احکامو ناڅرګندونی رفع شي.[۱۷۹]

## د مودې غځيدل

بله اساسی ستونزه د اوسنی پارلمان د مودې د غزيدو په اړه ده چې قانونی موده يې د ۲۰۱۵ کال د جون په ۲۲ نېټه پای ته رسيدلی. حکومت او د ټاکنو خپلواک کميسون بالاخره بريالی شو چې د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر کې نوموړې ټاکې ترسره کړي. ددې لپاره چې د يادو ټاکنو وروستۍ پايلې لا ندي اعلان شوي، پارلمان د خپلې پنځه کلنې قانوني مودې څخه هم زيات په خپل ځای کې پاتې دی.

په دې سره د پارلمان د مودې غځيدو د قانونيت او غير قانونيت په اړه يوه اختلافي پوښتنه رامنځته شوه. دا مسئله ډيره پيچلې وه ځکه چې اساسي قانون په دې اړه کوم صراحت نه لري. د اساسي قانون ۸۳ ماده په دې اړه داسې صراحت لري چې د پارلمان( په ځانګړې توګه د ولسي جرګې) موده د پنځم کال د سرطان[۱۸۰] په لمړې نېټه د پارلماني ټاکنو د پايلو تر اعلانيدو وروسته پای ته رسيږي او نوی پارلمان په خپل کار پيل کوي.[۱۸۱] د ولسي جرګې د غړو ټاکنې بايد د پخوانۍ ولسي جرګې (چې پدغه وخت کې کار کوي) د کار له پای نه د ۳۰-۲۰ ورځو په داخل کې نوي ټاکني وشي.[۱۸۲] د د ۸۳ مادې د حکم څخه په ښکاره توګه داسې برېښي چې د شته پارلمان د پای ته رسيدو او پر ځای يې د نوي پارلمان ټاکلو لپاره دوو شرايطو ته اړتيا ده: ۱. د پنځوکلونو مودې پوره کېدل، او (۲) د نوي پارلمان لپاره د ټاکنود پايلو اعلانيدل.

په عملي بڼه، د پارلمان د مودې غځيدلو په اړه په افغانستان کې بيلا بيل نظريات شتون لري خو بيا هم هيواد يی د اساسي قانون د ستونزی سره مخامخ کړی. د ولسمشر غني په دې اړه د سترې محکمې نظر وغوښتنه، او د ولسمشرۍ ماڼۍ لخوا د يو فرمان په اساس د نوي پارلماني ټاکنو ترسره کېدو تر مهاله د اوسني پارلمان موده وغځول شوه.[۱۸۳] د پارلمان غړو د ولسمشر غني فرمان په دې دليل رد کې چې نوموړې فرمان يواځې د اجرائيه قوې لپاره د اعتبار وړ ده، نه د مقننه قوې په اړه.[۱۸۴] پارلمان په دې اړه موقف ونيوه چې د پارلمان مودې غځولو په اړه د ولسمشر غني فرمان د اجرائيه قوې د اساسي قانون صلاحيتونو څخه نه دي.

نوموړې موضوع په پارلمان کې هم په جدې توګه د بحث لاندې ونيول شوه. د پارلمان زياتره غړو د اساسي قانون ۸۳ مادې د حکم په اساس، داسې څرګندونه درلوده چې د نويو پارلماني ټاکنو ترسره کېدو پورې شته پارلمان خپل کار ته دوام ورکولای شي. که څه هم ځينو غړو په دې باور چې د پارلمان موده د پنځم کال سرطان مياشتې په ۱ لمړۍ نېټه( پنځه کاله وروسته ) پای ته رسيږي، مخالف نظر درلود. د پارلمان ځينو

---

۱۷۷ د کليدي کار پوه مرکه (ک ک)، د زلمي ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (۸ جولای ۲۰۱۸)؛ د کليدي کارپوه مرکه (ج ق) د زلمی ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (جولای ۱۰ ۲۰۱۸)؛ د کليدي کارپوه مرکه (م ا ر) د زلمی ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (جولای ۱۰ ۲۰۱۸)؛ د کليدي کارپوه مرکه (ن ف) زلمي ماليار، کابل، افغانستان (جولای ۸ ۲۰۱۸)؛ د کليدي کارپوه مرکه (ج ا) د زلمی ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (جولای ۱۳ ۲۰۱۸)؛ د کليدي کارپوه مرکه (الف ر) د زلمی ماليار پواسطه، کابل، افغانستان، (جولای ۱۱ ۲۰۱۸).

۱۷۸ دغه اداره د افغانستان په اساسي قانون کې د تفسير په اړه پراخه څېړنه ترسره کړې ده؛ دلته د دې مسئلې په اړه د زياتو تفصيلاتو په اړه هيڅ اړتيا نشته. وګورئ و هيرس، «په افغانستان کې قضايي بياکتنه»؛ کاملی، «د افغانستان اساسي قانون لس کاله»؛ د شمشاد پسرلی، «اساسي قانون تفسير» هم وګورئ: ډيمپسي او تهير، «د بحران حل کول».

۱۷۹ ټولو مرکه کونکو په شمول د ملي او نړيوالو وويل چی افغانستان بايد د اساسي قانون په تفسير باندې خپلې ستونزې حل کړي. د اساسي قانون تفسير حق په افغانستان کې د ټولو اساسي بحرانونو اصلي کليدي سرچينه ده.

۱۸۰ سرطان د جون د مياشتې د وروستيو سره سمون خوري.

۱۸۱ د افغانستان اساسي قانون، ۸۳ماده.

۱۸۲ پورتنۍ منبع.

۱۸۳ "افغان مشر د پارلماني مفهوم پراخوي، نوې ټاکنې ژمنې کوي، «رويټرز، ۱۹ جون ۲۰۱۵،

https://www.reuters.com/article/us-afghanistan-parliament/afghan-leader-extends-parliaments-term-promises-election-date-idUSKBN۰OZ۲۰۲۲۰۱۵۰۲۱۹; (د ۲۰۱۸ کال د جولای په ۱۱ نيټه لاس رسی شوی).

۱۸۴ تقريباً ټول هغه کسان چې پدې اړه ورسره مرکه شوي ده همدا نظر لري.

غړو په دې دلیل چې د پنځم کال سرطان له لمړي نېټې وروسته (چې د **۲۰۱۵** کال د جون **۲۲** نېټه سره سمون خوري) د ولسي جرګې د غړي په توګه د هغوی پاتې کېدل د اساسي قانون خلاف، له خپل غړیتوب څخه یې استعفاء ورکړه. پاتې غړو بیا خپل غړیتوب وساته.

د پوهانو په باور د اساسي قانون د ټاکل شوې مودې وروسته د پارلمان پاتې کېدل تر ډېره حده د هغه په کړنو منفي اغیز کړی. ډېری غړي په هغه لیوالتیا چې وړاندې یې لرله اوس خپله دنده مخې ته نه وړي.[۱۸۵] د پالیسي جوړونکو او مسلکی اشخاصو په آنده چې په دې ځېرنه کې ورسره مرکې ترسره شوي، حکومت( اجرائیه) هم اوس پارلمان ته ډېره پاملرنه نه کوي.[۱۸۶] دوي په دې اړه د ولسمشر غني ځینو یو اړخیزه پریکړو ته اشاره وکړه، په ځانګړي توګه د **۲۰۱۷** کال په جون میاشت کې د ټاکنو قانون د توشیح په اړه فرمان، د پارلمان لخوا د سلب صلاحیت شوو وزیرانو په دندو د پاتې کېدو چې د نوموړي پریکړه او د **۲۰۱۸** کال په دسمبر کې د نوموړي وروستې اقدام چې د پارلمان د تائیده پرته یې امرالله صالح او اسد الله خالد یې د کورنیو چارو او دفاع وزیرانو په حیث ټاکلو موضوعات تر هر څه لا ډېر د پام وړ وبلل.

## د رایه ورکوونکو په وړاندې د پارلمان غړو عدم مسؤلیت

په تیر دوو دورو کې د پارلمان غړو د مسؤلیت لپاره د یو منظم سیستم نشتون په غیر مستقیمه توګه د هغه کړنې د رکود سره مخ کړې. دا چې د مسؤلیت او حساب ورکونې کوم منظم میکانیزم شتون نه لري، دا ددې لامل ګرځي وکیلان خپل مسؤلیت په سمه توګه نه ترسره کوي.[۱۸۷] او په همدغه دلیل ډېر لږ افغانان په دې پوهیږي چې د هغوی استازي په سیاسي او حقوقي مسائیلو کې خپله رایه په کومه توګه کاروي. اوس مهال وکیلان خپل ځان د خپلو مؤکلینو په ګډون هیچا ته مسؤل نه بولي. دا ددې لامل ګرځي چې وکیلان د عامه ګټو په ځاي د خپلو شخصي ګټو جلبولو او ملاتړ ترلاسه کولو هلې ځلې وکړي.[۱۸۸] د رایه ورکوونکو لخوا د ولسي جرګې پر غړو د څار یو اغیزمن سیستم نه شتون ، نو ډېر امکان ددې شته چې ناشایسته خلک لوړ اجرائیه پوستونه لاسته راوړي په داسې حال کې چې پارلمان به په هغوی د څار حق نه لري. د داسې یو سیستم نه شتون نه یوائې دا چې د د ولسمشری ټاکنو نوماندانو د ټاکلو او ردولو اړوند د فساد لامل ګرځی، ددې په خوا کې د قوانینو او اجرائیوي فرمانونو د توشیح او لغوې باندې هم منفي اغیزې پریباسي.

د ولسي جرګو غړو د حساب ورکوونکې مسؤلیت د یوه سالم او عملي دیموکراتیک سیستم ښکارندوي ده؛ دا ددې لامل ګرځي چې واقعي استازیتوب ترسره او وکیلان دې ته اړ کړي چې د خپلو رایو کارولو لپاره موجه دلایل وړاندې کړي چې په دې اساس د فساد او رایو دخرڅلاو مخه نیول کیږي.د وکیلانو حساب ورکولو مسؤلیت په مقننه قوې د باور لامل ګرځي،[۱۸۹] او ولس ته د پارلمان فعالیت د ارزونې یوه ښه وسیله ګرځیدای شي.

په افغانستان کې د پارلمان غړو د مسؤلیت د ځیرلو لپاره دوه عمومي وړاندیزونه شوي دي. لومړی، ځینو مرکه شوو داسې باور درلود چې سیاسي احزاب باید وهڅول شي. زیاتره پوهانو ، که څه هم داسې باور درلود چې افغانستان مختلف نژاده سیاسي احزاب نه لري، نو په اوس مهال دا موضوع ډېره اغیزمنه نه بریښي. دوي داسې وړاندیز کوي چې د حزبی سیستم په ځای دې، لوې ټاکنیزې حوزې په څو مختلفو کوچنیو حوزو وویشل شي. په وړو ټاکنیز حوزو کې، رایه ورکوونکې د پارلمان غړو سره ډېرې نژدې کیږي او تړلي اړیکې یې ورسره پیدا کیږي. دا چې د پارلمان غړو ته رسیدنه خورا اسانه ده، خلک کولای شي په اسانۍ له دوي سره اړیکه ونیسي او په پارلمان کې د هغوی د کړنو په اړه ترې وپوښتني.[۱۹۰] د کوچنیوټاکنیز حوزو په اړه داسې نظره شتون لري چې د پارلمان غړي خپل رایه ورکوونکې پیژني او له دې ویرې چې له دندې ګوښه نه شي، خپل ورسپارل شوي دندې په ډېره ښه شکل ترسره کوي. په دې اړه هم ګڼ شمیر بحثونه شتون لري چې د واحد غړي حوزې سیستم به پارلمان ته د ډېرو سیاسی احزابو د لاری پیداکولو لامل شي.[۱۹۱] د سیاسي احزابو کلتور تر ظهوره پورې د واحد غړي حوزې سیستم باید خپل فعالیت وکړي، بیا افغانستان کولای شي چې د متوازن حقیقي ټاکنیز سیستم خاوند شي.

۱۸۵ د کلیدي کار پوه مرکه (ا ر)، د زلمي ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (۱۱ جولای ۲۰۱۸)؛ د کلیدي کار پوه مرکه (ن ف)، د زلمي ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (۸ جولای ۲۰۱۸)؛ د کلیدي کار پوه مرکه (س و)، د زلمي ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (۱۲ جولای ۲۰۱۸).

۱۸۶ د کلیدي کار پوه مرکه (آ ک)، د زلمي ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (۸ جولای ۲۰۱۸)؛ د کلیدي کار پوه مرکه (ک ک)، د زلمي ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (۸ جولای ۲۰۱۸).

۱۸۷ د کلیدي کار پوه مرکه (ک ک)، د زلمي ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (۸ جولای ۲۰۱۸).

۱۸۸ لارسن، «د رواني جرګې ولسي جرګه»، ۸-۹.

۱۸۹ د کلیدي کار پوه مرکه (ک ک)، د زلمي ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (۸ جولای ۲۰۱۸)؛ د کلیدي کارپوه مرکه ( ج ق) د زلمي ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (۱۱ جولای ۲۰۱۸).

۱۹۰ د کلیدي کار پوه مرکه (ک ک)، د زلمي ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (۱۰ جولای ۲۰۱۸)؛ د کلیدي کارپوه مرکه ( ج ق) د زلمي ماليار پواسطه، کابل، افغانستان (۱۱ جولای ۲۰۱۸).

۱۹۱ د دې تفصیلي بحث لپاره چې د کمونیستي هیواد څخه وروسته د هغه په اړه بحث وشو، او سارا بیرچ، د ټاکنو کمیسون او د کمونست کمونستي اروپا کې سیاسي بدلون وګورئ (پالګر میکیلان، ۲۰۰۳).

## د اجرائیه قوې او پارلمان کړکیچنه اړیکه

د طالبانو له دورې وروسته لمړی پارلمان چې په **۲۰۰۵** کال کې پرانیستل شو، د اجرائیه قوې او پارلمان ترمنځ اړیکې ډیرې کړکیچنې او د غبرګون سره مل وې.[۱۹۲] د ولسمشر کرزي او غني په ولسمشریزه دورو کې پارلمان د اجرائیه قوې له لورې تر ډیره بریده له نظره ګوښه شوې دی. د اجرائیه قوې رئیس ډیری وخت د قانوني پریکړو نیولو او یا هم د کوم وزیر ګوښه کولو په وخت کې د پارلمان پریکړو ته اعتناء نه ده کړې.[۱۹۳] پارلمان ډیره هڅه کړې چې د وزیرانو د استیضاح او د سلب صلاحیت کولو په وسیله د ولسشمر په وړاندې خنډونه پیدا کړي. د وخت په تیریدو د دواړو قواوو ترمنځ اړیکې لا کړکیچنې شوي دي، چې ځینې وخت د طالبانو له دورې وروسته د اساسي قانون په بنسټ افغاني دیموکراسۍ له ننګونو سره مخامخ کوي.[۱۹۴]

د وزیرانو د ټاکلو/عزل او دقوانینو د تصویب پر سره ډیری وخت د پارلمان او اجرائیه قوې ترمنځ ډیری بیلګیشته. د نمونې په ډول، په **۲۰۱۳** د افغانستان پارلمان د ثبت احوال نفوس( احصائیه) قانون چې د الکترونیکي تذکرو ویش یې هم تنظیماوه، په تصویب ورساوه. تمه دا وه چې دغه قانون به په **۲۰۱۴** کې نافذ شي. خو ولسمشر غني یو فرمان صادر کړ چې د عمومي قومیت (تابعیت) په توګه یې د افغان کلیمې د شمولیت غوښتنه کوله. پارلمان د ولسمشر غني فرمان رد کړ. بالاخره ولسمشر غني د کابینی د قانون کمیتې ته حکم وکړ چې د احصائیې قانون اصلاح او په بریښنایې تذکرو کې د ملیت اوقومیت اصطلاحات ورزیاته کړي، کوم چې د پارلمان د غصي لامل شو. بالاخره د **۲۰۱۸** کال په نیمایی کې، د ولسمشر غني حکومت د اصلاح شوي قانون پر اساس بریښنایې تذکرو پر ویش پیل وکړ، نه د پارلمان لخوا پر تصویب شوي قانون معنی دا چې په تذکرو کې د افغان کلیمه د ټولو قومونو لپاره د ملت په توګه وکارول شوه.

د پارلمان او اجرائیه قوې ترمنځ تر ټولو نژدې کړکیچنه خامتیا د **۲۰۱۶** کال د نوامبر په **۱۲** نیټه وشوه، چې ولسي جرګې غوښتل ټوله کابینه د پرمختیایې بودیجې د لګښت اړوند استیضاح کړي. د پرمختیایې بودیجې لږ لګښت هر کال یو له جدي ستونزو څخه ده، خو په دې کال پارلمان د ځینو دلایلو له امله نوموړې موضوع ډیره جدي ونیوله. په دې پروسه کې پارلمان اوو اړینو وزیرانو څخه د باور رایه واخیسته او سلب صلاحیت شول. نوموړي وزیرانو د خپلو اړوندو وزارتونو له **۷۰**سلنه ډیره پرمختیایې بودیجه نه وه مصرف کړې.[۱۹۵] د هغو وزیرانو په ټاکنه کې ولسمشر غني د عبدالله عبدالله، دملی وحدت حکومت اجرائیه رئیس، سره ډیرې بحثونه او سیاسي جوړجاړې کړې وو. اجرائیه قوې، په ځانګړې توګه ولسمشر غني، د پارلمان له لوري د نوموړو وزیرانو په عزل کلکه نیوله وکړه. ولسمشر غني سلب صلاحیت شوو وزیرانو ته لارښوونه وکړه چې په خپل مؤقف کې پاتې شي، او له سترې محکمې څخه یې وغوښتل چې د پارلمان پریکړه دې لغوه اعلان کړي.[۱۹۶] سترې محکمې په دې اړه کوم رایه ورنه کړه، تر یو نیم کال وروسته ولسمشر غني په دې وتوانیده چې د عزل سلب صلاحیت شوو وزیرانو په ځای ور نوماند وزیران بیامومي.

داسې بریښې چې د پارلمان او اجرائیه قوې تر منځ خصمانه اړیکې د ذیخله اشخاصو او متمرکزې اجندا، دوو فاسدو ټاکنو او متضادو قوانینو له امله راولاړې شوي دي.[۱۹۷] په دومره ستونزمنو حالاتو کې، ولسي جرګه پرته له دې چې د وزیرانو د نښه کولو له طریقه اجرائیه قوې ته سرخوږې جوړ کړي، بله موخه نه لري.[۱۹۸] کیدای شي اوسنې تیت او پاشلې ولسي جرګه په دې وسیله غواړي انفرادي کوښښونه ګړندي کړي، او متحد شي تر څو د اجرئیه قوې پر سر د یوه اغیزمن ناظر په توګه خپل مسؤلیت اداء کړي.

۱۹۲ گرن هیواډ، توماس روټینګ او کلوډیو فرانکو، «د ټټ لپاره ټیت - او ویره: د پارلمان او حکومت ترمنځ د لشکر طیبه تاریخ،») کابل: د افغانستان تحلیلگرانو شبکې، ۲۰۱۳).

۱۹۳ لارسن، «د روانې جرګې ولسي جرګه»، ۲-۷.

۱۹۴ هیواد، روټینګ او فرانکو، «د تټ لپاره ټټ».

۱۹۵ تومس روټینګ، «پارلمان بیا ځل وزیران وټاکل: د څو اړخیزه بریښنا مبارزه» (کابل: د افغانستان تحلیلگرانو شبکه، ۲۰۱۶).

۱۹۶ پورتنۍ منبع.

۱۹۷ هیواد، روټینګ او فرانکو، «د تټ لپاره ټټ».

۱۹۸ پورتنۍ منبع.

د حکومت لخوا د ټاکنیز سیستم د اصلاح وروستیو هڅو دا وښوده چې په دې حالاتو کې د اصلاحاتو عملی کول څومره ستونزمن کیدای شي.۱۹۹ د حکومت او پارلمان ترمنځ نامناسبې اړیکې یو له هغو عواملو څخه دي چې پارلمان له طالبانو وروسته مرحله کې لږ څه تر سره کړي. د ټاکنیز سیستم د اصلاح تر څنګ افغانستان دې ته هم اړتیا لري چې د مقننه او اجرائیو قواوو ترمنځ متوازن او ښې اړیکې ولري. داسې اړیکې کیدای شي په لنډه وخت کې جوړې نه شي، خو د وخت په تیریدو سره که چیرته کار ورته وشي، له امکان څخه لرې نه ده.

زیاتره پوهان او دنظر خاوندان په دې باور دي چې سیاسی ګوندونه باید د حکومت او پارلمان تر منځ د ترینګلو اړیکو د سمون لپاره کار وکړي تر څو د دولت ددې دواړو قواوو تر منځ سالمې اړیکې رامنځته شي. او په پارلمان کې د سیاسي احزابو نه شتون ددې لامل ګرځیدلی چې اجرائیه قوه د حکومت په ټولو څانګو خپل اغیز زیات کړي. د سیاسي احزابو څخه جوړ پارلمان کیدای شي د اجرائیه قوې سره د ملی پالیسې په اړه د بحث لپاره ښه ثابت شي، او اجرائیه قوه دې ته اړه کړی چې د هغو پالیسو په پلي کیدو کې د پارلمان ملاتړ د ځان سره ولري. ځکه چې سیاسي احزاب به پارلمان د واحد بنسټ په بڼه وساتي او اجرائیه قوه به د پارلمان سره ددې په ځای چې نوموړي اړیکې نورې هم خرابې کړي او پریکړې یې صرف نظر کړي، د ښو اړیکو لپاره لیوالتیا وښایي.

۱۹۹ پارلمان د ولسمشر غني دوه فرمانونه رد کړل چې دی یې د ټاکنیز سیستم اصلاح کولو لپاره خپور کړی وو. ولسمشر غني بیا پریکړه وکړه چې دریم فرمان صادر کړي ترڅو د ۲۰۱۲ کال د ټاکنو قانون ته وده ورکړي چې د افغانستان ټاکنیز سیستم او اداري اصلاح کړي. هغه غوره نه کړه چې خپله دریم فرمان پارلمان ته د تصویب لپاره وسپاري.

# پایله

د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون د افغانستان په تاریخ کې په لومړي ځل پارلمان ته یوه سلسله داسې تقنیني او د څارونې واکونه ورکړیدي چې پخوا یې بیلګې نه لیدل کیږي. د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون په استثناء د افغانستان پخوانی اساسي قوانین، یا خو یی هیڅ پارلمان نه وو تاسیس کړی او یا یی یو سمبیولیک پارلمان تاسیس کړې وه چې هیڅ ډول د څارنې واکونه یی نه لرل. په همدې اساس، د افغانستان هیڅ یو پارلمان هم په عمل کې د استازیتوب، قانون جوړونې او څارنې په چارو کې اغیزمن نه وو. د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون لیکونکو په دې باور چې د یو باصلاحیته ولسمشر د واکونو سره د مخامخ کیدو لپاره د یوه پیاووړي پارلمان جوړیدو ته اړتیا ده. د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون جوړونکو بنستونو د بحث مرکزي نقطه دا وه چې څنګه داسې یو پارلمان رامنځته شي چې په بریالیتوب سره وکولای شي خپلې د څارنې او اړتیا وړ قوانینو ایجاد دندې پر مخ یوسي.

په دې څیړنه کې په تیرو پنځلسو کلونو کې د پارلمان قانوني او سیاسی لاسته راوړنې ارزیابي شویدي. ددې څیړنې موندنې ښیې چې پارلمان په یاده موده کې داسی کوم د پام وړ کار نه دی کړی، که چیرته د پارلمان اوسنی وضیعت تغیر نه شي، نو افغانستان کې د یوه بریالي پارلمان وړاندوینه ډیره ستونزمنه ده. د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون د تصویب پر مهال د ولسوالۍ پراختیایي شورا یو غړي، چې د پارلمان لپاره د لاډیرو صلاحیتونو د ورکړې غوښتنه کړې وه، داسې وویل چې په تیرو دوو نیمو دورو کې د پارلمان لاسته راوړونو او تجربو ته په کتو، سره زه اوس په دې پښېمانه یم چې د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون د مسودې جوړلو په وخت مې د یو پیاوړي پارلمان د جوړښت لپاره رایه ورکړې وه. نوموړي په دې دلیل په تیرو ۱۳ کلونو کې د پارلمان د لاسته راوړونو څخه خوښ نه ښکاریده چې وکیلان د پارلمان د څارنې له واک څخه د خپلو شخصي ګټو په خاطراستفاده کوي.

که څه هم په ۲۰۰۵ کال کې له خپلې پرانیستی څخه راپدیخو پارلمان په خپل نوښت یواځې پنځه قوانین تصویب کړي، ډیری پوهان وایی چې د پارلمان د څارنې واکونه، په ځانګړي ډول نه باور رایې واک، په عمل کې ډیر بې ثباته کوونکی وو. دوي له دې واک څخه د شخصی غچ اخیستونکې وسیلې په توګه کار اخیستی تر څو وزیران د خپلو غوښتنو منلو ته واداره کړي. په عمل کې ثابته شوې چې د عدم اعتماد رایه تقریباً هیڅ کله هم د اصلاح په نیت نه ده کارول شوې، او دا حیرانوونکې نده چې د عدم اعتماد رایې کارولو ډیرې بې ثباته کوونکې اغیزې لرلې.

یوه اساسي پایله چې ددې څېړنې څخه لاسته راځې دا ده چې د افغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون ډیر ناڅرګند دی. په ځانګړي توکه، د پارلمان د دندو او واکونو په اړه ناڅرګندونی چټکې پاملرنې ته اړتیا لري. دا مقاله وایې چې دغه ناڅرګندونې د اساسي قانون د تعدیل او تفسیر په واسطه روښانه کیدای شي. څرنګه چې د اساسي قانون تعدیل ډیر ستونزمن کار دی، د پارلمان د دندو په اړه ځینې کوچني ناڅرګندونی د اساسي قانون د تفسیرپه واسطه روښانه کیدای شي. مګر، دا باید په پام کې ونیول شي چې ددې لپاره چې د اساسي قانون تفسیر اغیزمن وي، دا ستونزه چې ایا ستره محکمه او که د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمیسیون د اساسي قانون تفسیر کولی شي، باید حل شي. که چیرې دغه تغیرات رامنځته شي، او ټاکنیز سیستم له اوسني واحدې او غیرقابل انتقال رایې له سیستم څخه د زیاتې متناسبې نمایندګۍ او یا په لنډ مهال کې په واحده حوزه کې د زیاتو رایو ګټونکې سیستم په کوچنیو حوزو باندې بدل شي، افغانستان به وکړای شي چې یو بریالی او زیات اغیزمن پارلمان ولري.

## وړاندیزونه

د هغه متخصصینو او کارپوهانو د نظریاتو په اساس چې ددې څېړنې لپاره ورسره مرکې شویدي، د افغانستان د اساسي قانون له تاریخچې، او نورو تجربوي دلایلو څخه اخیستل شوي درسونه، ددې څېړنې وړاندیزونه لدې سره سروکار لري چې پارلمان څرنګه وکړای شي خپلې دندې په اغیزمنه توګه تر سره کړي.

### د یو خپلواک او حکومت سره د شریکې-مساوي ځانګې په توګه د پارلمان په اړه

ددې څېړنې له ناخوښو موندنو څخه یوه دا ده چې پارلمان په هیواد کې خپل موقف او پرستیژ له لاسه ورکړی دی. ددې دلیل دا دی چې پارلمان د اساسي قانون لخوا په ورسپارل شوي دندې د تر سره کولو په برخه کې لږ څه کړیدي. ددې لپاره چې د خلکو باور بیرته راجلب او خپل فعالیت په اغیزمنه توګه تر سره کړي، دا مقاله وړاندیز کوي چې لاندې ګامونه باید واخیستل شي:

ټاکنیز بنسټونه باید پیاوړي شي

د پارلمان د ټاکلو او د ټاکنیزو شخړو د حل لپاره د افغانستان ناقص سیستم هر وخت سیاسي بحران ته لاره هواره کړیده. ټاکنیزې شخړې ډیری وخت د قضایي او سیاسي لارو، پرته لدې چې ټاکنیز بنسټونه،د ټاکنو او ټاکنیزو شکایاتو کمیسیونونه،پکې دخیل وي، حل شویدي.[۲۰۰] د ټاکنو او ټاکنیزو شکایاتو کمیسیونونه دواړه له پامه غورځول شویدي. افغانستان به ونکړای شي چې د یو کمزوري ټاکنیز سیستم سره بریالی، دیموکراتیکې ټاکنې تر سره کړي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د غړو د ټاکلو لپاره یو روښانه سیستم، د هغې د ربنتینولۍ او ایماندارۍ لوړاوی، د هغې د خپلواکۍ احترام او داسې روښانه اصول چې د ټاکنو او ټاکنیزو شکایاتو کمیسیونونو دندې او جوړښت روښانه کړې هغه لارې چارې دې چې په پلې کیدو سره به یې دغه دوه ټاکنیز بنسټونه پیاوړي شي. په همدې توګه، ددواړو ټاکنیزو کمیسیونونو تر منځ باید همغږي شتون ولري. دواړه بنستونه باید له یو بل سره د شخړې پر ځای باید دواړه کوښښ وکړي چې خپله خپلواکي لا زیاته کړي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایاتو کمیسیونونه باید یوازیني بنسټونه وي چې ټاکنیزې شخړې او منازعات حل کړي.

### د واحدې غیر قابل انتقال رایې د سیستم تغیر

ټول هغه کارپوهان چې ددې څېړنې لپاره ورسره مرکې شویدي په متفقه توګه یې د واحدې غیر قابل انتقال رایې سیستم رد کړ، که څه هم هغوی ددې د بدیل په اړه متفاوت نظرونه لري. څرنګه چې ددې څېړنې پایلې ښیې، پارلمان خپل ځینې د څارنې واکونه ندي کارولي. د اساسي قانون لخوا د ورکړل شوي واک په عملي کولو کې د پارلمان د پاتې راتلو یو لوی سبب د واحدې غیر قابل انتقال رایې سیستم دی، ځکه دغه سیستم په تکراري شکل یو ویشلی پارلمان رامنځته کړی دی. په لنډ مهال کې، افغانستان باید په واحده حوزه کې د زیاتو رای ګټونکی سیستم د واحد غړې د حوزې سیستم وکاروي، ځکه دا اسانه حل لاره ده، او د واحدې غیر قابل انتقال رایې له سیستم څخه غوره ده. په اوږد مهال کې، هیواد باید د متناسبې استازولۍ ځینې شکلونه تطبیق کړي تر څو په پارلمان کې وحدت او همغږي رامنځته شي.

د پارلمان د قانون جوړونې دندو ته په کتو

ددې څېړنې موندنې ښیې چې پارلمان د قانون جوړونې په برخه کې ډیر لږ څه کړي دي. ددې لپاره چې د پارلمان قانوني دندې لا پیاوړې کړای شی، لاندې ګامونه باید پورته شي:

د پارلمان د قانون جوړنې وړتیا باید زیاته شي

پارلمان باید ډیرې زیاتې هڅې وکړي تر څو خپل تقنیني ریکارډ (سابقه) ښه کړي، په ځانګړې توګه خپله وړتیا چې قوانین تسوید او بیا کتنه پرې وکړي. پارلمان کولی شي دا کار د یو انسټیټیوټ په رامنځته کیدو سره تر سره کړي، چې دغه انسټیټیوټ به په حقوقي چارو کې د پارلمان د غړو سره مرسته کوي. بله حل لاره به دا وي چې د هر یو پارلماني کمیسیون لپاره په لوړه کچه وړتیا لرونکې حقوقي سلاکاران وګمارل شي. ډیری قوانین چې د حکومت لخوا پارلمان ته د تائید لپاره لیږل کیږي لومړی په اړونده کمیسیون کې تر بحث لاندې نیول کیږي. حقوقي کارپوهان به په دغه کمیسیونونو کې پرته له شکه مرسته وکړي.

۲۰۰ د بیلګې په توګه، د ۲۰۱۰ کال پارلمانی ټولټاکنو بحران چې د قضایي وسیلو له لارې حل شو. په واقعیت کې، ولسمشر کرزي یو ځانګړې محکمه وټاکه چې په کلکه به یې بحران حل کړي. په ورته ډول، د افغانستان وروستي سیاسي ناخوښه چې د ۲۰۱۴ ولسمشریزو ټاکنو څخه وروسته ترسره شوه د دوو مخکښو کاندیدانو، اشرف غني او عبدالله عبدالله ترمنځ د واک شریکولو ځانګړې موافقه لیک له لارې حل شوه. د دې شخړو په هوارولو کې، د افغانستان ټاکنیز بنسټونه کوډ ته واستول شول او هیڅ رول یې نه و لوبولی.

د پارلماني نوماندانو لپاره د لوړو زده کړو حتمي کول

د څارونکو په وینا د پارلمان د غړو ترمنځ د لوړو زده کړو نشتوالی دی چې د تېرو کلونو په اوږدو کې یې د پارلمان د تمی ورکړنو مخه ډب کړې ده، که څه هم ځینې څارونکي په دې اند دي چې د پارلماني نوماندانو لپاره د لوړو زده کړو اړتیا ښايي د خلکو د ټاکنو او ټاکلیدو حق محدود او اغیزمن کړي، هغه پارلماني غړي چې لوړې زده کړې لري کولای شي د پارلمان د تقنیني ورتیا په پیاوړتیا کې اغیزمنه ونډه ولوبوي. د بیلګې په توګه، د پارلمان غړي لکه رمضان بشردوست، عبدالرب رسول سیاف، شکریه بارکزی، بکتاش سیاوش او یو څو نور چې تخنیکي زده کړې لري، د مسوده قوانینو په بیاکتنه کې خورا فعال رول لوبولی.

دا استدلال هم شتون لري چې د یو مناسب نوماند د ټاکلو لپاره خلکو ته تعلیم ورکول هم یوه ځای ټاکنه کېدلای شي، ځکه چې د ټاکل کېدو حق د دغه چارې په ترسره کولو سره نه محدودېږي. خو، باید یادونه وشي چې په اوسنی وضعیت کې لومړی ټاکنه د دوهمی ټاکنې په پرتله خورا غوره ده. دا په ساده ډول شونی نه ده چې ملیونونوخلکوته په پارلمان کې د یو مناسب کس د ټاکلو لپاره تعلیم ورکړو، مګردا ممکنه ده چې د نوماندانو لپاره لوړې زده کړې حتمي کړو.ځینې کتونکي په دې باوردي چې د پارلمان غړي باید لږترلږه د لیسانس سند ولري. دا اړتیا ښايي د هېواد په کچه د لوړو زده کړو د پراختیا سره سم له منځه ولاړه شي.

د اجرائیه قوې د تقنیني واکونو د محدودولو لپاره د اساسي قانون تعدیلول

لکه څنګه چې پدغه څېړنه کې جوته شوې ده، د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون سره سم، په هېواد کې یوازینې تقنیني بنسټ پارلمان دی. خو، اساسي قانون هغه احکام هم په بر کې نیسي چې د پارلمان تقنیني دندې (د ولسمشر د فرامینو له لارې قانون جوړونه، د پارلمان د ښکېل تیاڅخه پرته د مقرراتو د جوړولو لپاره د حکومت واکونه) ترپوښتنې لاندې راولي. په اوږدمهاله کې، دغه طرحه وړاندیز کوي چې افغانستان باید اساسي قانون تعدیل کړي ترڅو د اجرائیه قوې تقنیني واک محدود شي. که چېرته په تقنیني برخه کې د اجرائیه قوې واکونه محدود نشي، د پارلمان تقنیني واکونه به محدود پاتې شي.

د اساسي قانون سره د قوانینو د مطابقت په هکله باید وروستۍ پرېکړه د سترې محکمې لخوا ونشي

د دې څېړنې د اندېښنې وړبله موندنه د اجرائیه قوې د هغه واک په هکله ده چې ستره محکمه ددې لپاره کاروي ترڅو هغه قوانین کوم چې د پارلمان له لوری تصویب یا تعدیل شوي وي رد کړي. ولسمشر تل قوانین سترې محکمې ته استولي چې سترې محکمې د دغو قوانینو هغه ځانګړي حکمونه چې د ولسمشر خوښ نه وو د اساسي قانون سره په ټکر کې ګڼلي دي. په دې برخه کې، دا مقاله سپارښتنه کوي چې لږترلږه په هغو قوانینوکې چې د پارلمان لخوا د دوه پر درېو اکثریت سره تصویبېږي، ستره محکمه باید ددغه ډول قانون د ردولو وروستی حقوقي واک ونلري. د اساسي قانون سره د ورته قوانینو د مطابقت په هکله وروستۍ پرېکړه باید په دیموکراتیکه توګه ټاکل شوی پارلمان ته پرېښودل شي.په بل عبارت، ستره محکمه باید دا حق ولري چې د اساسي قانون سره د مطابقت لپاره په قوانینو بیا کتنه وکړي؛مګر محکمه باید په رسمي جریده کې ددغه ډول قانون دخپرولوڅخه دمخه د پارلمان سره سلا مشوره وکړي. دغه سپارښتنه د دایمي حل لارې په توګه نه وړاندې کېږي. دا ممکن د یوې مودې لپاره وي او کله چې د اجرائیه او مقننه قواؤو ترمنځ اړیکې ښې شی، سترې محکمې ته دې باید دا حق ورکړل شي چې له اساسي قانون سره د قوانینو د مطابقت په هکله وروستۍ پرېکړه وکړي. د هغو هېوادونو تجربې ښیي چېرته چې مقننه قوه د اساسي قانون سره د قوانینو د مطابقت په هکله د وروستۍ پرېکړې واک لري، ګټور وي.

د اجرائیه او مقننه قوې ترمنځ د شخړې د حلولو لپاره د یوه واضح میکانیزم جوړول

د افغانستان په اساسي قانون کې یو له هغو عناصرو څخه چې نه لیدل کېږي، د اجرائیه او مقننه قوې ترمنځ د شخړې د حلولول لپاره د یوه څرګنده میکانیزم نه شتون دی. سترې محکمې په دې برخه کې څو ځلې هڅې کړې، خو د دغه کار د ترسره کولو لپاره له ستونزو سره مخ شوی او هوډ نلري چې دغه هڅه تکرار کړي. له دې امله، افغانستان یوه داسې بنسټ ته اړتیا لري چې وکولای شي د مقننه او اجرائیه قوې ترمنځ شخړې حل کړي. د افغانستان د سیاسي پوهانو ترمنځ داسې یوه اجماع شتون لري چې اساسي قانون باید تعدیل شي ترڅو د اساسي قانون لپاره یوه جلا محکمه جوړه شي. د نظر وړ محکمې جوړول په اساسي قانون کې لا زیاتو تعدیلاتو ته اړتیا لري، خو ګڼ شمېر کتونکي په دې باور دي چې دغه کار به د دوو سیاسي قواؤو ترمنځ شخړو ته د پای ټکې ایښودلو لپاره یوه اغیزمن میکانیزم وي. که دغه محکمه جوړه شي، باید د اساسي قانون سره د قوانینو مطابقت ته د بیاکتنې حق ولري. دغه کار په پایله کې کولای شي هغه ستونزې چې اوس مهال د سترې محکمې او پارلمان ترمنځ شته دي، حل کړي.

## د پارلمان د څارنې د دندو په اړه

د پارلمان د څارنې دندې ګڼې پایلې لرلې دي. که څه هم پارلمان په فعاله توګه خپلې د څارنې دندې ترسره کړې، ګڼ شمېر څارونکي د پارلمان له لوری د دغه څارنیزو دندو د ترسره کولو پر تګلارې نیوکه لري. ډېر په دې باور دي چې پارلمان د خپلو څارنیزو واکونو د ترسره کولو پرمهال یو څرګند میکانیزم نه دی کارولی او له همدې کبله د دغې دندې ترسره کول ترډېره بریالي ندي. پدغه برخه کې د پارلمان د کړنو د ښه کولو لپاره د دغې طرحې وړاندیزونه په لاندې ډول دي:

د پارلماني څار د قانون تصویبول

د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون سره سم، پارلمان ګڼ شمېر څارنیز واکونه لري، خو ندی توانیدلی ترڅو له دغو واکونو څخه اغیزمنه ګټه پورته کړي. له دې امله، داسې یو قانون باید تصویب شي چې په واضحه توګه څرګنده کړي چې پارلمان کله او څنګه څارنیز میکانیزمونه (استجوابول، استیضاح کول او د نه باور رایه) وکاروي. دغه قانون باید هغه دولتي چارواکي مشخص کړي چې د پارلمان له لوری ورته رایه ورکول کېږي او په تېره بیا د نه باور رایې پایلې څرګندې کړي.

د نه باور رایې د کارولو محدودول

لکه څنګه چې د دغې څېړنې موندنې ښيي، د انفرادي وکیلانو ترمنځ د خپلو ګټو په موخه د نه باور رایه کارول یو عادت ګرځېدلې دی، ددې پر ځای چې له واک څخه د اجرائیه قوې د کړنو د څارنې او د پارلمان د کړنو د ښه کولو لپاره کار واخیستل شي. د نه باور رایه ډېر ځلې کارول شوې او اکثراً پر هغو "قانع کوونکو دلایلو" ولاړه نه وه چې اساسي قانون یې غواړي. اوس مهال، د نه باور رایه د هغو اړینو موضوعاتو لکه ملي امنیت او هغو نااړینو موضوعاتو لکه د دولتي وسایطو استفادې په هکله کارول کېږي. د یو وکیل د څرګندونې پربنسټ وکیلانو هڅه کړې وه ترڅو د ترانسپورت وزیر استیضاح او له دندې ګوښه کړي، ځکه چې هغه له وکیلانو څخه غوښتنه کړې وه ترڅو د دولتي وسایطو څخه د شخصي موخو لپاره ګټه وانخلي. له دې امله، هغه موضوعګانې چې پارلمان وکولای شي د استیضاح او نه باور رایه ورته وکاروي باید څرګندې او د ځانګړو مواردو لپاره محدودې شي.

د پارلمان غړو لخوا د نه باور رایه علني کارول

د افغانستان تاریخ ښيي چې د نه باور ګڼ شمېر رایې کولای شي د بې ثباتۍ او کمزورۍ لامل وګرځي. د دې وضعیت څخه د مخنیوي لپاره، دغه طرحه سپارښتنه کوي چې د پارلمان غړي باید اړ شي ترڅو د وزیرانو په ګوښه کولو کې په علني بڼه رایه وکاروي. اوسمهال، د باور او نه باور رایه په سري او پټه توګه کارول کېږي. د یو څارونکي په وینا کله ناکله داسې کېږي چې «ښه» وزیر ګوښه او «خراب» وزیر پاتې کېږي. ډېر څارونکي په دې باور دي چې د باور او نه باور رایې په پارلمان کې د بډایه اخیستنه یا رشوت او سیستماتیک فساد لپاره لاره هواره کړې ده. د نه باور علني رایه به د بډایه اخیستلو څخه مخنیوی وکړي او ښایي په دنده کې د پاتې کېدو په برخه کې د «ښو» وزیرانو سره مرسته وکړي.

پارلمان دې ته هڅول چې د پارلماني ګروپونو د جوړولو او د خپل ټولو واکونو څخه برخمن شي

د افغانستان پارلمان تر ډېر حده غیر منسجم دی ځکه چې د ټولټاکنو قوانین سیاسي ګوندونو ته د پارلماني ټولټاکنو لپاره ننګونه نه ده ورکړې ترڅو ټاکنو ته ودرېږي. خو، د دې تشې ډکولو لپاره، د ولسي جرګې د داخلي کړنو اصول، د پارلماني ډلو جوړول روا ګڼي. اما په عمل کې، پارلماني ګروپونه په دې کې پاتې راغلی ترڅو بریالي پارلماني ګروپونه جوړ کړي ځکه د پارلماني ګروپونو د جوړلو لپاره میکانیزم شتون نلري. د ولسي جرګې د داخلي کړنو اصول د ګروپ جوړونې او ساتنې په اړه ناڅرګند دی، او باید د اغیزمنو پارلماني ډلو لپاره واضح او اغیزمن میکانیزمونه پکې شامل شي.

همداراز، پارلمان اړتیا لري چې د خپل ټولو څارنیزو واکونو څخه زیاته ګټه واخلي. که څه هم پارلمان د څار ځینې واکونه په وار وار کارولي دي، اما لازمی پایلې یې نه دي ترلاسه کړې. د بیلګې په توګه، ولسي جرګې لږترلږه د دې حق څخه کار اخیستی ترڅو د ځانګړي کمیسیونونو په جوړولو سره د حکومت کړنو په هکله څېړنه وکړي. د دې حق د اغیزمنی ګټه اخیستنې لپاره، پارلمان باید اړین میکانیزمونه تصویب کړي او د هغو کړنی وڅاری او کمیسیون د ترسره شوی کار راپور د پارلمان عمومي غونډو ته وړاندې کړي.

اجرائیه قوه باید د پارلمان هوکړو او فیصلو درناوی وکړي

دا سمه ده چې پارلمان د لږو اجرااتو په تور مقصر ګڼل کیږي. خو، د اجرائیه قوې نقش باید له پامه ونه غورځول شي. اجرائیه قوه په منظم ډول په پارلماني مسایلو او ان تر دې چې د پارلماني ټولټاکنو په ګډون کارونو کې لاسوهنه کوي. د مقننه او اجرائیه څانګو تر منځ اغیزمنه اړیکه پرته له دې نهاده (بنسټیزه) کیدای نشي تر څوچې اجرائیه قوه د پارلمان د خپلواکۍ او واک د ډب کولو پرځای د پارلمان د پرېکړو درناوی وکړي، او د دیموکراتیک مشروعیت د ښه والي لپاره هڅه وکړي.

# اوله‌ضمیمه: د ولسي جرګې او د مشرانو جرګې کمیسیونونه

## د ولسي جرګې کمیسیونونه

| شمیره | کمیسیونونه | مشر | مرستیال | منشي |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د نړیوالو چارو کمیسیون | زمرک پادخوابي | محمد داود کلکاني | فریده حمیدي |
| ۲ | د کورنیو چارو کمیسیون | انجینر اقبال صافي | عبدالحی اخندزاده | شکیلا هاشمي |
| ۳ | د دفاعي چارو کمیسیون | نثار احمد غوریاني | علي اکبر قاسمي | انجینیر نفیسه عظیمي |
| ۴ | د مالي او بودجې چارو کمیسیون | محمد عظیم محسني | ذکیه سنګین | رقیه نایل |
| ۵ | د مطابقت چارو کمیسیون | عبید الله بارکزی | عبدالجبار | حاجي امیر جان |
| ۶ | د تقنیني چارو کمیسیون | فرهاد عظیمي | عبدالستار خواصي | احمد بهزاد |
| ۷ | د ښځو چارو کمیسیون | فوزیه کوفي | مسعوده کروخی | عزیزه جالیس |
| ۸ | د عدلي او قضايي چارو کمیسیون | سید محمد حسن شریفی | محمد سرور عثماني فراهي | معصومه خاوري |
| ۹ | د ملي اقتصاد کمیسیون | میر رحمان رحماني | منور شاه بهادري | رنګینه کارګر |
| ۱۰ | د ټرانسپورټ او مخابراتو کمیسیون | قیس حسن | محمد فرهاد صدیقي | موسی خان نصرت |
| ۱۱ | د پوهنې او لوړو زده کړو چارو کمیسیون | کمال ناصر اصولي | خلیل الله صاحبزاده | لیلمی حکیمي |
| ۱۲ | د مخدره توکو پر ضد د مبارزې کمیسیون | محمد نعیم لالی | نقیب الله فایق | چمن شاه باوري |
| ۱۳ | د کوچیانو کمیسیون | شیر علي | حبیب الرحمان افغان | حمیده احمدزی |
| ۱۴ | د مصوونیتونو ، حقونو او امتیازونو کمیسیون | احمد الله موحد | | |
| ۱۵ | د طبیعي زیرمو او چاپیریال ساتنې کمیسیون | صفی الله مسلم | ریحانه آزاد | عبدالرحمان شیداني |
| ۱۶ | د مرکزي څارنې کمیسیون | محمد حسین فراموش | داکتر ظهیر سعادت | آصفه شاداب |
| ۱۷ | د روغتیا کمیسیون | مجیب الرحمان | محمد صالح سلجوقي | |

## د مشرانو جرګې کمیسیونونه

| شمیره | کمیسیونونه | مشر | مرستیال | منشي |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د مذهبي، کلتوري، پوهنې، لوړو زده کړو او علمي څېړنو کمیسیون | عبداللطیف نهضت یار | لیلمی احمدي | میر بهادر واصفي |
| ۲ | د نړیوالو چارو کمیسیون | انجینیر احمد جاوید رووف | محمد عثمان رحیمي | فوزیه سعادت |
| ۳ | د ملي اقتصاد، مالي او بودجې، د کلیو پراختیا، کرهنې او مالدارۍ، غیر دولتي مؤسسو، بانکونو او د مالي چارو د تفتیش کمیسیون | محمد عظیم قویاش | صالحه مهرزاد | محمد نادر صفري |
| ۴ | د تقنیني او قضایي چارو (حقوقي کنترول، بشري حقونه، اداري اصلاحات او د فساد پر وړاندې مبارزه) کمیسیون | مولوي غلام محی الدین منصف | الحاج محمد حسن هوتک | عزیزه مصلح |
| ۵ | د معلولینو او عمومي هوساینې (د شهیدانو کورنۍ، طبیعي زیرمو او د ژوند چاپیریال، روغتیا، کار او کارکوونکې، بدنې روزنې او سره صلیب) چارو کمیسیون | نثار احمد حارث | طیبه زاهدي | سارا سرخابي |
| ۶ | د ټرانسپورټ او مخابراتو (ښارونو پراختیا، کور جوړونې، ټرانسپورت، هوایي چلند، ټولنیز ګټې، انرژۍ او اوبو، د کابل ښاروالۍ) چارو کمیسیون | لطف الله بابا | محمد حسن رحیم یار | ګلالۍ اکبري |
| ۷ | شکایاتو ته د رسیدګۍ کمیسیون | محمد حنیف حنفي | ګل احمد اعظمي | محمد قیس وکیلي |
| ۸ | د ولایتي او ولسوالیو د شوراګانو، او د شورا د غړیو د مصوونیتونو او امتیازاتو کمیسیون | قاری میر حاتم تره خیل | حاجي رحمت الله اڅکزی | استاد طیب عطا |
| ۹ | د قبایلو، سرحدونو، مهاجرینو او بیځایه شویو کمیسیون | داکتر محمدا جان | روشن آرا الکوزي | فریده کوچی |
| ۱۰ | د دفاعي او کورني امنیت (سیمه ییز ارګانونه، د مخدره توکیو او مسکراتو پر ضد کمپاین) چارو کمیسیون | محمد هاشم الکوزی | رڼا ترین | فاطمه اکبري |
| ۱۱ | د ښځو چارو او مدني ټولنې کمیسیون | صدیقه بلخي | سهیلا شریفي | نبیلا مصطفی زاده |
| ۱۲ | د معلولینو، شهیدانو کورنیو او مهاجرینو چارو کمیسیون | بي بي حاجي نفیسه سلطاني | عبدالباقي بریال | چمن شاه باوري |

# دوهمه ضمیمه: د زده کړو پر بنسټ د ولسي جرګې ترکیب

سرچینه: ښځې، سوله او امنیت د څېړنې انستیتیوت، «د ښکتني مجلس د کړنې او ښه والی په اړه او د افغانستان د قوانینو سره د هغې د واقع کیدو په اړه یو ارزوونکی راپور، ۲۰۱۰-۲۰۱۳،» (۲۰۱۳)، د لاسرسی لینک http://afghandata.org:۸۰۸۰/jspui/bitstream/azu/۱۷۸۲۸/۱/azu_acku_pamphlet_hq۱۷۳۵_a۸۷۴_۲_۲۰۱۴_w.pdf

**[د لاسرسی نیټه: ۵ جنوري ۲۰۱۸].**

| **زده کړې** | **تعداد** | **سلنه** |
|---|---|---|
| خصوصی زده کړې/مدرسې زده کړې | ۳ | ٪۱,۲ |
| لومړنۍ/د دولسم لاندې | ۳ | ٪۱,۲ |
| د لیسې فارغان/د دوولسم فارغان | ۹۸ | ٪۴۰ |
| د څوارلسم فارغان/ لیسه، دوه کلنۍ مسلکي روزنه | ۱۸ | ٪۷,۲ |
| د لیسانس سند | ۱۰۲ | ٪۴۲ |
| د ماستری سند | ۱۹ | ٪۷,۲ |
| د دوکتورا سند | ۲ | ٪۰,۸ |

# د سرچینو لیکلړ

لډویک اډامیک، د مصر اړیکې له افغانستان سره، ایرانیکا دایرت المعارف VIII/۳ (۱۹۹۸)، د ترلاسه کیدو وړ ده په http://
www.iranicaonline.org/articles/egypt-x

آډیني کترین، د اساسي قانون ډیزاین او سیاسي ټولنیز شتاخت په افغانستان کې، د آسیا سروی ۴۸ (۲۰۰۸).

عادلي،علي‌یاور،دافغانستان‌انتخاباتي‌معما(۵)،دانتخاباتي‌سیستم‌دبدلولولپاره‌ناوخته‌غوښتنه،(مارچ۲۰۱۸)-https://www.afghanistan
/a-late-demand-to-change-the-electoral-system-۵-analysts.org/afghanistan-election-conundrum

عادلي، علي یاور، سلیمه احمدي، لیني لینکي او کټ کلیرک، یو بل شپول د انتخاباتو لپاره په ۲۰۱۲ کال کې: د ریاستي درجه انتخاباتو رد، کابل، د افغانستان د تحلیل او تجزیې دستګاه، ۲۰۱۲.

دافغان‌رهبرانو د پارلماني انکشاف‌ټیم،دنوي‌انتخاباتو‌وعدي، ۱۹، جون۲۰۱۵، -https://www.reuters.com/article/us-afghanistan
parliament/afghan-leader-extends-parliaments-term-promises-election-date-idUSKBN۰OZ۲۰۲۲۰۱۵۰۶۱۹

د افغانستان پارلماني انتخابات ۲۰۱۰، نړیوال دیموکراسي، د مشاهدې موخه، /http://democracyinternational.com
۲۰Report_web.pdf٪۲۰Final٪۲۰EOM٪۲۰۲۰۱۰٪۲۰Afghanistan٪media/DI

په افغانستان کې په موقتي ترتیباتو باندې موافقه او ددایمي حکومتي مرکزونو دوباره جوړول، U.N. DOC. S/۲۰۰۱/۱۱۵۴، دریمه صفحه، http://www.refworld.org/docid/۳f۴۸f۴۷۵۴.html

د دوه کمپاین ټیم ترمنځ موافقه د متحد حکومت د ساختار اړوند، د لاس انجلس ورځپاڼه (سپتمبر۲۱ ۲۰۱۴)، د ترلاسه کیدو وړ دی په
-http://documents.latimes.com/agreement-between-two-campaign-teams-regardingstructure

احمدی، سلیمه، د ولسي جرګې د ۲۰۱۵ کال اجرات، کمه حاضري، انتخاباتی کتنه، (کابل، د افغانستان د تحلیل او تجزیې دستګاه، ۲۰۱۲).

ارجمند، سید امیر، په افغانستان کې د اساسي قانون پرمختګ، یوه مقایسوي او تاریخي اړخ، د ډرک لا کتنه ۵۳، ګڼه ۴ (۲۰۰۵).

وګوره طلوع نیوز، لوې څارنوالۍ د خاص کمیسیون نتیجه باطله اعلان کړه، (۹ جون ۲۰۱۳) په /http://prod.tolonews.com
afghanistan/attorney-general-calls-special-commissions-decision-illegal

برچ ساراح، په اروپایی اتحادیه کې انتخاباتی سیستم او سیاسی انتقال (نیویارک: پلګراف مکمیلیان، ۲۰۰۳).

جیلیکا جیلینا او روح الله سروش، په پروسیجر کې غلطي، څنګه د فساد یوې فضیې ته په پارلمان کې رسیده ګې ونشوه (کابل: افغان تجزیې دستګاه، ۲۰۱۸).

د بون موافقه (۲۰۰۱)، دوهمه ماده اوله فقره.

چودري نافي، او عرفاني محمد، انتخاباتی ریفورم او پارلماني تجربه په افغانستان کې، جامع ریپورټ. (کابل، افغان انستیتوت د ستراتیژیکو مطالعاتو لپاره، ۲۰۱۸).

د افغانستان اساسي قانون، (رسمي جریده، ګڼه۱۲)، (۱۹۲۴) (SY۱۳۴۳).

د افغانستان اساسي قانون، (رسمي جریده، ګڼه ۳۲۰)، (۱۹۲۴) (SY ۱۳۴۳).

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت اساسي قانون، (رسمي جریده، ګڼه ۸۱۸)، ۲۰۰۴ (SY ۱۳۸۲).

دمپسی جهان او او الکساندر جی تیبر، د اساسي قانون په تفسیر باندې د بحران ختمول، د متحده ایالاتو د سولې مرکز. واشنګټن، د متحده آیالاتو د سولې مرکز، ۲۰۰۹. http://www.usip.org/sites/default/files/USIP_۰۳۰۹_۲.PDF

روسالند دیکسن او ټام جنسبرګ، پریکړه په نه پریکړه کول، د اساسي قانون په ډیزاین که فرق، د اساسي قانون نړیوال جورنال ۹،

ګڼه ۳-۴ (۲۰۱۱) ۳۲۳-۲۷۲، ۲۲۴.

جیمز ډوبینز، د طالبانو وروسته: ملت جوړونه په افغانستان کې، پوټومیک کتابونه، ۲۰۰۸

ډپري لوس ، افغانستان، (پریستون: د پرستون پوهنتون مطبع، ۱۹۷۳).

د انتخاباتي فرمان تاییدي د پارلمان تاییدې ته ضرورت نلري، د افغان پژواک نیوز (۱۲ جون ۲۰۱۲). /https://www.pajhwok.com/en/۲۰۱۲/۰۶/۱۲/electoral-reform-decree-doesn%E۲%۸۰%۹۸t-need-parliament-approval%E۲%۸۰%۹۹

ایوانز مارتین ، افغانستان: یو لنډ تاریخ ددې د خلکو او سیاسیونو (نیویارک: هارپر کولنز، ۲۰۰۲).

فلشنبرګ انډریا ، د افغانستان پارلمان په جوړونه کې: جنسیتی تفاهم او د سیاسیونو کړنې (UNIFEM ۲۰۰۹).

د افغانستان د لوړ شوی ساحې اساسي اصول [د افغانستان اساسي قانون] ۱۹۲۳ (SY ۱۳۰۱).

ګالاغر میکل او پاول میچل، د انتخاباتی سیستم سیاست (نیویارک: د اکسفورډ پوهنتون پریس، ۲۰۰۵).

قیزابي اکرم ، د افغانستان د مشرانو جرګه په جوړیدو پیل کوی، افغاني هندو او سنګ: فرهنګ، دین، تاریخ، او خیرونه (۱۲ دسمبر ۲۰۰۵)، په https://afghanhindu.wordpress.com/۲۰۰۵/۱۲/

ګروت رینر، د قوت جلاوالی د اساسی قانون لاندې، (۲۰۰۴).

حبیبي، عبدالحی، په افغانستان کې د اساسي قانون پالونکی غورځنګ، (کابل، ۱۸۴۸)

فرید احمدي او اروني جیاکوډي، د قوت جلاوالی د اساسی قانون لاندې، یوه قضیوې مطالعه، (د ریسرچ او مطالعې برخه: کابل، افغانستان، ۲۰۱۵).

حارث، غیزال، قضایی قوې ته کتنه په افغانستان کې: یوه نیمګړې تجربه، (کابل: افغانستان ریسرچ او مطالعې برخه، ۲۰۰۷).

حارث، غیزال، انتخاباتی شکایاتو ته رسیده ګی، یوه قضیوې مطالعه، (د ریسرچ او مطالعې برخه: کابل، افغانستان، ۲۰۱۵).

هیواد ګران، توماس رتینګ، او کلوډیو فرانکو، د پارلمان او حکومت ترمنځ د دښمنۍ اوږد تاریخ، کابل: د افغانستان د تحلیل دستګاه، ۲۰۰۳.

د ولسي جرګې داخلي قواعد ، له ۹-۱۱ مادو پورې (۲۰۰۷). http://wj.parliament.af/english.aspx

کاکر کاون، توماس کریمر، او همایون روفي، د اجراییه قوې ارزیابي په افغانستان کې، شالید ته کتنه او د راتلونکې لپاره وړاندیزونه (کابل: افغانستان ریسرچ او مطالعې برخه، ۲۰۰۷).

کاکر، محمد حسن، د افغانستان د پاچاهۍ سقوط په ۱۹۷۳ کې، د منځنی ختیځ د مطالعاتو جورنل ۹، ۲ ګڼه (۱۹۷۸).

کمالی، محمد هاشم، د اجراییه قوې او پارلمان ترمنځ اړیکه د اساسي قانون د تفسیر ستونزه او اجرات د کرزي په وخت کې، کابل، حمیده برمکی، د قانون د حاکمیت اداره، ۲۴. http://www.hborl.org.af/wp-content/uploads/۲۰۱۷/۰۹/WP-HBORL-۲۰۱۵-۰۱-Kamali_Relations-between-executive-and-parliament-and-constitutional-Interpretation.pdf.

کمالی، محمد هاشم، د افغانستان اساسي قانون لس کاله وروسته، کوم موضوعات دي؟ (کابل: افغانستان ریسرچ او مطالعې برخه، ۲۰۱۴).

کتزمن، کینت، افغانستان: سیاست، انتخابات او د دولت اجرات، https://fas.org/sgp/crs/row/RS۲۱۹۲۲.pdf

خلیلزاد، زلمی، استازی، له کابل څخه تر سپینه مانۍ پورې، زما سفر د یو شورشی لارې له لارې (نیویارک، مارتینز پریس، ۲۰۱۵).

لرسن، آنا، د افغانستان نوې دیموکراتیک ډلې. (کابل: افغانستان ریسرچ او مطالعې برخه، ۲۰۰۹).

لرسن، آنا، ولسي جرګه په جریان کې، د ۲۰۱۰ کال د انتخاباتو ناثبات (کابل: افغانستان ریسرچ او مطالعې برخه، ۲۰۱۰).

مشعل، مجیب، د افغانستان د پارلمان اصطلاح خپور شو وروسته له کړکیچن ځنډ څخه په انتخاباتو کې، نیویارک تایمز ۲۰۱۵.

world/asia/afghan-parliaments-term-is-extended-after-/۲۰/۰۲/۲۰۱۵/https://www.nytimes.com
squabbles-delay-elections.html

مزیدی، علي آغا، نوروز راجا، د اساسي قانون تخطي په ۱۳ کلنو کې، کابل: د افغانستان د آزادی کور، ۲۰۱۲.

د مشرانو جرګې د داخلي پروسیجر قواعد، ۸ ماده (۲۰۱۷). http://mj.parliament.af/english.aspx

نورس، پیپا، د انتخاباتی سیستم انتخاب: متناسب، اکثریت او مکس سیستم، د نړیوال سیاسی علومو کتنه ۱۸، ۳ ګڼه (۱۹۹۷).

د پارلمان لخوا د ښځو د حقوقو قانون د بیا کتنې لپاره کمیسیون رامنځته کول /http://prod.tolonews.com/afghanistan
parliament-set-commission-review-women-rights-law

شمشاد پسرلی، د قضایي قوې د واک بندول، د قضایی مرور ټوټه شوی سیستم او د اساسي قانون تفسیر په افغانستان کې، میشیګن ایالت د نړیوال حقوقو کتنه ۲۲، ګڼه ۲ (۲۰۱۸).

شمشاد پسرلی، « د افغانستان د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون جوړول، یو تاریخ او تحلیل د لینس همغږۍ او لیبرډولو تیوری له لارې» د واشنګټن پوهنتون، نالیکل شوی خپور شوی PhD ( ۲۰۱۲\).

شمشاد پسرلی، د اساسی قانون تفسیر او کتنه، د اساسي قانون نړیوال ژورنال(۱۹ مارچ ۲۰۱۵). http://www.iconnectblog.com/۲۰۱۵/۰۳/
/constitutional-interpretation-and-constitutional-review-in-afghanistan-is-there-still-a-crisis

د تولیزو رسنیو قانون، ۱۳ ماده، (رسمي جریده ګڼه ۹۸۹) ۲۰۰۹.

ریونالډ اندریو، اوسنی انتخاباتي سیستم، د افغانستان پلټونکی قضیه، د دیموکراسي جورنال ۱۷، ګڼه ۲ (۲۰۰۶).

روبین بارنیت، د افغانستان لپاره د اساسي قانون جوړول، د دیموکراسی جورنال ۱۵ (۲۰۰۵).

روبین بارنیت، غلط انتخاباتي سیستم، نیویارک تایمز، ۱۲ مارچ ۲۰۰۵. https://www.nytimes.com/۲۰۰۵/۰۳/۱۲/
opinion/afghanistan-the-wrong-voting-system.html

رتینګ توماس، پارلمان یو ځل بیا وزیران اخراجوي، (کابل: افغانستان ریسرچ او مطالعې برخه،( ۲۰۱۲).

رتینګ توماس، او AAN ټیم، افغانستان اوس په اساسی قانون ولاړ کابینه لري: ۱۱ وزیران د اعتماد رایه ترلاسه کړه،، https://
www.afghanistan-analysts.org/afghanistan-has-now-a-constitutional-cabinet-eleven-
minister-candidates-received-votes-of-confidence

صدیقی، نیلوفر، په افغانستان کې د سیاسي ډلو او مستقل قضایی ارګان تقویه کول، ۴ ګڼه (۲۰۱۳).

تارزی، امین، اسلام او اساسي قانون غورځنګ په افغانستان کې، ۲۰۱۲.

الکساندر تایر، د اساسي قانون جوړیدنه په افغانستان کې، د نیویارک د حقوقو رشتې کتنه ۵۱، (۲۰۰۷).

وانګ کرل، په افغانستان کې د قانون حاکمیت: د محلي مسولیت لپاره اساسي کاری پلان جوړول، د هاروړډ د نړیوال حقوقو جورنل ۵۵ (۲۰۱۴).

وینبام، ماروین جي، "افغانستان: غیرګوندي پارلماني دیموکراسي،" د پرمختیایې ساحو ۷ ژورنال، ګڼه ۱. (۱۹۷۲).

وینبام، ماروین جي، د یو ډیر موثر پارلمان پر لور. (کابل: افغانستان ریسرچ او مطالعې برخه،( ۲۰۱۲).

وایلډ انډریو، یو تقسیم شوی کور؟، د ۲۰۱۵ کال د انتخاباتو تحلیل، (کابل: افغانستان ریسرچ او مطالعې برخه،( ۲۰۰۵).

وردس ورت، آنا، د ګټو موضوع: د موجودیت سیاست او جنډر د افغانستان په ولسي جرګه کې، کابل، افغانستان.

د سولې، ښځو او ریسرچ پلټنې مرکز، ۲۰۱۰-۱۰۱۳. http://afghandata.org:۸۰۸۰/azu/bitstream/jspui/۱/۱۷۸۲۸/
w.pdf_۲۰۱۴_a۸۷۴_۲_azu_acku_pamphlet_hq۱۷۳۵

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو يو دوامداره لوستونکي ياست، د AREU ليکچر يا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون يې کاروئ، يا يوازې په دې وروستيو کې له دغه ادارې سره بلد شوي ياست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پايلو د شريکولو طريقې و ارزوو. د نظرونو شريکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ايميل کول دي: areu@areu.org.af

يا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته يې ويلی شئ، خو په ممکنه ډول يو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړيکه نيسئ (يعنې د خپرونو، غونډو يا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بريښنايي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهيرونو يا پايلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې يا موضوع ګانې چې تاسو يې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې يا فعاليتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې يا لېوالتيا ډګر، دنده يا څېړنه، او دغه راز موقعيت؟

# د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداری نوی خپرونی

ټولې خپرونې د ډونلوډ لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسي وړ دي، او ډېرې ئې د هارډ کاپي(چاپي بڼه) په ډول په وړيا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نېټه | د خپرونې نوم | ليکونکی (مولف) | په دري ژبه | په پښتو ژبه | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۱۳۹۷ لړم | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه | ميرويس ايوبي او ډاکټر هارون رحيمي | √ | √ | اساسي قانون | د پاليسي نوټ |
| د ۱۳۹۷ مرغومی | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه | ميرويس ايوبي او ډاکټر هارون رحيمي | √ | √ | اساسي قانون | تحليلي څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهيسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملي کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی ماليار | √ | √ | اساسي قانون | د پاليسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهيسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملي کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی ماليار | √ | √ | اساسي قانون | تحليلي څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د کوچيتوب، د کوچيانو او د سيمې د اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مديريت کې د افغانستان د دولت رول | ډاکټر انتونيو ګيستوزی | √ | √ | د کوچيانو او د سيمې د اوسيدونکو ترمنځ ښخړې | تحليلي څېړنه |
| د ۲۰۱۸ اپريل | نور معياري پروګرامونه بس دي: په ماتيدونکو شرايطو کې اقتصادي پرمختګ | SLRC | | | تولنيز ملاتړ | لنډه ليکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | يو نقشه ايزه څېړنه: په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنسټيز مکانيزمونه | سوپروا نارا سيمهايا | | | ټولنيز ملاتړ | موضوعی ليکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | يو نقشه ايزه څېړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنسټيز مکانيزمونه | ولی محمد کنډيوال | √ | √ | ټولنيز ملاتړ | د پاليسي يادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خونديتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته بيا کتنه | يما ترابي | √ | √ | ټولنيز ملاتړ | د پاليسي يادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د ميشتو کوچيانو د شخړو ډولونه | انتونيو ګيستوزي | √ | √ | د طبيعي سرچينې مديريت | موضوعی ليکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتيا يا علامې؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو ترياکو اقتصاد | ويليام ای. بايرډ | | | د طبيعي سرچينی مديريت | د پاليسي يادښت |
| د ۲۰۱۷ دسمبر | په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د ستونزې د غبرګون تحليل | چونا آر. ايچاويز، قيوم سروش | | | ټولنيز ملاتړ | د پاليسي يادښت |
| د ۲۰۱۷ اکتوبر | په واقعي توګه بيساري: په هلمند کې د خوړو زون څنګه په ولايتونو کې د ترياکو د توليد د ډېروالي ملاتړ وکړ | ډيويډ منسفيلډ | √ | √ | د طبيعي سرچينی مديريت | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال اګست | په افغانستان کې قضايي بيا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | موضوعی څېړنه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۷ کال آګست | په افغانستان کې اجرایي بیا کتنه | کاوون کاکړ | √ | √ | اساسي قانون | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | ښځې د افغانستان په کرنه کې | لینا ګانیش | | | جنسیت | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د اوبو په برخه کې د سموني اغیزې | اتل احمدزی | | | حکومتولي | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | په افغانستان کې ښاري حکومتولۍ | دیتلیف کمیر | | | حکومتولي | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د دولت د ادارو دندو ته بیا کتنه | اکسل کویتز | | | حکومتولی | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ جولای | په افغانستان کې د کوچیانو –بزګرانو شخړې | انتونیو جیو ستوزي | | | د طبیعي سرچینې مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۷ کال جون | په افغانستان کې د حکومتولی د ارزونی چوکاټ (LGAF) | AREU | | | حکومتولی | ریپوټ |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معیشت تګ کړنې: د هرات له درې کلیو څخه بېلګې | دانیل هت، ادم پېن او احسان الله غفوري | | | ټولنیزه ساتنه | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوري | په افغانستان کې د معیشت تګ کړنې: د «وروسته پرمختیا» په وخت کې ژوند | جیولیا مینویا او ادم پېن | | | ټولنیزه ساتنه | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معیشت تګ ګړنې: د کندهار په ولایت کې چوپ تاوتریخوالی | دانیل هوټ، ادم پېن او احسان الله غفوری | | | ټولنیزه ساتنه | کاری لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | زعفران: د تولید ټولینزې اړیکې | جیولیا مینویا او ادم پېن | | | د طبیعي سرچینو مدیریت | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۲ اکتوبر | د خوځښت وخت: په افغانستان کې د کوکنارو تریاکو، کښت ته د پرمختیائي غبرګون را مینځ ته کول | دیوید منسفیلد، پاول فیشستین او OSDR | | | د طبیعي سرچینې مدیریت | موضوعي لیکنه |
| د ۲۰۱۲ آګست | په افغانستان کې د جنسیت په اړه د ځواب ورکوونکې بودجې جوړول: کار د پرمختګ په حال کې ده | نیلول برتش او سلیمان هدایت | √ | √ | د ملکي خدمتونو سمونه او حاکمیت | موضوعي لیکنه |
| د ۲۰۱۲ آګست | په افغانستان کې د ملکي خدمتونو سمون: ملکي خدمتونو د سکتور وندې او دندې | سید حشمت الله هاشمي او ګیرهارد لاوت | √ | √ | د ملکي خدمتونو سمونه او حکومتولی | موضوعي لیکنه |
| د ۲۰۱۲ جولای | په افغانستان کې د کلیو د شرایطو د شننې کارول: مېتوودونه او پراخ دلیلونه | ادم پېن | | | پاینبت لرونکې معیشیت | کاری لیکنه |

ثیړنې د بنه
افغانستان
لپاره
AREU

د افغانستان د ثیړنې او ارزونې اداری ټولی
خپرونی ددغی اداری له کورپاڼی (.www.areu
org.af) څخه تر لاسه کولای شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ
شوی کاپیانې هم موجودی دی.

د افغانستان د ثیړنې او ارزونې اداره
لسمه ناحیه ، لومړی سړک، ښار نو ،
کابل، افغانستان
تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰) ۹۳+
publications@areu.org.af
ویب پاڼه: www.areu.org.af

ISBN 978-9936-641-27-3
9 789936 641273